

ښاغلی قیام‌الدین خان « خادم »
د «روهی ګاونه» مؤلف

د پښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ٧١ )

# روهي ګلونه

مؤلف

قيام الدين « خادم »

د پښتو ټولنې د دائرة المعارف د ترجمې د څانګې مدير

١٣٢٥

د کابل

عمومي مطبعه .

# زېرى

دبهار گـلو نه شو يدى كه ته دى ؟ بلبلان پسى ناري وهى رحمانه !

«رحمان»

* * *

دسونډ مونډ سپلى اخرى كيږي پهبلبلو زېرى وكړه : بيا بهاردى

«خوشحال»

* * *

د ګلونو قدر چا زده ؟

دبـلـبل يا دبو را زده

«خوشحال»

تقریظ:

# روهی ګلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړ یدلی
سترګی وخوره چه به دا ننداره نه کا
( خوشحال )

دا ښکلی ګلونه چه د ښاغلی خادم په زیار راغونډ شوی دی او د پښتو ادب مینانو ته د سوغات په توګه وړاندی کېږی ، هغه ګلونه دی چه پښتنو د پخوا نیو شاعرانو د زړه په وینو روزلی شوی دی .
خنګه چه تراوسه پوری د پښتو ژبی په ادبیاتو کښی داسی یو جامع منتخبات نه و ، او ښاغلی خادم (چه د پښتو یو پیاوړی ادیب دی ) په دې کارګوتی پوری کړی اوبریالی شوی دی ، نو پښتو ټولنه داخپله وظیفه ګڼی چه ددی فاضل د ادستاینلو وړ خدمت وستاینی اوپه دې انتخاب ده ته تبریك ووایی اوهم په دې ګلونوسره دهغو پرد یسانو روح ښاد اوياد کړی چه دوی به د خوازه وطن په بیلتون کښی ویل :

قاصدان له روهه نه راځی مدت شو
سلا م باد را رسوی منت ئې تم دی

او له خدایه غواړی چه داسی ډېر آثار پښتنوته وړاند ی کړی .

( عبد الرؤف « بینوا » )
دپښتو ټولنی عمومی مدیر

# تهديه

زه دا درنګ رنګ تا زه ګلونو دسته هغه چانه په مخکښې ږدم چه تر هر چا اوتر څه دروه په ګلانو مين دی !

دشا هانو ور کړه لعلو جواهر وی          دادب دخاوندانو ؛ دزړه وينی

« خادم »

بسم الله الرحمن الرحیم

داوې ښتن حمدا وثنا وایو . او دده په هغه ئاستاځې چه ترټولو غوره دی ؛ او په آل اولادئی، درود لېږو او ددې شکر کوو چه په لنډه موده کښې مونږ دخپل ملت (پښتو اوپښتو ټولنی) په خدمت کښې «چه زمونږ دمشرانو او خصوصاً د ګران ټولواك اعلیحضرت محمد ظاهرشاه رضامندی هم په دې کښې ده »
څومره چه کېدی شوه دهغې نه ډېر کامیاب شو. یعنی په کوم وخت کښې دپښتو خدمتګارانو زیات آثارو لیکل؛ چه لږله دغو څخه چاپ شوی دی ؛ اوډېر لاپاتې دی په فرصت کښې به چاپ ېږی او دذوق خاوندانو ته به وړاندی کېږی .

یوله دغو آثارو څخه چه دپښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیالیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهی ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب دډېرو پخوانو هغو شاعرانو دا شعارو انتخاب دی ، چه نن یې آثار ډېر لږ کېږی ، دا اشعار او ددغو شعراؤ دیوانونه ماپه ډېر کوښښ پیدا کړیدی . اوپه ډېر زحمت سره مې تری دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول اوترتیب کښې دنورو ژبو دیوې ، انتخابا توته هم نده ورته .

او داله دې کبله چه دپښتو شعراو ادب ځانته روح او ځانته لاری لری . مادغه روح او دغه اسلوب په نظر کښې نیولی دی ؛ اوهغسې مې د کتاب دترتیب نقشه جوړه کړېده . اوبیا مې دا کتاب لیکلی دی ددې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره داده چه دتهجی تورو یادردیف او قافیې په لحاظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع اومعنی ته زیات اهمیت ورکړی شوی دی ، نوهر څومره چه دا مجموعه یوه ادبی مجموعه ده ؛ او دا دادب اوشعر دنزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده ؛ هغومره دژوند او زندګی داسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره دپخوانو کلاسیکی شعراؤ شعرپه شپږو بابونو وېشل شویدی چه په هرباب کښې فصلونه دی ؛ اوپه فصلونو کښې هم ځانته ځانته عنوانونه دی . او دهر عنوان لاندی د مختلفو شاعرانو اشعار لیکلی شویدی . امید دی چه دقدر دانانو په نزد به زما دا خواری ځای ونیسی؛ اوپه درنه سترګه به ورته وګوری !

کابل - تسند وز سازی - قیام الدین خادم

# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه ! — ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کښې — ټوله ژوی په ځاری کښې
د لته دی د غرو لمنی — زموږ کږدی دی پکښې پلنی
داو ګړی ډېر کړی خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

دلته لږ زموږ اور بل دی — وړ کورګی دی، وړ بورجل دی
مینه ستا کښې مونږ مېشته یو — د بل چا په مله تله نه یو
هسك او ځمکه نغښته ستا ده — د مهر و وده له تا ده
دا پالنه ستا ده خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

« بیټ بابا »

❀ ❀ ❀

پر لویو غرو هم په دښتو کښې — په لوی سهار په نیمو شپو کښې
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښې — یاد وېر ژلیو په شپېلو کښې
ټول ستا دیاد ناري سوري دي!
دستا د مینې ننداري دی !

جنډی زرغون که په بیدیا دی — دبر بڼ خواته په خندا دی
ترنك چه خړدی په ژړا دی — دا ټول اغېز د مینې ستا دی
ټوله ښکل دی ستا له لاسه
ای دپا سوالو پا سه پا سه !

که نمر روښانه مخ یې سپین دی — یا دسپوږمۍ تندی ورین دی
که غردی ښکلی پر تمین دی — لکه هنداره مخ یې سپین دی
ستا دښکلا د ا پلو شه ده
دا یې یو سپکه ننداره ده

---

لغات : هسك آسمان . مېشته : ډېره . ځاری : عجز . جنډی : ګل . ترنك : دیورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونیږی — دړونه وږمې پکښې چلیږی
بوراوې شا وخوا ګرځیږی — سترګې لیدو ته یې هېښیږی
لویه خاونده دا ټوله ته یې
تل د نړۍ په ښکلیدو یې

خاونده! ښکلی ستا جمال دی — ښکاره یې لوریه لور کمال دی
که ورځ که شپه که پېړی کال دی — ستا دقدرت کمکی مثال دی
ستا د لوروونو یوه رڼا ده
دلته چه جوړه تماشا ده

زړه مې دا ستا دمینې کور دی — سوی دعشق په سوځندا ور دی
رب یې وتاته په هر لور دی — بیله دې هېڅ دی ورک یې پلور دی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نوی دغه نور بربا د دی

په غرو کښې ستا دعشق شپیلکی دی — ددې نړۍ په عشق سمی دی
که غټ که ووړ که پنډ نری دی — ستا د جمال بخري هر شی دی
چه پر دنیا مې سترګې پرې شوې
ستا دجمال په ننداری شوې

نه هسک نه مځکه وه تورتم ؤ — تیاره خپره وه ټول عدم ؤ
نه دا ابلیس نه نی آدم ؤ — ستا د جمال سو چه پرتم ؤ
چه شو ښکاره ښکلی دنیا شوه
دپنځ پر لوری یې رڼا شوه

زه چه څرګند پر دې دنیا شوم — د ښکلی مخ په تماشا شوم
ستا پرجمال باندی شیدا شوم — له خپلی ستنی را جلا شوم
په ژړا ژړام چه بېلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وګړیو، ولې «متی» ژاړی — سوړې یې اوری غاړې غاړی
څه غواړی، څه وایی، څه باړی — خپل تون او کورو کلی غواړی
چونړی چه بېل شی نیمه خواشی
تل یې دبڼ په لور ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

---

لغات ـ هېښ : حیران . تون : ځای . چونړی : بلبل . بڼ : باغ

الهی ! د محبت سو زو گداز را
تن پروربلبل دي عيش كاندي پر گلو
كه مي نزمويی په وياړ دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی وچا ته نه كا
چه مي نوی سر كوزی چاته بي ښكليو
اضطرا ب د حرص مي كړي له زړه گی اري
كه مي نه فاشوي سرزيد و عمر ته
خو به گورم د قيامت و ورځو شپو ته

چه خپل بر گك په آب د چرخ نكړم سر سبز
چه مدام وی په چشمه د آفتا ب ولی
چه كباب يي په گرمی ، زما ځيگر شي

چه بلبل يي و ديدن ته انتظار كا
كه مي نه محتاجوي د صبا باد ته
سرخرو يي زما نصيب لكه لاله كړه

په اوښو كښي يي د كاملی گوټ پيدا كړ
په سجود يي مځكي سردی لگولی

الله مي رب د ی زه يي مربوب يم
غرق په اوښو كښي كله اوبه وينی

د د ه په حكم با لا پستی شی
نه تل بهار و ی نه تل خزان و ی

چه زما په چمن راشي گستاخي كا
چه آزاد ه د منكر تر سره پربوځی
چه كشور د افغا نا نو معطر شي
الهي ! د خپل حبيب له بر كته

په دااور كښي دستی(۱) سمند رسازرا
پروانه لره په اور ز ما گداز را
می د عيش په ميخانه كښي د مجازرا
د هغو بيمارو ستر گو نازو نيا ز را
له دولت د عشقه هسی كبرو ناز را
قنا عت قوی لنگر دد ې جها ز را
خپل زانو لكه نر گس محرم راز را
دا انجام په دم قدم كښي د آغاز را
«عبدالمجيد مهمند»

د همت علو پشان د كهكشا ن را
د سحرپشان درست عمرسپين دامان را
دلاله غوندی په جام مئی جوشان را
كاظم خان «شيدا »

تن و ماوته گلشن د هغه با غ را
بوی د يار د تورو زلفو په دماغ را
پرسينه له محبته هسی دا غ را
«شمس الدين كاكړ»

ده ور كړی پكښي اورله مكان دی
هم يي زوړندپه ركوع سره آسمان دی
«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده يم كه خوب نا خوب يم
نعمت يي نه وينم په نعمت ډوب يم
«عبدالقادر خټك»

مستی خما ر شی خما ر مستی شی
هستی نيستی لر ی ، نيستی هستی شی
«خوشحال خټك»

د شبنم په څير يي عمربوزمان كړي !
د فلك په څيرمي توره د زبان كړی !
دهر بيت مصر ع مي زلفي د خوبانكړی !
دا : ساده انشار نگينه درحمان كړي !
«عبدالرحمن مهمند»

---

(۱) په اكثرونسخو كښي د (ستی) پځای (سهی) ليكلی شويدی ؛ خومونږ يي په معنی نيوهيږو «خادم»

روهي گلونه (۵۲۵) ب سردار محمد : ج سراج الدين : ر محمد الامين : ن محمد نعيم : ه اجرائيه پښتو ټولنه ليل ۱۸ : ۸-۲۰-۴-ع

الهی د مینې درد را
کرم دل آهو نه سردرا

خلاص کړه ما له بې دردئ
له دې هسې د لسر دی

زړه په شان د غنچې را کړه
آتشی زما مینا کړه

«کاظم خان شیدا»

پر هر چا چه حق یاد نشی ناتمام دی
پر کاغذ اول دده پښا م قلم ږده

«دوات لوانی»

## ب : داستاخې په مینه

که رنبا ده پیروی د محمد ده
گنه نشته په جهان بله رنبا

«عبدالرحمن مهمند»

ژندي ستر گې چه دزړه مې پرې بیناشوې
یم پیدا ېن د محمد آخر زمان خوبن

«عبدالعظیم رانیزی»

توره تاریکی توله لدې جهانه لاړه
نوردپاك رسول چه په جهان کښې شه پیدا

«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښې مذهب د حنیفه کړ
چه مختارؤخود یه ستورو کښې مهتاب

«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبیب له بر کته
شوم لکه ذره هسې یه نمرسره اظهار

«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکی توله له دې جهانه لاړه
نوردپاك رسول چه په جهان کښې شو پیدا

«میانعیم متی زی»

پسه زر گونو انبیا تردنیا تېر شو
محمد غوندې بل نه ؤ پیغمبر هیڅ

«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسې بت گرځم دا زیړرخسار له خلقو
لکه زرچه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی

راحت نه دی بې زحمته چا موندلی
کوم طبیب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی

زه هر گوره خپل صنم پورې شرمیږم
برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی

وآسمان ته لاس د عقل نه رسیږی
داخو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی

«عبدالرحمان مهمند»

که د سرښندل دشوار په ما و تا دی    دا په عشق کښې سهل کار دي دشوار ندی
اندېښنه سړی بیدار کاندي له خوبه    کم اندیشه که بیدار دی بیدار ندی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کار دي د سروشو نه و شیرینۍ وی    د خپل ځان په وینو سو رانکه انار شه
درحمان په عاشقۍ کښې سترګې وشوي    خوك چه وایي عاشق پرونډ دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نفس له خاصیته منزه دی    کاردستر ګو به خوك څرنګ پدهانکا
« عبدالرحمان مهمند »

څه حکمت دیار په مینه کښې رب کېښود    چه عاشق اره همدرد او همدوا شوه
داباران نه دی چه اوری له آسمانه    د مږ غانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی زرداغونه جوړ شی    چه دیار له داغه آه کاهغه ګرم دی
«خوشحال ختك»

زه تر عشق جار پېژم : تر هغو چه عاشقان دی    واړه عشق یکار دی حقیقت دی که مجاز دی
رایشی له کومه، ځای په خوو کا په زړه کښې    هیڅ پري نه پوهیږم عشق یو څه سوز و ګداز دی
هی دخدای دیاره تفحص رایسی مکړه    پلار ته وایه نشي عشق یو هسی مخفی راز دی
« خوشحال ختك »

عاشقان دعشق له کاره انکار نه کا    فاسقان به په خپل زړه کښې اری غلا
« خوشحال ختك »

ځینې هوس کامینه په باغ لری    خوك مې پسر سته حب دا یاغ لری
داد واړه ګرو هغه بوالهوسان دی    عاشقان مینه د زړه په داغ لری
« عبدالقادر ختك »

لیونی غوندی دعشق په کارو بار کښې    د خپل ځان په سودو زیان نه یم هرګز
« عبدالحمید مهمند »

که هر څو مې تندتېزه توسن دعقل    عاقبت شو پسه دنبال د مینی پا تسی
« میا نعیم متی زی »

دعشق یوسبق کافی دی    نور ددرست جهان دفتر هیڅ
« صدرخان ختك »

عاشق ګرم او شوقی وی    زاهد سوړ بی حمیته
چه دعشق په لاره درو مي    خالی ندی له تهمته
« دولت لوانی »

خام خاطر مې مشوش، په هجران کښې
چه تمام دعشق په اور وسو متین شو
«دولت لوانی»

معرفت ځنې پیدا شو
عشق د عقل پلارو مور دی
«مرزا خان انصاری»

دغه عقل چه په عشق با ندې شیدا شو
دعرب په مینه گوره چه عجم مری
«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مسخ د کل عالم دی
ودریاب ته ځی که سیل له هر جا پاڅی
« مرزا حنان»

په هرداغ مې دخپل زړه هسې باوردی
چه په مرگ به راته شمع شی په گور کښ
« عبدالحمید مهمند»

که شهید نکړی خپل ځان دعشق په توره
نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی
« عبدالعظیم را نیزی »

دسیماب په شان په لاس کښې نیوی نه شم
آئینی غو ندی هر و لی هر نا و لی
عشق را هسی کړ م هم نرم هم لطیف
شی مهمان ځما په کور کښې بی تکلیف
« شمس الدین کاکړ »

هر یو زړه چه شی پیدا غه یکار نه دی
چه بی مهره شی برات هغه با طل دی
« مرزا حنان »

ته دعشق په لذتو نو خبر نه شوې
هغه چاری چه دعشق په جذبه کېږی
په سراب دځان مشغول کړ ، له دریابه
کله کېږی په لښکرو په افواج
« خوا جه محمد بنگښ »

جریده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه
بی ر فیقه ، بی پناه ځم ، پناه نه لرم بی عشقه
هرساعت چه بیلتون یاد کړم په خپردادو فریاد کړم
څکړم چاو ته فریاد کړم ، نیکخو اه نه لرم بی عشقه
مدام غوښې د زړه خورمه ، دزړه وینی به تل څښمه
څکړم څکړم چرته ځمه ، همراه نه لرم بی عشقه
معتقد یدا خپل رزق یم ، مبرا په زړه له فسق یم
واړه سرتر پا په عشق یم ، یو گاه نه لرم بی عشقه
دافقیر دولت نفی یم ، و گناه ته هوسی هم
خدای مې بیامرزه عاصی یم ، گناه نه لرم بې عشقه
« دولت لوانی »

عشق دی دا که یو فساد دی نه پوهېږم
به جهان کښې چه د اشورو شر پیداشه
پیابه روغ دعاشقی له رنځه نشی
په هر تن کښې چه د غه اثر پیدا شه
« عبدالرحمان مهمند »

باد شا هانو که قصرو نه کړه آباد     ماد عشق عمارتونه کړه آ باد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسې یادېږي     لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسې پیر استاددی     چه به نه دی بل دا هسې پیر استا د
دغه واړه کرامت د عاشقی د ی     چه څوك غوث کاندی، څوك قطب څوك اوتاد

« عبدالرحمان مهمند »

درحمان شراب له عشقه     نه انګور (۲) نه له عنبه

« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی     چه یه اور کښې یې وطن وی څه به خوب کا

« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کو کل ستر ګی په نم کښې     عشق راو ښود بحروبر په خپل حرم کښې

« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنګه ژوندون دی نه پوهیږم     خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهیږم
د ښنګ او دبلبل ترمینځ حیران یم     مخ دي اوردی که ګلګون دی نه پوهیږم
عشق په هسې رنګ مقام باندی قائم کړم     چه وصال دی که بیلتون دی نه پوهیږم
درحمان څهره یې زیړه زعفرانی کړه     خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهیږم

« عبدالرحمان مهمند »

خود څر ګندوی لکه صبح په جهان کښې     هر ګوهر وان چه په یاری، کښې دریده شی
بی مطلوبه یې هیڅ فهم په چا نه وی     هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی     هر کلام چه له رحما نه شنیده شی

« عبدالرحمان مهمند »

سر اومال مې شو تالا په تور د عشق     لامې ندی لاړ له سره شور د عشق

« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقی کړه     یو هېڅ لی په تدبیر وم د د بیر کج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې     د دغه طبیب دارو لری تا ثیر کج
راهبران دعقل واړه رهزنا ن د ی     لېز د عشق له لاری مه بیا په بهر کج

« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښې ناست ولاړ زانګم له غمه     مینی مخ راته د ځمکی ګهواره کړ

« عبدالحمید مهمند »

نه چه ما له عشقه اړ وی نا صحه !     دا عبث دی پول د سحر په دریا زدی

« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشی     په دې ناوې نه جوړېږی پسول د چا

« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) دانګور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی،
د جمله ؤ مخلوقا تو پلا ر دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته
تر همه کارو نو غوره کار دی دا
« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سر گردان په جهان نه وی
یاعاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ز غوري سرومال په عاشقی کښې
عاشقی دا هسی کله ده و یړ یا
چه یی کسب عاشقی ده د دلبرو
نظر نه کاندی په کسب د کیمیا
« عبدالرحمان مهمند »

بېدردان دعشق له درده خبر نه شول
براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم
« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که او ر دی دا
یه اور سوزم په رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راځخه نه ځی
واقعی د تورو ستر گو تور دیٔ دا
چه یی زه له بله غمه په امان کړم
دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه می ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې
لیونی د مجنون کشر و رور دی دا
« عبدالحمید مهمند »

باد ښکلیو دپا ولیو شرنگها ر دی
یا د عشق د لیونیو د ږ نځیر
« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق پهلاره گران دی
دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك
« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یی رهبر پیر کامل دی
عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا
« مطیع‌الله پیرخیل »

آرام زړه پهعشق کښې نشته سرله سره
خوب محال په هغه ځکه چه توده شی
« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینې نه وی باندې شو ی
هغه زړونه گویا کانړی د بیدیا دی
« ملا جمعه »

# غزلیات

که څوک یار په جهان غواړی یار دی دا
یار دی دا که دجهان سنګار دی دا
خیال دز افوبی زما لـه زړه چا پیـر شو
که تر ګنجه چا پیر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدا ی له عشقه پیـدا کـړی
د جملو ؤ مخلو قا تـو پـلا ر دی دا
تر عشق غـو ره بل څه کار په دنیا نشتـه
تر همه کـا رونو غـو ره کـار دی دا
بل بـلبـل بـه د ګـل نـوم ا خستـی نـه ؤ
که خبروی چه ګـل نه دی خار دی دا
بیـا را تلـه و دی جهان ته بل وار نشتـه
بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمـر دي و ګـو ری چـه څـه دی
که څوک شمار کـاندی دعمر شمار دی دا
د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره
ستا په عشق کښې هسی خوار زار دی دا
« عبدالرحمن مهمند »

چـه یـې و لیـد و ستـا حسـن بـې حسا ب
له دي قصد ه تـاو پیدا شو د آفتـاب
په آرزو یې د نرګس سترګی څلور شو ې
غنچه سره دزړه په وینو شوه غرقاب
ستا په غم می دواړه سترګي سري ناغی شوي
که خیمی د ی سیاه پوشي سره طناب
که دي زلفي په مخ پیچ وتاب شوي شایی
وبښته څه طا قت لر ی د اور له تاب
در حمان بخت بـه هلـه له خوبـه ویـښ شی
که سترګي ورته پورته کړي له خواب
« عبدالرحمن مهمند »

کـه سـاقی تـلخـه بـا ده در یا ی شور کـا
د فلـك په جام به مست کله مخمور کـا
آرا ستـه وی تل محـفل د خنـد ه ر و یـو
زمانه به د ګـل جام څر نګې نسکور کـا
چه په لاس کښي یې تل چوب لـکه شانه وی
بی افسونه به نیو ل د تور منګور کـا
د لتـنګی کـړم لـکـه ګـل یـه خنـدا ور کـه
کـه می بل دصبا باد په خونه اور کـا
چه په سر یې سبز آسمان زری دستار زدی
عا قبت یې لـکه شمع بیـا سر تور کـا
لـکه ګـل کـړی ګـران بـار تـر دا منـتی
باد دي څه لـکه غبار په کتف سور کـا
« کـاظم خان شیدا »

کـه ښکـا ره زما خا طر د لاله داغ کـا
په ژړا به سترګي سري د ګـلو باغ کـا
د حباب غونـد ي مي دك پـه آه سـرد کړ
څوك زما په ګور به بل څر نګ چراغ کـا
افرو ختـه یې و ی محـفل پـه شان دشمـع
چه سوخته دبل په کـار کښي خپل دماغ کـا
د ګر دش نـو بت یـې هـیڅ په ما د ا نشی
که سا قی د ز ماني ، فلـك ا یاغ کـا
ز نګـه که هر کـله «شیدا» دتیغ جوهر خوری
دمګس په بال به څر نـګ استفراغ کـا
« کـاظم خان شیدا »

چـه مـی ولیـد ه ا بـرو یـه مخ دیار کـج
له تعظیـمه ور ته زه شوم په تـلوار کج
کنږې ورو ځی کوږ با نه کنږې یی ز لفی
منا سب دی له کنږو سره رفتـار کـج
مار په دا سبب مـد ام کـمر فتـا ری کـا
چه یی ولید ه دا ستا د زلفـو مار کج

هسې زړا خلې اتر له همنشینه
چه معمار ئې اول خښته کېږدي کېنبېږ دی
ژړبه وا چوی یار دار چار پای به څا کېښ
هیڅ جواب د پیغام نه را ځي دیار ه

خوږ ژوندون راپورې هسې کړ هجران تریخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد وړی
په وصلت کېښ له رقیبه نه خلاصیږم
مې حرام دی په مجلس کېښ چه یار نه دی
چه می نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست
که فرهاد ته شیرین غم د شیرینی دی

چه مې یار ولید په سینه د اغیار ګډ
د غه حق د بلبلا نو په جا نب دی
په امید د زلفو و نښتم په دام کېښ
ددیدن په ګدائی کېښې مې ننګ نه شی
د وفا د ګلو پیا نې پکښې نشته
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم

دا تور خط را غی په مخ د ګلعذار
سپین رخسار یې په تورخط کېښي هسې پټ شو
زما نه به بی سپین مخ دا هسې تور کا
هر کارساز یې په خپل کار کېښې درمانده دی

او بو د فراق دستر ګو خواب را څخه یووړ
رنګ یې په رنګ ژړا کړم لکه نی دیار لغمه
نه مې را برسېره کړ ګوهر دعشق له بحره
تل چه یې هوس کاندی سره لاس وخونریزیءته
یو طرف ساقی شو بل طرف شو جام دمیو
وا چولم یار د جدائی په سره دیګ کېښې
هیڅ یې نظرونه کړ زما و خاکساریءته
سینه خوله دیار چه په خواست زه شمس الدین غواړم

په سبب د کنړې پښې شیسم بازار کېچ
بیا تر سره پوری ځی هغه دیوار کېچ
که یې یو ځله خوك وځکوی مهار کېچ
پسی زما شوه تورلیمه په انتظار کېچ
« شمس الدین کاکړ »

لکه حال وی پربند یانور زندان تریخ
پرسبزه باندې نا وخته وی باران تریخ
پرموسم د ګل اوقات شی دباغبان تریخ
بی له ګله وبلبل ته شی بوستان تریخ
لاتر او سه مې په هغه دی دهان تریخ
داستا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ
« مرزا حنان »

له غیرته مې لیمه شوه په خو نبار ګډ
خدای دنه کا مینګیر کې په لاله زار ګډ
رو هیلی وم ساده دل په هندو یار ګډ
در ویز ګرېم د بتا نو په بازار ګډ
کاشکی نه وی زه ددهر په ګلذار ګډ
چه په ګلی په کوڅه شوم د خپل یار ګډ
« عبدالرحمن مهمند »

که غالب شوه په کشمیر باندې کفار
لکه پته چه معنی وی په اشعار
چه غرض اری د بل په کا رو بار
او به ګله وداې شی ګرځ دخپل رخسار
« شمس الدین کاکړ »

کور زما دصبر دې سیلاب را څخه یووړ
زړه مې په یوه نفس احباب را څخه یووړ
زیاتې یې لاارام لکه حباب را څخه یووړ
سرې د هغو ستر ګو قصاب را څخه یووړ
عقل یې له میانه په شراب را څخه یووړ
روح یې زمادځان لکه ګلاب را څخه یووړ
زړه مې سیا چشمو په شتاب را څخه یووړ
خواست دهرې ورځې دمخ آب را څخه یووړ
« شمس الدین کاکړ »

زما زړه گوره چا يووړ — په دوه زلفو ليلي يووړ
ځکه دی شوبې ارامه — چه د زلفو بلا يووړ
چه په خپل قوت غره وم — زړه قوت په تالا يووړ
دا کتاب زما دستر گو — سيلا بو د ژړا يووړ
څه بازار چه مي د زړه ؤ — حسن ستا حسن په غلا يووړ
حسن باج ؤ چا ورنه کړ — ده جهان په يغما يووړ
ما ويل چه مينه نه کړم — زړه بېپروا که شهيا يووړ
قراري د زړه مي نشته — بيقرار زلفو ستا يووړ
دا تمام عالم ښادي کا — احمد غم دا شنا يووړ

«احمدشاه ابدالي»

ستا د زلفو خيال چه زه افگار ساتم همیش — همې په سينه کښې گويا مار ساتم همیش
زلفې دي سنبل مخ د گلاب ستر گې نرگس دي — زه باندي باغبان يم دا گلزار ساتم همیش
داله تلو سي نه چه پر قلب مي پرزو نه شي — ځکه به ځيگر کښې ستا ازار ساتم همیش
خلق زهير پرې چه مجلس لره ور دروم — پس له دي به زه نور ځان کنار ساتم همیش
عکس د رخسار چه دي زما په زړه کښې گرزي — زه په خپل ځيگر کښې سورا نگار ساتم همیش
زړه مي ستا له غمه همېشه آه و فغان کا — زه په خپل وجود کښې دا بيمار ساتم همیش
ستر گې مي څلور شي ستا پر خوا چه وعده وکړي — زه حنان له غيرو دا ستالار ساتم همیش

« مرزا حنان »

خط به مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کښې — دا يې غابښ په خوله کښې زيب کا که ژاله شوه په لاله کښې
همې رنگ سحر و جادو کا په نظر د شهلا ستر گو — نه يې سيال په هند کښې شته دی نه ثاني په بنگاله کښې
لکه ونښلي مرغۍ په سست دام د سلو لومو — همې زړه پر ښانو زلفو کښې پستم په کشاله کښې
دا زما له غمه شين زړه يکښې خيال د يار دلبر — همې رنگ زيب و زينت کا لکه مې په شنه پياله کښې
ماويل عين گټ گل دی دغنچې په لمن لغښتې — که مې کوټ يو گل اندام و پروت په سبزه دوشاله کښې
شکلي مخ کا ولي ناسته، په مجلس د رقيبانو — په جوار د سپو کښې نه وی هيڅ ارام په غزاله کښې
سر تر پايه تيغ د هجر لکه نی سوري سوري کړم — ځکه يم مدام داهسې په فريادو په ناله کښې
که يار غواړي هومره ژاړه خود ړځی عبدالحميده! — دا په دا چه درمونده شي په درياب ئه په ناله کښې

« عبدالحميد مهمند »

زه داهسې ديوانه او مجنون چا کړم — له رواج او له رسومه بيرون چا کړم
نه پوهېږم چه داهسې چاري څوك کا — ليونی د خپل نگاه په افسون چا کړم
کومې ستر گې کوم بانړه کومه غمزه ده — دوب شهيد غوندي په خاك اوبه خون چا کړم
نوان توفيق چه دفتنو را څخه نه ؤ — په فتنې د تورو ستر گو مفتون چا کړم
رحمان هيڅ له خپله ځانه خبر نه يم — چه دا همې رنگ زبون او محزون چا کړم

« عبدالرحمان مهمند »

زه ديار په درد و غم کښې شادمان يم — لکه گل د بر ښانۍ په وخت خندان يم
نه زما و بېکسی ته نظر مه کړه — خداى ساتلى لکه گنج په بيابان يم
لکه ونه د ځنگل په ميوه پوره — په ويرانه ويرانۍ کښې آبادان يم
پور ښتنه مي د صورت بې عشقه نه دی — څو کيدار په هر نفس د خپل کاروان يم

دو صال مارغه داو بنو دا نه راکړه
لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم

د کاملي عقیدې له بره کته
دروهي په غاړه ناست شاه جهان یم

روښنانۍ مي په طلب کښې شوه حاصله
شپه اوورځ لکه آفتاب په لار روان یم

چه صفت د تو رو زلفو د اشنا کړم
بلې، سر په لو په لار د هندو ستان یم

بې مینه مې هیڅ حال د صورت نشته
لکه بې مال ومتاع عه تش د کان یم

دهوس بلبل ویسا را با ندې نه کا
دافلاس په کبل بو تپې د خزان یم

دلبرانو ته خاك تر تلې لا ندې
د دې نور جهان په سر لکه اسمان یم

چه دیار په دیدن سرو مال ښندمه
خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم

«عبدالرحمان مهمند»

زه دیار په درو غم کښې غرقاب خوښ یم
په داور کښې بیطاقته بیتاب خوښ یم

تر دا بوچې گفتگوی چه زه یې اورم
په نغمه په تر انه د رباب خوښ یم

چه دیار دخط وخال ښې پکښې وی
زوړ ند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم

د ریا تر نا قبو له عبا د تـه
دساقي په میومست او خراب خوښ یم

چه نه علم نه تسبیح نه تلاوت وی
له دې هسې بیداری نه په خواب خوښ یم

دطوبی دونې سوری مې خوښ نه دی
ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ یم

خاموشي که هر څو لو یه مرتبه ده
زه دیار سره په سوال وځوب خوښ یم

دیار د ډېرې غمخورۍ یم عاجز کړی
رحمان ځکه په خوردن دشراب خوښ یم

«عبدالرحمان مهمند»

څوك چه بد راسره کا ورسره ښه یم
هم په دا ښو دبدانو تـو ز لیـمه یـم

له هغو مې څه اندوه چه په خوی اوردی
په خپل خوی کښې سوړ اونرم تراوبه یم

چه وماته وزما عیب پښکښې را وړی
ددې هسې یار له خدا یه په غوښته یم

نور زما دی، نار زما دنور و څه دی
د ښتنگو غوندې مخ خیر دځان په سوه یم

په ابرو یې مخ سپېره شي چه نفاق کا
آینې غو ندې مخ سپینه تور په زړه یم

چېرې نه وی چه به بل مخ وته گوری
په هجران کښې خوښ دستر گو په واته یم

له نور چا کله گله عبد القادر کړم
زه خوار کړی خپلو ستر گو یم خپل زړه یم

«عبدالقادر ختك»

مخ دې لکه نمر دې ورته څیر کتلی نه شم
ځکه یې د مدحې ترعهدې وتلی نه شم

زړه یې را غلبیل کړ دهجران په ناو کیو
راز پکښې دیار د محبت ساتلی نه شم

اوس مې په معنو کښې ښه مین دستر گو کسی
کسی به د خلقو په ویل ابستلی نه شم

زه یې د زنخ په څاه کښې بند لکه یوسف کړم
بند یې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

د خپل یار له مینې هسې دیوانه یم
که یې آهو یې ناځې بې ژغه سوزم
دخال خیال یې ماضعیف لره کافي دی
چه یې خیال ساتم د سرولبو په زړه کښې

په جنت نه یم خوښ هر گز په درد یار مې قسم
زړه مې له تا وعده د وصل هر گز و نه لیده
پر وایه گل و په خار نکړم د جنون له فیضه
که مې سرولاړ شي ستا په مینه لاخوشحاله یم زه
تور بخت مې و نه لیده هیڅ ستا د کتا کل شب قدر
ستا د گلگون رخساره شرقه زه حنان دا وښو

زه چه مین د یار پر مخ یم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړې دعفتی ترمیان کړې تېر گلونه
رضا د ځان مې په رضا دخپل اشنا ور کړې
چه مې زړه وړی په منگوله هغه یار دی زما
که د وصال په هوا را شي یکشتنها دلبره

سپین رخسار دي وای سپین صبا شو قم
د صبا او د بېگا تر منځ حیران یم
سېر یندي غوندې قي کړی کوامې ناست یم
گنجینه شوم ستا د مینې له دو لته
چه میرا در سره نه وی قلندر ه !
قلندر په کومه بوزه لاړ شي صوات له
د میرا صاحب له جوره قلندر ه !

مغنی گوتې په ځیر ز دی په بم هم
ستا دعشق دغشي هسې ځای پرهار دی
ستا د زلفو مار چیچلی نه ر غیږی
تا چه مخ ورته ښکاره کړو لیوني شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
دخوښۍ پیاله په لاس کښې نن زما ده

بې یې د زلفو درسی ختای نسه شم
زړه مې پر واز غواړی ولې الو تلی نه شم
«عبدالقادر خټک»

چه خبر نه په کعبه په بتخانه یم
پر څراغ دمخ یې هغه پروانه یم
دمینې په دود قانع په لږ دانه یم
دا په دا مدام د لعلو خزانه یم
« مرزا حنان »

خوښ په لذت یم دخوارۍ په اعتبار مې قسم
په نامیندگۍ د تورې شپې دانتظار مې قسم
په سینه صافه آئینه د نو بهار مې قسم
په تېره تېغ داستاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مېنکو ستا دزلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړۍ په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

تماشه بې دیار له مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله تش دخوانۍ خالي اقرار څه کوم
دا که مې قول دیار په لاس دی خپل اختیار څه کوم
نور حسن داره بې له دې دقند هار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د ربار څه کوم
« جمعه بار گزی »

تور کتا کل دي وای تورمشیه دتم
نه پوهېږم چه عمل و کړم په کم
دهجران لاس مې و کاږی زیروبم
اژ دهار را باندې گرزی دمبدم
ته چه صوات لره ورځې عذر دی کم
چه میرا یې همراه نه وی هوس کم
دا یو، لاړو، السلام علیکم
« قلندر »

هم ساقي شته هم بهار و صنم هم
چه ریښه پرې اېښوداي نشي مرهم هم
په ستا نوبه زیار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر گرزی په سم هم
زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتېده غم هم

په لذت دې دسروشرنګو کوثر هېڅ کړ
د یوه لاس نغاره دا سې آواز کا
که ناستی دیار کوی په خاورو مو مې

د شبنم دا نه که تخم شي د ګلو
چه یې نښه لکه ګل ښه رخسارو نه
حال دسوي طالع څه بیان کړم چاته
معطل په عارضه د شام غریب ندی
داسمان په شان یې تېز دفتنو تیغ کړ

پسرلی مې دخزان په تاتار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاورې پهسر اونم
لامې غټور ته په‌خیر کښلی نه وو
لکه ډېر پرې پیکر هم پرې رو وو
یوه ورخ په دا غم وشي عابخا نه

بې اختیاره رانبکاره ژوندون زبون شو
چه‌دعشق په‌مکتب‌ ماد غړ داستان اوست
دقلم په دود به چا که سینه ټې کړم
دحسرت ګوتې په غابښ کړی طبیبانو

سوروپېزوان دپه سروشو نهوهسې زبر کا
دسرو ټیک دشهزاده په جبین پروت دی
دوادره لیچې دې وښکلې مصری نورې
ستاله غمه په ځان زړه در حمان سوزی

پارسائي یې د پارسا له لاسه یووړه
چه مې کړې وه توبه اهمی خواری
معجزه چه د احیاده په دوه لب بې
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
را ته پاتې دا یوه مسلمانی وه
ماوی زه به دعشق راز لرم په‌زړه کښې
چه دزړه صبر دیار له مخه غوا ړم
که‌د نور و هوښیاری په‌عشق کښې پس وړی

د حیات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټک »

زړه به سوړ په دیدن نشي د بلبلو
څوك به څه کاتوري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبین دی د داغلو
که مې زړه په حلقه‌بندشو د کاکلو
صبح وشام ګرزی‌ښکاره په‌سرومنګلو
« کاظم خان شیدا »

ملا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تېر شو
په‌هیڅ رنګ په‌بېرته‌نه‌رازی‌وار تېر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شو
هم‌هغه رنګه تېز رویري وار تېر شو
چه فلانې هم لکه ګردو غبار تېر شو
« علیخان خټك »

اشتیاق مې دزړه مرګ وته افزون شو
هك حیران راته فرهاد دویم مجنون شو
دمرجان په طور وینې مې لړون شو
له قانون اوله شفی رنځ بیرون شو
« صمد »

لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو
شینکی خال دې محاصل په بند یوانو
دو یوه‌بزم سر به پرېکړي دخوارانو
لکه شمعه په زیارت د شهیدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائی ئې د دانا له لاسه یووړه
په چشمانو یې زما له‌لاسه یووړه
لاس یې لاس دمسیحا له لاسه یووړه
دا دعوی یې دهرچا له لاسه یووړه
دا مې هم هغه ترسا له لاسه یووړه
دا خبره مې ژړا له لاسه یووړه
محبت مې دا دعا له لاسه یووړه
دخوشحال یې لا په‌خوا له‌لاسه یووړه
« خوشحال خټك »

ستا د زړه سختی مې سر تر پایه ولید نه
نوره دنیا نشته چه څه وه را ښځه خلقه
یار مې هغه وخت وي چه په شیه په سره ناست وو
گل چه شگفته شي عندلیب باندې ناري کا
تل گونه وهلې هر زمان ساړه اهـو نـه
سري لمبې بې بلې دخوشحال خټك په زړه کړي

مست یم مې پرست یم رندی کړمه کړمه کړمه
نور شراب مې واړه تور عالم و تـه بخښلي
موړ به څښي نه شـم زه د مېو مستسقي یـم
لار د محبت زه تـل بـه روغ سـلامـت نه وم
څه وایې وماته حـال دڅه ؤ په هجران کښې
خلق راته وایي رنـگ دي بیا زیړ شو عاشق شوي
دور د عاشق دادی چه په عشق کښې ملامت وی

توره چه تېر یـږي خو گذاره اره کـنه !
ولی راته وایي چه په ښکـلو نـظـر مـکړه
شیخ دي نور نـغ روزه کـازه بـه د کې بیالې اخلم
نا وي چه زما د خولې بوسه اـکـه دا روده
وینې مـې دزړه خوري مـگر نور څه لره نه دی
څه ژړا فریاد کړي دښې د تـورو ز لـفـو
خو د به ستا دمخه د گیاه غوندي څر کـندشی
مې شته چنـگ وني شته د خیل یار سره خوشحاله؟

الـکه مخ زما د یار دی نمر خوهسي وی کـنه!
دعالم د بري خبري اور به اور توري لښکر یې
بې دعشق له شور وشره چه هر گز زما له سره
چه یې ریبم عمل لا کا چه یې ورك کړی ځان پېد کا
تاوي دروه اوم مې زبر کړه بل سبق له زړه بـر کړه
وهغه ته مې سر کوزدی چه معلوم ورته رموز دی
چه آزاد مر بې وردرومې خیل مرادور ځنې موږمی
په یوه زمـان تـه یاردور شي راشي خو گذاره

سنگ به سینه دوړ کړی ستاله هسی سخته دله
وار په وار مې واړه په دلبرو و ښند له
شمعی به ژړا کړه صراحی به خند ید له
نشته یـوه ښکـلی چه ي.ي و بو لم بـد له
ما چه عاشقی کړه خود به ما به دا کـېدله
سور خـت یـی اغوستی په دا لاري تېر بدلـه
«خوشحال خټك»

واوره محتسبه ! بـاده خورمه خورمه خورمه !
لام و بی مې محادلې یـسې مرمه مرمه مرمه!
تـل که هسې د کې پیالې چښمه چښمه چښمه !
زه چه په دا هـسې لاري تـلمه تلمه تلمه!
نـور خبر دار نه یم په زړه سومه سومه سومه !
هیڅ منکری نـکـړم خلقه شومه شومه شومه !
ځـکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال خټك»

زلـفی چه ول ول شی خو خپل یاره لره کـنه !
سترگې چه پیدا دی خو دیـدار لـره کـنه !
هر سری پیدا دی خپل خپـل کار لره کـنه!
غـواړم دا دارو د زړه پر هـار لـره کـنه !
زړه زمـا پیدا دی تـا خونخواره لره کـنه !
نه ور تلی پـخـپله دی ښـا مـار لره کـنه !
گل دلاله را وړه خپل رخسار لره کـنه !
خپل بـاض په لاس کښې ځه گـلزار لره کـنه!
«خوشحال خټك»

لـکه زه په عشق کښې زبر یم زیر خوهسی وی کـنه!
زړه مې نه خوځی له ځایه غـر خوهسی وی کـنه!
نه ځی نور څه هر څه درومی سر خوهسی وی کـنه!
ورځ دشپه داهسې کر کړه کر خوهسي وی کـنه !
تل مې ته یې به خاطر کښې زبر خوهسې وی کـنه!
په خبره نه پوهیږی خـر خو هسې وي کـنه !
په هیڅ ا ـدی تـږلی ور خو هسې وی کـنه !
دخوشحال خاطر تېز بردی پر خو هسې وی کـنه!
«خوشحال خټك»

د وفا خبر پیدا ران دی بیل خوا درومی
مګر ځان وسپاری خدای ته په امان شی
هغه یار به زه و ګرمی خواته غوادم
دلبران که هر څو ډیر دی په جهان کښې
چه هم قد لری هم زلفې هم سرې شونډې
عشق عاشق لره یو هسې ګلستان دی
که مجنون غوندې په عشق کښې څوک صادق شی
دا نایان به د رحمان په قال پوهیږی

ستا په مخ کښې چه حساب د جمال نشته
ته د سرو د مال وپیره په ما مکړه
روښنائی مې د چشمانو ستا دیدن دی
په جو یبار زما دستر ګو سروته یې
مخ دې بې له خط وخاله هسې زیب کا
ستا په یادو کښې رحمان هسې مشغول دی

ګنج وعقل زار شه د عاشق د څاڅکی او ښې
تیغ دیار له لاسه په مری د عاشقانو
خدای لره به ورسم په سودا دیار له مخه
څه که زاهد زهد کا د یو جنت دپاره
ګوره د منصور هسې به دار نه شې رحمانه

په ګډانو اواز ورو کړه بلبله !
عقل وهوښ عزیز تر هر څه بندل نه شی
خدای دې ه کاچیرې چوخ بودې په بېهوشی
ومطرب ته مینا وایې وایه وایه !
صدقه یې هم تر پسل عبدالقادر شه

وینځه که اصیله وی که توره وی که سپینه
شهد که څه نبات دی که شته شیرینی نورې
خیال بې د زلفینو لکه مار ورباندې پروت دی
سل زخمه که وخوری توی به یو څاڅکی پرې نوځی
خراب به یې بدل په بیداری خوښې پری ویرشی
یار په هواد ندی که د زړه مینه پیدا کړی !
څه عبدالقادره ! په خوله مینه مینه وایې

دا متاع د زمانې په دکان نشته
ګنه بیل خوا ته د هیچا امان نشته
چه یې هیچیر یې منزل او مکان نشته
زما یار غوندې د نبیر په جهان نشته
دغه هسې رنګه آفتاب په آسمان نشته
چه وباغ و ته یې لار د خزان نشته
د لیلی په دروازه کښې دربان نشته
دا ته کار د هرنا اهل و ناد ان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ځکه ما څخه د صبر مجال نشته
وپیره ما څخه د سر او د مال نشته
په دا کور کښې بل چراغ او مثال نشته
په دا نهر باندې بل څه نهال نشته
چه یې هیڅ حاجت په خط ویه خال نشته
چه په زړه کښې یې نور هیڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

نه خبر وار د عقل سه د عشق یوه دانه
هسې لذت کا لکه د میو پیمانه
بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه
سر ښند لې نه شی په ور بل د جانانه
مکړه دا د عشق خبرې مې سته رنده انه
«عبدالرحمن مهمند»

پر ښیا نه پیږی ستا د شوره له غلغله
ته یو څه رنګه ډیر ګران یې د مل جله !
قدم ورو ږده دراپیلو په ګل ګله !
دا معنائی پیدا کیږی له قلقله !
څه قدرت لری چه وایی اه دل دله !
«عبدالقادر خټک»

کښلې شی له حورو چه پرې ورشی د زړه مینه
مینه که ئې ګورې چه تر هر څه ده شیرینه
نه پریږدی و زړه ته بله مینه چه ور ځینه
هسې رنګه وچه د صورت کا مینه وینه
هر چه یې په زړه کښې د دلبرو مینه وینه
مینه هسې څیز دی چه نزدې لرې کوینه
څو دې لاو سجاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر خټک»

چه له خپله اشنا نه لری گډه
انگوری ترخه شراب ور اره بویه
چه بې تا یې غروم د بل و مخ ته
هیڅ ایستادي نکښي ونکړتري بربوت
چه جارو مې ستا د در د خاورونکړه
بد و بدو ته ښکاریږی ښه و ښه ته
ښه که سرؤ تری قربان عبدالقادر کړ

ننداړو لره راځی چه پسی څو نه
ته به وایی مخ یې گل د پیغمبر شی
چه په سیل د بهار د گلو گرځی
ځینی دواړه زلفي ډکی کا له گلو
زیړ او سره نمری اغوستی گلرخانو
چه گلو نه تولوی ننداري وایی
درست صحرا په خوشبوئی سره خرشبوی کا
چه له سیله را روانه شی د کورته
چه له هسې ننداړو نه ځان وباسي
له لیدل د ښایسته ؤ بکښي نه وی
که اوازدی که لیده د روح خوراك دی
تیر شو وار عبدالقادره ! را به نشی

څه افسون دي په ما وکړ پریزاده
زړه مې ډك لكه سیند دی شعله بویه
بهانه ددي غرض مگر شانه کړي
چه اواز دي د تیښي په کهسار نشته
په اسباب کښې مې زړه بند په اسباب ندی
مهیا ورته قفس د ښاخ د گلو کړه
چه په هرمنزل کښي سرخوری لکه شمع
په سختی کله امساك د دولت کیږی
همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی

زه چه مست په لب دیاریم هیڅ حاجت د شراب نشته
تمام تن مي وچ لرگی شو، ر گئ مې تار دو باندي بربوت
پر برهار نمکپاشی کړی چه پرسش کړی له ماته
لکه مرغ نیم بسمل یم ، تپش کړم په ځمکه باندي

له نور چا به په نور څه لری گله
میخواران له گبینه لری گله
په دا خوی له ما نیمه لری گډه
له ناوکه یې مې زړه لری گله
ډیر زما له ما بیا نه لری گله
ښه له بدو بد له ښه لری گله
بیا تري ولې یار له ده لری گله
«عبدالقادر خټك»

په اختر به ځلمی جونه کا سیلونه
چه یې ډ په یه مخ ووهی خالونه
ځلمی گل به پگړی زدی په اوربل جونه
څوك به غاړه د گلونو کا هارونه
وا یې سبر و نې و نیو ل گلونه
شرمنده کا د بلبلو اوازونه
په هغه ځمکه چه کیږدی قدمونه
گل لمن ، بلبل یې نیسی آستینونه
شیخه ورك دي شه بیو څه خلوتونه
چا به څه کړه اته واړه جنتونه
نفسانی دي باندي نکا غرضونه
که زړا کړي که فریاد کړی که آهونه
«عبدالقادر خټك»

چه یودم نه یم خالی د تا له یاده
که د زړه په فراد و کړم څوفریاده
ته یې لاس وروړي و زلفو ته شمشاده
د شیریني په طلب لاړې فرهاده
د چمن په قید سرو ده آزاده
که څه رحم په بلبل کوي صیاده
د هغه لاري څه نفع د ه له زاده
جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده
چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده
«کاظم خان شیدا»

اور د عشق مې زړه کباب کړ وهیڅ حاجت د کباب نشته
زیروبم اواز تري خیژی هیڅ حاجت درباب نشته
حال مې خود ورته معلوم دی، هیڅ حاجت د جواب نشته
ځان مې ور کړ ستا په عشق کښي هیڅ حاجت د قصاب نشته
«خوشحال شهید»

سحر دا آوازمی غوز پوست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې یستلم گله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډېر دی
ستا د ستر گو مستی بده ده ترمله

ښا پسته د زمانې د نیـا پرست وی
په کوڅه کښې یې پل مه کښېږده بې پله

په چغلی مې ستا ؛ په یارمینه زیاتېږی
څو دې زړه هومره چغلی کوه چغله !

ساقی مې چه را کوی یې په قهقه خانده
زده کړه دا د صراحی لـه قلقلـه

د لیدونکو پـه نظر کښې تفاوت وی
او که نه وی خبرجدا نه وی له ک.له

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شی
جمعیت مومی خـا طر لـه تو کـلـه !

چه ستامخ ورته حاضروی گـل به گوری
دغه ستر گی دې دخدای نکـا بی گـله

د مجلس روښنائی ته یې ته دی استـې
کوم نقصان دی که صبا کړه ډېوه گـله

دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تېرشه زر عبدالقادره لـه دی پـلـه

«عبدالقادر ختك»

سرو کـه لیده شی د چمن تازه تازه
ستا حسن تري وینم ماه من تازه تازه

زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چمن نو
یا دوایه نافی دی دختن تازه تازه

گوره ستاله مینې زړه یې ډك دی وینې وینې
رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه

ساز دی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع
وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

۞ ۞ ۞

زه اول هم دېوانه وم ، دېوانه یم لا تراوسه
له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه

له طفلی نه عاشق و شوم ، غم طلب او بلا کش وم
ددلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه

زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بیگانه وم
ترخلو ښتو کـالو تېرشوم بیگانه یم لا تراوسه

چه عاشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم
تورو ښتو مې د سر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه

چه داخل دیار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم
عام و خاص مې وائه ولی ښانه یم لا تراوسه

تل راضی یې په قضاوم ، هم صابر یې په بلاوم
عذر نلرم له حکمه ، بی بهانه یم لا تراوسه

دشیرین دلبر له لاسه ، ما شراب دعشق بی قیاسه
څو بې حده مې ډېر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه

دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه هست یم
پـه ازل مې شراب څښلی د ېوانـه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

۞ ۞ ۞

ناست یم ستاله لاسه زړه یا ره سینه افگـا ره
ته له مانه څه غواړې فلـکه ستمگـا ره

ته یو موش گـیرك بې لایق نه یې د گـلو نـو
ولی بـلبـلان شړې کمبخـته ! له گلزاره !

یار دې له ما بېـل کړ تا خو هېڅ ښادی و نـکړه
وایه څه دې و گـټل رقیبه دل آزاره !

یو دې د هجران په تنـا ره کښې لو غړن کـړم
بل دې درقیب سینه رایخه کړه دلداره !

هر يو ګل يې خار شي په لمن زما څو خېژي
نه چې د وفا طمع کوي له سر و قند ه
غوټ وي قلندر په تيغ د هجر کړی نيا زه!

څوك چه ستا په مينه کښې وما ته کا پند ونه
زده مې که نادان په لاس کښېوماتلکه بنيښه شو
او بنې دبا نو په سر چه را شی نه دريږي
نه شي څوك سالمي سره بخري په ګريوان کښې
نه دي چا مو ند لی بنايېري په دو شالو کښې

چه صبا يې په هر ګل باندي طواف کا
د پتنګ په دود د ځان په سو ور ضايم
هميشه د ګل په بوی زه شمس الدين ځم
ميل نکا را ته باز د يار د ستر ګو

خوښ له وصله نه شوم د هجران له غمه زه
خلق را ته وايي چه رحمت دي لاد وا دي
سر دي په جهان کښې د همه وا ړو بنا ديو
لوس به له دي وروسته دخيل يارپه غم اخته شم
غم دي له ازله په نصيب د عاشقانو
ما عبد القادر چه دا غزل د فراق وويي

يو غوا ړم له يا ره بنه ديدن تازه تازه
ځکه بلبلا ن چغار کوی په تازه ګلو
يو زمان له مد حې د د لبرو مه د رېږه
زړه چه درقيب زما په بد سره بنه کېږي
آه کوی له د له په فريا د له زير ګلمه
بل فکر مې نه کېږي بې ستا له ګفتګو يه
مه کړه په جفا سره ازار د بلبلانو
ستر ګې مې خيره شوی چه ولاړ يې زه دي ګورم
زړه د يونس چوی ستا د هجر له سختي،

سير د ګلو نو چه کوم يې له خپل ياره
سروبه هيچا ليد لي نه وی ميوه داره
مه کوه ميرا ! نوره جفا درب دپاره !
« قلندر »

واړه بيفائدی زړدی ابا سينه لره بندونه
نه شي څوك ايښو دای وښيښوته پيوندونه
ندی چا بند کړی په ګيا سره سيندونه
ومې سول پاه سره د صبر در مندونه
وا خله قلندره! په ميرا پسې کندونه
« قلندر »

زه هوس د همغه باغ لرم له شوقه
ځکه مينه پر څراغ لرم له شوقه
په خپل يار پسې سراغ لرم له شوقه
تل په لاس کښې پردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدين کاکړ»

نه کړم په ګل مينه دخزان له غمه زه
لا به چه بې خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دي شم بېغمه د جانان له غمه زه
ډېر په زړه زهير شوم دجهان له غمه زه
ځکه ته خلا صيږم يو زمان له غمه زه
رشك به کړم په اوښو دباران له غمه زه
« عبد القادر خټك »

بل در قيبانو ځا نکندن تازه تازه
نه به مدام ګل وی نه چمن تازه تازه
تل ديارله وصفه کړه سخن تازه تازه
مکړه په ازار زما د بنمن تازه تازه
وا وره له بلبله بنه ګفتن تازه تازه
شير شکري وايه له دهن تازه تازه
ښه خوبه وفا کړه انجمن تازه تازه
وکړه په دا لوری آمدن تازه تازه
ښه خوبه خپلمهر کړه غمجن تازه تازه
« يونس »

ښه مې وليدل په سترګو واړه ښکلي
چه تر واړو لاتړی کا جمال ستادی

د دنيا په مخ به د يار وی ښه مخونه
چه ترهر څه ډيرلذت کا وصال ستادی

د واړه زلفې د حلقه کړې اکه لو مې
چه دانه دی په دالومه کښې خال ستادی

دواړه ښې ګلګونې سرې په د ماغ درومې
ګوره بيا څومره وګړی پايمال ستادی

ته کشتن د غمزی کړه مه و د رېږه
مقتولانو قبول کړی وبال ستادی

که همه دخلقو ښکلي سره ټول شی
خسته زړه مې به ټولی کښې لېوال ستادی

چه دې څوك په کو څه تېر شی نور مين شی
چه تمام له عشقه روغ دی دېوال ستادی

که مثال د صورت غواړې ګوره ميا شت ته
چه پوره د دوه هفتو شی مثال ستادی

چه صبا بيګا يې لوندلرم په او ښو
يادګاری را څخه پاتې رومال ستادی

څو ر ېبار در سره نه بيايې دو ړ اندې
چه په چم به يې تېرېږی محال ستادی

که په قهر يې شړې په لطف يې بولې
چه يې نه پرېږدې په هيڅ کښې خوشحال ستادی

« خوشحال خټك »

مخ د يار شمس و قمر دري واړه يو دی
قدې سرو صنوبر دري واړه يو دی

حاجت نه لرم په شهد و په شکر و
لب د يار شهد و شکر دري واړه يو دی

که بی يا ره په بستر د پاسه پروت يم
نارو خار و دا بستر دري واړه يو دی

چه و د ر او و د يو ار ته يې نظر کړم
باغ بوستان او دغه در دري واړه يو دی

چه غبار يې د کو څې را اندې را شی
دا غبار مشك وعنبر دري واړه يو دی

خدای د يار له هجره هيڅوك خبر مکړه
تاخت وقتل و دا خبر دري واړه يو دی

هغه دم چه سړی د رومې له جهانه
تورې خاورې سيم وزر دري واړه يو دی

قلندر که په رښتيا قلندری کا
خان سلطان او قلندر دري واړه يو دی

په د کان د نا بينا ؤ جوهر يانو
خر مهرې لعل و ګوهر دري واړه يو دی

دا پيران دې عار زما له عشقه نکا
پاك عشق پير و پدر دري واړه يو دی

په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او کور وېښور دري واړه يو دی

غزا و شوه که خان ستانی ور حمان ته
بی هنر وګاو خر دري واړه يو دی

« عبدالرحمن مهمند»

تور ګيسو د به چندن پا اندې ښامار دی
تورې زلفې دی سنبل د نو بهار دی

تورې سترګې دې هوسئی د ی خطا شوی
چه و څرو ته پرتې په سنبل زار دی

تورې ورېځې دې ليندې پا نه دې غشی
عاشقان يې زخمی شوی په ګذار دی

مصفا تندی دې ښه دی تر بلوره
بيدلان يې په سرونو خريدار دی

د غه خال چه دې دو رو څو په پيو ند دی
دخطا دملك اصلی نافې ترې جاردی

سينه پو زه دې غو تې د ز نبق د ه
چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی

ښنا ګوښ د نسترن دی غو ړ يد لی
د چنبی تر ګلو به د واړه رخسار دی

سينه خو له که دې غنچې سره نسبت کړم
د غنچې غو ټې کله شکر بار دی

دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سر و لعلو
سپين غا ښو نه بی بها در شهو ار دی

ښا پسته زنه د سیب د سمر قند دی
صراحی د سپینو زرو سپینه غاړه
واړه تن دې د حلب تر ښیښې صاف دی
سپینې لیچې دې ښکلې مصری توری
د یاقوتو نیګڼی دې سره نوکونه
چه مې ستا د تیو ښه ننداره وکړه
د نامه غوټی دې ګل ده د ګلابو
د نامه ښکته دم و هلی نه شم
د پنډو تر صفت دې نه زه سپینږم
سپینې پښې دې د زنبق د ګلو پاڼې
تمام قد دې په مثال د صنوبر ونه
سر تر پایه ننداره بې ځان دې جوړ کړ
ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو
نه خو ډېر مهر کوی عمر دې ډېر ښه

عاشقی را باندې سورې کړې مرۍ
څه اثر به یې د عقل وی په سر کښې
د مژګانو په پنجه مې زړه و کاږی
علوفه به یې بېغمه نور څه نه وی
لږ د صبر سبق ما لره هم را کړی
خدایه څه دې د کوډوال په لاس کښې ورکړم
په صورت مې نری تبه شوه ولاړه
د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم
نور د شمعې په فانوس کښې پټېږی
زه رحمان په زړه نری کړم هغه جونو

دا چه مست په میو راغی یار د چا دی
چه زړه سوی یې د حرم په صید هم نشی
ما خو نه دی څوك بیو جهی ازار کړی
چه یې درست جهان د مخ په رڼا زیست کا
چه بلبل یې رسېدی تر ګلو نه شی
چه هیڅ ترس په زړه کښې نه لری رحمانه

سپین رخسار او مشکین خال یې سر خم دی
که دې مخ په زلفو پټ دی باك یې نشته
ستا له زلفو له رخساره لسه سرو شو انده و
په دهن کښې دې غاښو نه تجلی کا

چه خوازه یې تر فنا تو نه بسیار دی
سیم اسا اوزې دې هم په دغه شمار دی
چه رازونه دد رون ترې نمودار دی
چه خو نو نه یې په غاړه سل هزار دی
ځای په ځای دې په اوزو باندې قرار دی
هغه کلك په لبذت ډك خوازه انار دی
کینږ اوښی د ګلو پاڼې پرې انبار دی
هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی
ولې سپینې په سپینو الی تر چمتار دی
دېښو ګوتې دې ګلو نه دا نار دی
در پنده یې سم په مثل د چینار دی
ترتا جار واړه را نمی د هند و بار دی
د لوبیا دانه یوه مټر خروار دی
دخوشحال خټك دې تش لیدل په کار دی
« خوشحال خټك »
هیڅ مې نه د رومی بې باره تر مرۍ
د هغو په سر چه کښېنې ښا پېرۍ
خدای دترکو مستې ستر ګې کړې مرزۍ
هر چه کاندې دخو بانو چا کړۍ
که په عشق کښې څوك دغه طاقت لرۍ
شپه او ورځ مې غنږ وی لکه تورۍ
تاچه دواړه ستر ګې تورې کړې نرۍ
چه بېندې شوم د هجران په کچرۍ
تاچه وا غوستې دخیال جامې نرۍ
چه یې ملاوې دو پښته په دود نرۍ
« عبدالرحمان مهمند »
بیا به تاخت کایه کوم غولی وار دچا دی
دا بید رده بیصر فې ګزار دچا دی
دا چه ما ازار وی ازار د چا دی
دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچا دی
دا د ننه په حرم ګلزار د چا دی
دا نا ترس او بې پروا ګزار دچا دی
« عبدالرحمان مهمند »
یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی
د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی
پیدا شوی شام ، شفق او صبحدم دی
یا غوټی چه په غنچه کښې د شبنم دی

نه چه اوس ز ما زړه غوټ ستا په غمزودی
بی ژړا چا ته نه ګوري سیاچشمه
راحت ندی چا مونه لی بی زحمته
ستا د حسن د تعریف له بر کښته

چاره، غوټی له قد یم سره په غم دی
د نرګسو غوړ یده د جوی په نم دی
ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی
د رحمان د شعر کوکی په عالم دی
«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنګ بدیم ښکلیه! عاروئی له ما کړي
یو ځله بیا راشه په ګلونو ګذر وکړه!
ګل دي په هجران کښي سل توټې ځیګر سینه کړه
ولی له شیدا بلبلی مخ جار باسی ګله!
لاخوشبویی ورکا چه یی واچوی واورته
ته د حسن نمر یی دانو ښکلی لکه ستوری

چاري د قسمت دی، زه یی زشت ته یی زیبا کړي
ای د صبا باده! چه بیا نغښتی غنچې وا کړي
سري دي له فراقه لاله ستر ګي ړندا کړي
ته په دا خوبی هم دده نار و رسوا کړي
زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړي
ګل به کالعدم شي که ښکاره خپله لقا کړي
«عبدالقادر خټک»

خوښ یم تر ابده د ساقي له میخانی
قدر د بلبل چه پاتی نه شو په ګلزار کښي
سپینو ستر ګو در راوښو واړل په خاورو
هر ساعت چه ډمه کا سنګار د یارد زلفو
هیڅ حاجت مي نشی په شیخانو ملایانو
تل مي لیونی ګڼی ځوك نه پرهیزدی وکورته
هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه
مر ګ د شمس الدین چه ددلبرد یاده نه ځی

خورم شراب د مینی د کی د کی پیمانی
جوړي شوي په باغ کښي د زاغانو اشیانی
نه یی وساتلي په پښه کښي د ر دانی
وخېژی تر زړه زما غا ښونه د شانی
ور کي شه پیغا یه د پښتون د بری ستانی
ځای راله نشته یي د یار له استانی
څه له ره نور زه کړم شکایت د زمانی
شپه ورځ بی تر لی دی په ګوتو نښانی
«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنګ لیدلی دی
اوس له وېرې په کوڅه ورتللی نه شم
غم و ښکلي توري راغی که مي پرهېزدی
ما بیګا شپه د یار مخ لید لکه شمعه
دا مطیع په سحر ځکه ځکه ژاړی

د زړه رخت مي په عشق رنګ لیدلی دی
ما د مستو ستر ګو جنګ لیدلی دی
ما خلاصی د ستا ترخنګ لیدلی دی
دا خیل ځان مي پري پتنګ لیدلی دی
چه خپل حال یی ډیر بد رنګ لیدلی دی
«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننګ لري کوی
تل آرزو لرم چه به پټ حال و یارته وایم
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بی ننګ دی
خدای په دواړو کونو هغه ړوند په تور لیمه کړه
یار مي په شړل ندی راضی زه یې یو هېزم
بس کړه ای ناصحه! تورځیګر رابا ندي مه خوره
بل شغل مي نشته په زړه بی دیار له مخه

تش دیدن د ښکلیو د زړه زنګ لري کوی
کله سپی غماز له یاره ځنګ لري کوی
ځکه هر ملنګ له ځانه ننګ لري کوی
خوك چه ستا له شمعی ما پتنګ لري کوی
سپی غماز له دره ما په جنګ لري کوی
کله مست بنګی له ځانه بنګ لري کوی
عشق یو هسی رنګ دی چه بل رنګ لري کوی
«مطیع الله پیرخیل»

زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
مرم د خدای د یاره په شتاب شتاب رادرومه
څم د یار په اوری په هواهوس خوښی کړم
هر څوك چه طلب کا پته نه دی دا خبره

ګوره دایه ځان خونی تورمارلره وردرومی
چېری هم طبیب ورو ورو بیمار لره وردرومی
ذوق کاندې بلبلې چه ګلذار لره وردرومی
هر کله مطلوب و طلبګار لره وردرومی
«خوشحال ختك»

خوږې شونډې دې شکرې ندی څه دی
چه تسخیر په تورو سترګو کا د زړونو
چه د زلفو په زنځیر یې زمری بند کړل
چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده
وایی نورې مینې لرې کړه د زړه نه

ښکلی غابښ دې مرغلرې ندی څه دی
سیه چشمې سحر ګرې ندی څه دی
هوسی سترګې زړه روړې ندی څه دی
ښتنې په قامت سترې ندی څه دی
ستا د مخ په دور لرې ندی څه دی
«خوشحال ختك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر ینږی
څو کبر لو یی ده و خوبانو خدای ور ګړی
څه شو که ترې سله ځله ځار ښږی په ساعت کښې
ښه رنګ یی بدرنګ کا چه پری واوزی پوخته
ګرانې دی هر ګوره نوې چارې نوآموزته
زردی چه خبر به شی د سترو له احواله
سرغواړه له خدایه خولی ډېری دی فاضله

سترګې د ښو په درانه بارنه زهیر ښږی
هیچېرې بی زړه په عاشق خوارنه زهیر ښږی
ګل د بلبلانو په چغار نه زهیر ښږی
زړه د خزان ګوره په بهار نه زهیر ښږی
هرچه مدام می خوری په خمارنه زهیر ښږی
هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر ښږی
هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر ښږی
«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هموی دی
عالم وایی عاشق شوې زه سوګند خورمه چه کله
کافر یم که یی و باسم هغه ساعت له زړې
که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کېږدی
چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیار ښتیاخبرو
شیخان او زاهدان واړه په پسی شاویل کا
که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کښې

سجود که روښن کړم که داعیب دی هموی دی
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هموی دی
ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هموی دی
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هموی دی
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هموی دی
په مخ یی مبرهن کړم که داعیب دی هموی دی
مستی یی په دیدن کړم که داعیب دی هموی دی
«خوشحال ختك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
اندرون ګو ګل می درست دو ینو ډك شو
بیا دې نوی پرهار و نه په ما روغ کړه
په ژوندون یی څه احسان را سره نکړه
زه دې درست له باغه واښتم دلبره
تورو زلفو دې خوشبو په کړه ملکو نه
خماری سترګې دې د واړه شنه زمری دی

زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
ظاهری جامې اغوستې سپینې سپینې
لرغونی مې لا روغ ندی ځینې ځینې
څه پکار دی که یی کړی په مرینې مرینې
تورزاغان پکښې مېوی خوری خوړینې خوړینې
د واړه ګلو ښتی دی دمینکو چینې چینې
د خواجه محمد و مرګ ته وړینې وړینې
خواجه محمد بنګښ »

نه به څوك بې نا چارۍ وطن پرېږدي — نه به روح هرګز په خوښه بدن پرېږدي
كه ستا مخ يو ځلې ووينې په سترګو — بت پرست به نور سجود دوشن پرېږدي
د يوسف غوندې په خوځنې پېروڼ كا — كه د زنې چا ته زلفې رسن پرېږدي
كه دې وليدې سرې شونډې جوهريانو — په ياقوت پسې به تله د يمن پرېږدي
كه د لبر په دا ښايست لاړ شې چمن ته — د خولئې دعوي به ګل د چمن پرېږدي
« كامګار »

چه يوه ګړۍ په جمع زړه ښه مخ وته وګورې ! — كه درسته دنيا ستا شي هم څه نده دا تر پورې
داخوي زما قديم دې څه ما اوس نه دي راوړي — چه بې د زيبا مخه رانه خس دې چار ې نورې
د خلقو تهمت يو سر د جهان غم نه بل سر — هم ته به مې له هسې رنګه سختې بلا ژغورې !
دا اور چه په ما بل دې د خپل يار له جدائي — نه ګرم نه ملامت يم كه تل وينې ژاړم تورې
اشنا ته وايه نشې نا اشنا به څه خبر پېږي — دا راز چه له ما نه دې او ريدلې خپلې مورې
ناوك يې د مژګانو دابرو په كمال جوړ كړ — خداى زده چه به د چا تر زړګي وزي پورې وورې

ښه باز دې د خوشحال ختك خاطر په لاسو كبوت
په قدر ې خبر شه چېرې نه په لېږې پلو رې !
« خوشحال ختك »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبين ځ دي — دا زما پر زړه دا غونه آتشين ځ دي
د عشق اور مې ويلوي د زړ ګي شمع — بيهوده مې پر موم نقش د نګين ځ دي
ما دې خيال اوروفرش كړي تورليمه دي — ته بې نيا زه قدم ولې پر زمين ځ دي
په شپه حال د مهجورانو په ياد راوړه — په راحت چه سر له نازه پر بالين ځ دي
« پير محمد كاكړ »

❀ ❀ ❀

## ه : موضوع ګاني

(۱) ـ مخ :

باديې لاس په پلو كښېږدي سره رېږدي — ګل يې مخ وته نظر كا خوله پرېږدي
« خوشحال ختك »

د پرې ښكلې جو ه ماليدلې دي په سترګو — روند شم كه به تا غوندې په حسن بله وه
زور د غابنو مكړه مخ يې صاف تر آئينې دي — زخم به پرې وشي په ورو وروېې ښكلوه
عمر به يې لنډ شي كه ئې تار د زلفو كم شي — فهم كړه اى ډمې ! ز منځ ورو وروچلوه
« عبدالقادر ختك »

اى چه په مخ وډې خو ئې له ور ده — خالي پو د م نه يم د ستا له در ده
ته بې آ سيبه پسې ، سيب او سې — كه ترنارنج مې خپر ده زر ده
« عبدالقادر ختك »

كه مخ دې نمر كړم د نمر كړه وده نشته — كه يې سنبل كړم سنبل مشكين نه دی
«عبدالقادر ختك»

د پر هوس لرم د ا ستا د مخ و ګل ته — زه بلبل پرې الوته كړم كه بد نه وړ ې
«شمس الدين كاكړ»

سپین رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو
تور دې زلفې غلاف نه د اطلس
«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ
چه یې و لیدو دا ستا جوهر د غاښو
له حیا دی غټ و مخ ته کښتې نشم
که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
کله لید په خوږو ستر گو شی د نمر مخ
« قلندر »

دا دې یار خو دی، خو له نیو لی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه
که لا له گل دی پر خپې و هلی
که لعل و در دی سره پیېلی
«خوشحال ختک»

ډېر مې ستا و مخ ته و کا ته موړ نشوم
نور به څو پردې نا بوده دنیا ویاړم
«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه !
په درست باغ کښې یو نسرین هسې لرې !
«خوشحال ختک»

مخ وته یې، گورد چه په مخ لری خال اونه
څه عجب ز یبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال ختک»

## (۲) شونډې او زنه:

د خولې و یل دې واړه نبات دی
څوك یې چه ښکل کا سخ د هغو دی
خو اږه دې لا د کنځلو زبات دی
شونډې دې دواړه آب حیات دی
«خوشحال ختک»

بو ی به ستا د محبت څخه روان شی
په ناز کو شونډو بار د پانو مه زده
که پاره مې د نافی په دود ټېر کړې
خدای چه شونډې سرې بې پانو درته در کړې
«عبدالقادر ختک»

غنچه خوله چه یې نقطه مو هومه ده
څه عجب که په خندا کښې شی دره نیمه
«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم او به دی
دواړه زیست کا په یو ځای کښې بې جداله
«دالپوری حافظ»

که څوك و وینی د استاذ نخ پر آب
زنه یې و وزی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم
په کوهی کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»

هغه شونډې چه ځائی د پانو سرې دی
هغه شونډې څه حاجت لری و پان ته
«خوشحال ختک»

چه په خیال د سرو ابو د شونډې څملم
هر سحر څا څی ځما تر بستر و پسې
«عبدالله پوپلزی»

(۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلی
څوك مایوس څوك په امید دیار دوصل
زه خوشحال د آهو چشم مینې سر گرم

چه د یدن دمین و کړ مه تازه شم
په ارمان د هغه و خت یم دریغه دریغه

څوك چه زور مه ښکاره کا وزیاتیږی

مگر تا سره سامان د سلطنت دی

څو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی

سر به در کړم مچه را کړه ښه سودا ده

په رښتیا ړماته ووایه طبیبه !
سپینه خوله که بې ریباره وزپیشکش کړم

دادی هغه اوچه په هجران کښې پسی تهمرې

دصبا باده ! گزر په چمن بیا کړه
زه خوشحال کمزوری نه یم چه به دار کړم

زده مې تخمخ کیږی دسپین مخ وښکلو لته
زه چه غوښتې سوال دبوسې و کړم راته خاندی

چه یې تل دمخ تنا وایی خوشحال اه

دبوسې وعده دایم صبا برات کا

بیا حانث په سپینه خوله شوم د خو با نو

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه

که هز ار لحله شیخی کوی خو شحال له

گویا اخلی د یا غیانو فلنگو نه
څوك پراته غاړه غړئی په یالنگو نه
د غرځه غوندې په هسې گړ سگو نه
«خوشحال خټك»

لکه کښت چه په باران سره اوبه شی
که د زنې سبب یې بیا زما په خوله شی
«خوشحال خټك»

که پخیله بوسه را کا زور به نشی
«خوشحال خټك»

چه په هود مې سپینه خوله غوادې خټکه
«خوشحال خټك»

نور مې کل له د له هېر دی تلذذ
«خوشحال خټك»

که یې ته په بها پیرې زه یې پلورم
«خوشحال خټك»

چه د زنخ به یې صحت وی که به نه وی
په خوشحال به مې منت وی که به نه وی
«خوشحال خټك»

اوس یې په وصال کښې دواړه اوریه ښکلوه
«خوشحال خټك»

په چمن کښې رنگا رنگ گلونه وا کړه
په شکار نارې وهم چه خوله یې را کړه
«خوشحال خټك»

لاس یې لر بر کیږی دزلفینو ونیول ته
یا به زړه راضی ده یا پروانه کاوین ته
«مطیع الله پیرخیل»

په صله مې سپینه خوله درته بخښلې !
«خوشحال خټك»

زړه به څو کاندې تازه په دا وینا کښې؟
«اشرف خان هجری»

قسمو نه مې نا صح گڼل عبث
«میا نعیم متی زی»

په څو زویی د حلوا نشته غرض
« یونس »

که ښه ښکلی درنژدی شی نو یې ښکل کړه
«خوشحال خټك»

## ٤ ـ ستر گی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری ستر گي
یارمي په ښایست کښي بی نظیره بی مانندی
ناست دی لکه ځری رقیبان وخوار عاشق ته
هرچیرته چه ته یی هغه اورته می نظر دی

ما یی خیال لره ابلق د ستر گو زین کړ

خار بندی می دینو کړه تري چاپیره

ځکه ما دعشق په تیر ځان شهید کړ
مرگئ دژرند زما پوښته له مړاؤ ستر گو

کنږی وروځی کوزبانه چه دي را یاد شی

نیمکښو دی د غمز و توري تیري ستا

باز دیار دستر گو دمږ گانو په پنجو کښي

د اشنا دتورو ستر گو په تعریف کښي

خو، دیار بیماري ستر گي خدای خونی کړي

خپلو ستر گو فتوی در کړه چه مي وژ ني
و کوتر ته حاجت نه لری د ښپلو

زړه مي رم خوری له سینی پر خبر نه یم

یل یی په جهان کښي مو ندی نشی

بی د یار له مړاوو ستر گو چه کج گوری
خوك د صبر ارام نه غوا ړی په عشق

عجب نده که وحشی د کوه و د شت شی

هسی پري غوځیږم وایی توري لری ستر گي
لا په درست صورت کښي د پرمشهوری لری ستر گي
ځکه ستاله مخه هوري دوري لري ستر گي
هرچرته چه زانی، شاهین هوري لري ستر گي
« خوشحال خټك »

قدم نږ دی په رکاب زما د ستر گو
« عبدالرحمن مهمند »

گوندي خیال دیار په ستر گو کښي حصار کړم
« عبدالقادر خټك »

چه مي نه رسی د صبر په کفن لاس
په رسا گذار بو هیږی د تور زن لاس
« عبدالحمید مهمند »

کازه غشی مي تر زړه لوبږی آزاد
« پیر محمد کاکړ »

پري به غوځ شی هرچه کاندي ننداري
« میا نعیم متی زی »

دی لکه تنزری په چنگ و ړی زما روح
« میا نعیم متی زی »

نده کمه شاعری لسه اجتهاده
« میانعیم متی زی »

گڼه خون کسله کولی شی بیمار
« عبدالرحمان مهمند »

حیرانی ده پر دا لو ستو د مکتب ستا
چه جام نوش کا خوك دمیو لباب ستا
« مرزا حنان »

دا د ستر گو باز مي بیا راځی وښکار نه
« مرزا حنان »

عاشق تله د یار په لوری په لیمه کا
« عبدالقادر خټك »

گڼه نکا رنځورا چا ته جواب سخت
د ازل کاتب دی ښکلی په دی باب سخت
« عبدالحمید مهمند »

هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا
« پیر محمد کاکړ »

٤٢٥ – ١٠-١١ نوانه پښتو اجرانه ه ، محمد نعیم ، ن محمد ، ر فتح محمد ، ج سراج الدین ، محمد سردار ـ (٥٢٥) له گلو روهي

## ۵- غابن

په آروزو دسپینې خولی یې په بوستان کښې    نرګس پباس پر سر نیولی دی پیا له
چه یې و لید . خندا د سپینو غا ښو    له شبنمه لمن ډکه کړه . لا له
« شمس الدین کاکړ »

په رڼا د سپینو غا ښو یې خرم وم    وا قف نشوم د هجران د شب له دا چه
« پیر محمد کاکړ »

## ٦- غوږ اوپوزه :

در په غوږ کښې د مهرویو هسې زیب کا    لکه بر ښنې په سحا ر کښې ستا ر ه
« مرزا حنان »

چه الماس دلمندرو زا نګی په غوږ کښې    کوا کب کا په اسمان لر زان حبیب
« میا نعیم متی زی »

چه له غوږ وتې مقصود د مو می لښتې ده    چه له پوزې یې مراد مومی لونګ دی
« خوشحال خټک »

سپینه پوزه دی غوټۍ د زنبق ده    چه چاپیر ترې نور ګلونه د ګلذار دی
« خوشحال خټک »

## ۷- خال :

مخ وته یې ګوره چه په مخ لری خالونه    شه عجب زیبا دی لکه ګل د پیغمبر
« خوشحال خټک »

زه حیران د استاد وریځو په تور خال یم    کافر خه رنګ سجده کاندي په محراب کښې
ګل دده پرې بار یکې په شبنم خوړ شي    نازک زړونه بد وي په صاف جواب کښې
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خال دي په سرولیو هسې زیب کا    لکه مهر په مخ ن د د ر مرجا نو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه او به شنې کا    زړه مې شین شوستا دشنه خال له لاجوردده
« شمس الدین کاکړ »

چه ز خال و خط خبر ی یکښې نه وی    د عشا قو یکبلار د ا ترا نه نه ده
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ز دي    دا زما په زړه دا غونه آ تشین ز دي
« پیر محمد کاکړ »

شینکی خال د وروځو منځ د مهر و یانو    هم محراب دی ، هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متی زی »

زړه مې ځکه په سل ژبو گفتگوی کړي
چه شانه وهي په زلفو د نګار لاس
« عبدالله یوېلزی »

په لښکر د تورو زلفو یې تالا کړم
خدای دې نه کا حال کمان کفر د چا
« میا نعیم متی زی »

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې
زر عو نه کړه تر سنبل او سره گلاب
« میا نعیم متی زی »

زانګی پکښې زړو نه د عاشقو سره په ویښو
نه چه چیری کینږدی سره گلونه په اور بل
« میا نعیم متی زی »

کفرستان د شاه د تورو زلفو گوره
چه په څه ښاني تاویږی وایمان تـه
« خوشحال ختك »

که څوك وایي چه مار کله په کټ څیږي
زه خو ړنلی یم په کښې د زلفو مار
« عبدالرحمان مهمند »

که اره لکه شانه شم پری نه یی نږدم
که د تورو زلفو تار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

توری زلفی دی په لیچو باندی زانګی
ښا ماران دی د چندڼو په ښاخو نه
« خوشحال ختك »

دار بل په هر یو تار یی زړو نه بند دی
مشاطه ور باندی نور یسی په تارو
« خوشحال ختك »

که د دیدن حج اکبر کوی تلوار راوکه
چه پر سپین مخ باندی د زلفو تور اطلس لرم
« صدیق آخند زاده »

## ٨- زلفی:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندی
په زړه خو له لګوی مار د تورو زلفو
« عبدالرحمان مهمند »

رحمان ستا په مخ بی څنمو وهم مین دی
بیهوده دو ژ تـه کښینشو د دام په څه
« عبدالرحمان مهمند »

د ك مي د نښه لړ مون يه اور څیو
چه ستا د تورو زلفو په رنګه دی
زړه مشکین دی پکښې یې گور شو
له بخته خو بن یم چه بخت می تور شو
« عبدالقادر ختك »

په لیده یې پیچ وتاب شم نه پو هیږم
تر حلقو د زلفو مخ ئی معلو میږی
څه بلاده د شوخ چشمو په کاکل کښې
که گلاب راته ښکاره شو په سنبل کښې
« مرزا حنان »

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم
چه سنبل ورته خجل دی گلاب هم لا
« پیر محمد کاکړ »

خو دیه څو دی کله زلفی په مخ زانګی
واړه زهر دی چه څوزی په تور مار کښې
« پیر محمد کاکړ »

خیال دز لفو یی دز ړه نه چیدا کیږی
دی کیمی یو نبی پښکتیه شی تور حجاب
« عبد الله یو پلزی »

## ۹- خندا:

پـه بار بار د دخنـدا منت را بـا نـدی
چه پـه مـادی نظر وشوی پـه خنـدا شوی
«خوشحال ختك»

کله کله یه خپل قهر ایکښی مسیږی
لکه څوک که په هندو بار کښی دینداری کا
«شمس الدین کاکړ»

تبسم یی لـه دشنا مـه سره زیـب کا
قـدر ز یات لری ترخه چه شی شراب
« مرزا حنان »

## ۱۰- لاس:

د احتما د قا تل لاس دی نـه یو هیږم
که تر با غ وتلی لاس دی د سرو گلو
« عبد الر حما ن مهمند »

کوم دلبری زړه پـه سرو منگو لوړی
چـه لـرمیو ن د ویښو د کـښ دی د حنا
« شمس الـد ین کـا کړ »

سره نو کان دی دسرو گلو پـه څیر زیب کا
د واړه لا س چـه دی رنگ کړی پـه حنا
«پیر محمد کا کړ»

## ۱۱- حسن:

تـه پـه دا حسن د گل غـونـدی پیـدا یی
پـو ری مور کـه بنا پیرنی یی راوړی
« خوشحـال ختك »

ز ه رحما ن د هغـه حسن تـنا خوا ن یم
چه جر گـه دعا شقا نو وی پر پنـده
«عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفـتاب لـه گر مـه خو یـه
لکه گـل پـه نمن یت تـاز ه شبنم ودم
« شمس الدین کا کړ »

یو ښکلی مخ د فنـد هـار د کښلیو نښتـه
کښلی د کشمیر کـه دلا هو رو د کا بل
زړه دشمس الدین په حساب سره دری ځای کړ
یو طرف دی تیك شو بل دی نته بل چار گل
« شمس الدین کا کړ »

خـو بـرو نی یی دلبرنی خـه پـه کـارنده
لکـه ونـه بی میوی پـه بانو یو ره
« عبدالرحمان مهمند »

توری زلفی ښـتـه خالونه سره رخسار
ښځه طوطیان دی سره گلونو نور تمار
«یونس»

## ۱۲- جامه او گانه:

ارغوانی جامی یی واغوستی رحمانه
بیا یی جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه
« عبدالرحمان مهمند »

دعقیق د آب په رنگ یی تن معلوم دی
هره ورخ چه جامه واغوندی گلنار
« مرزا حنان »

نور دشمعی په فانوس کښله پټیږی
تا چه واغوستی دخیال جامی سری
«عبدالرحمن مهمند»

درسته‌دې له‌خیل‌غریو وا‌یستم خوشاله    یودغاړي هارمی د ګلونو مه‌شلوه

« خو شحا ل خټك »

## وښې

دا‌ملال‌دی چه‌لیدل‌شی په‌شفق کښې    که‌په‌لاس د ګل‌اندامی سپین‌وښی‌دی

« عبدا لر حما ن مهمند »

## ۱۳- عیش ، او دعشرت سامان:

دنیادار کړه چه نه‌وی ښې دلبرې    اوردې پورې ددنیا په‌ملك ومال‌شی

ارمان دادې چه به زه همیشه نه‌وم    همیشه به‌سره ګلونه کال په کال‌شی

د ګلونو وخت‌تېرېږی ساقی! ګرم‌ېې    که دجام په د کولو دې اهمال شی

« خو شحال خټك »

❀ ❀ ❀

ساقی ! پورته شه‌د‌مېو جام تیار کړه    عمرهیچ معطلی نه کوی‌تلوار کړه

که‌غمخوارغواړې‌په‌غم‌او‌په‌اندوه کښې    ښېښه د که د شرا بو اختیا ر کړه

هغه‌څوك دی‌چه‌تهمت پرې وا‌یه‌نه‌شی    غوز په‌هیڅ‌ابا ندې‌مه‌باسه‌خیل کار کړه

« عبدالرحمن مهمند »

❀ ❀ ❀

غنچه‌څښوه‌شراب‌ساقی!بیا‌به‌ارمان کړې    عندلیب نارې وهی چه‌بهار درومی

« عبدالقادر خټك »

❀ ❀ ❀

ساقی وخت دنوبهاردی شراب راوړه    دشرابو سره نقل دخولې مل کړه

« خو شحا ل خټك »

## رباب

په‌آواز مې‌ېې دزړه پرهار ګانه‌شی    مین څکه د رباب په ز یرو بم یم

« عبدالقادر خټك »

له مزینه زړه مې نرم او از څېږی    څکه‌خوښ لګه‌رباب په‌زیروبم‌یم

« عبد ا لقا د ر خټك »

باغ د ګلو نو ګنج د کتاب وا ی    رودوسرو دو نقلو شر ا ب وای

ښې‌ښې محبو بې ښه ښه احباب وای    خو ېې د عمر وخت د شباب وی

« خو شحا ل خټك »

## شراب

زمایار په‌خوب ویده دی چه‌ویښ نه‌شی    په‌پیاله کښې ساقی! مې‌تر پوه‌ورو

« عبد القا در خټك »

ګله ! نه چه د بلبلی مخ جار با سې    مګرستا په‌خیل‌ښایست امید‌مدام‌دی

نور چه تل د کې پیالې تشوی ښه‌دی    په‌یوه‌پیاله خوشحال‌خټك بدنام‌دی

« خو شحا ل خټك »

دا گلگون شراب د کومې میخانې دی
چه صوفي یې په جرعه سره مدهوش دی

بیا به دا گلونه نوی میخواری کره
د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی

« خوشحال ختک »

د رحمان شراب له عشقه
نه انگور نه له عنبه

« عبدالرحمان مهمند »

د گلو نو میو ناوې راسته ناسته
زنگاری کمیس اغوستې د مینا دی

« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو
وینم په کښې هر دم د خوبانو انعکاس

« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږی
معطل مه کوه ساقي! په داد و مل شه

« عبدالقادر ختک »

یو نفس د یاد پیاله له لاسه مه ږده
دا شراب حقیقي نه لري خمار هیڅ

« دولت لواني »

نن هغه شراب حرام دی
چه یې سی کا نږی له انگوره

« شیخ دولت »

ای ساقي د جام په ور کړه مستي مکړه
کاشکي یو هم پاتې نشي هوښیار دریغه

« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

گیځ ر نا د نمر خپره شوه
زما یر کور د و یر ناره شوه

د بیلتون و رځ تو ره تیا ره شوه
غبر شونا څا په چه بیلتون راغی

ز ده مې له دی ویر نې سین دی
په زړا ژاړم خپه ما ورین دی

زر غون له او بو مې سا دین دی
په نول نولیږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیا یم نه به بیا را شي
نه به تیا ره شپه زما رنا شي

نه به شڅې را ته بخلا شي
بیلېږي پېر یې اوس دیون راغی

❀ ❀ ❀

د ښبتن یار دی هیر مو نکړی
آ غلیه مخ چه په یا نه کړي

اور بل دې پر یښو وی وا ته کړي
په ما دبل اور کړوون راغی

« دا شعر د شیخ تمین بڼ کا کړ دی چه، د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

و یر مې زده سو ري سوري کړ
را ته و گو ره ملو کې ! !

په بیلتون کښې دي و باسم
له خوږ مینه زړه گي کو کې

را ته وگوره ملو کې !

را ته وگوره ملو کې !

د بلبلتون او رونه بل دی — هر گړی مې زړه گی سوځی
لبو نی یمه د مینی ! — سوځم زه لکه پیلوځی
راته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !

غوړ ولی دی اور بل دی — اور زما په زړه گی بل دی
زه بختیار خاوری ایری شوم — په اور سوی می گوگل دی
راته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !

❀ ❀ ❀

« قطب الدین بختیار »
« متوفی : ۶۳۳ ه »

جدائی دما په زړه کا هغه چاری — لکه بازی په تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد وبله بیل شی — خدای یی څه شکل د تش سلام محتاج کا
زما اوښې د گوگل په جوش پیدادی — لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوک چه د قضا له شسته خېژی — زمانه دخوشحال زړه ورته امـاج کا
« خوشحال خټک »

که داستا ستر گې راوچا رباسم ځانته — له بنادی به یی نور شاکرم وجهان ته
یوزمان مې که داستالیدل نصیب شی — نور به ستر گې پور ته نکړم گلستان ته
طبیبان دخیل دارو درسره کېږدی — تاو یشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندې تېر ېږی ستا په عشق کښې — خدای دې هسې حال پېښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه ډېر ژاړم — دواړه ستر گې مې پېغور کاو یاران ته
« خوشحال خټک »

اوس یی درد د فراقت زغملای نشم — لکه نی یم وهرچاته په فغان کړ
« پیر محمد کاکړ »

دفراق په درد کښې شوق د بوسې څه کړم — خو ز شربت په حال دمر گ د بیمار نښلی
« پیر محمد کاکړ »

مونږ له هواده تنها راغلی یو — د بڼ طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلم را باندې مکړه — د ښو یارانو فراق نتلی یو
« پیر محمد کاکړ »

د سحر چر گه خوږ شې په کومې — چه تا نارې کړې دلبر مې دروم‌ې
یوم‌ې دلبر ځی بل رانه زړه وړی — زړه مې بدا وړی چه دلبر نوم‌ې
« اخوند گدا »

دهجران دغم راتله په توره شپه وی — په هر چاور مـشـه بیـوختـه مېلمـا نه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ — په دریاب کښې نشته نمونځ په تیبا نه
« شمس الدین کاکړ »

وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره — دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځې بهاره!
ژاړی غاړې غرونه په احوال دعاشقانو — سیل د اورون دی چه رادرومې له کهساره

اوردخوږو زړودی چه‌دغره په‌ونو بل شو
غوا‌ړی چه‌احوال‌دفراق چنودرمعلوم‌شی
نورې ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی
رنځ‌مې نه کمېږی‌په‌زمان زمان‌زیاتېږی
مرګ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو
څه‌شو که لادم‌وهی په شماردی دژوندیو
هسې‌خواروزارشوم‌زخوشحال‌په‌عاشقۍ‌کښې

چه‌په‌وخت‌دتلوراتلو کاچیغار و نه

که هر څو دبیلتانه له غمه وا یم
په‌قد کوږ په‌تن‌ضعیف گوښه یولی

له بڼکیه وچاوده وخت دصبا شو
راشه‌چه‌بڼکل‌دي کرم‌اوس‌په‌بېلېږو

مین را یاد شو دا ستا له رنګه
که اشنا نه‌یی داشنا مثال لري

وخت د سحر شو پر یوتې تلې
د یار د راغلو وعده شوه تېره

د مني و خت ؤ و نې لېد لي
خوارې خسته وې وې‌مې سزایی

وړل‌دهجرپرما شرط‌مکړه په‌عشق‌کښې

دزړه‌وینې‌مې په کومه‌درشتي خورې
بیلتانه‌مې‌هډوپوست‌هسې‌وچ کلک‌کړه

د هند بار را نه آ هسته و وره !
د سا یی گل ؤ په نا ز لو ی شو ی

د هجران له ډېره غمه ولې نه مرم
چه یو یار له بله یاره جدا کېږ ی

سری ډډوزی خېژی له نېتره له چیناره
گوره هغه زانې چه جدائی څی له قطاره
راشه که بی اوري در باب له هره تاره
زر راځه طبیبه! گنه مرم د خدای د یاره
خدای‌زو‌په‌هنگام‌دوصل کېږی دادوه کاره
رنځ چه‌لا دو اشی طمع پر نکړه له بیماره
خپل دی که پردی دی راته‌نه‌گوری له هاره
« خو شحا ل ختك »

دهوا دیاران را یاد زانې‌ا کشر کا
« عبد القا در ختك »

خپل‌ژوندون‌مې دروغجن کاندي‌چه‌پایم
په مثا ل لکه ا بر و د د لر بـا یم
« عبد القا در ختك »

په هر مسجد کښې ا ذ ا ن ادا شو
په ځا ن ز مو نږ ه صبا بلا شو
« عبد ا لقا در ختك »

که یو د رنگ کښېږي زما تر څنگه
ځا ر شم قربا ن شم تر تا ملنگه !
« عبد القا در ختك »

له کښیه لو ر یـه را و خستلـې
په ډېر کـتـل مې ستر گې و تـلـې
« عبدالقا در ختك »

یو څو بلبلې چه ژړ ېد لې
چه بې گلو نو و یا شېد لې
« عبدالقا در ختك »

ز هر چا خو ړ لی ند ی په شر طو نه
« شمس الدين کا کړ »

هغه شونډې چه په شهدوشکر خوږ شی
دیار لاس می په وهل دخنجر خوږ شی
« شمس‌الدين کا کړ »

یار مسافر دی د ر پسره بی ژ ړ و ره
و تلی نه دی هر گز له کو ر ه
« شمس الدين کا کړ »

له دې هسې رنگه ماتمه ولې نه مرم
د د ي د هر له ستمه و لي نه مر م

چه په هر سحر زما په ژړا خاندی
چه‌په‌لمبه گرمی شا کاندي و گل ته

له دې هسې صبحدمه و لې نه ..ر م
ه دې بیو فا شبنمه و لې نه مر م
« عبدالرحمان مهمند »

زاروخوار عاشق‌دی چه‌په‌شپه‌دجدائی

درسته‌شپه‌بیخو به‌دا-مان ستوری شمېری
خو شحال ختك »

## کاغذ

مخ یې سپین ورق خالونه توری په کاغذ
دادی تما ما د محبت کمال طور و نه
ته‌کهٔ‌رادرومې گاهی گاهی‌په‌خطیار کړه
مه کوه ناتر سه د جفا ستم را باندې
وران به هر گز نه شی کښلی توری‌له‌ازله
ستوری د طا لع هم له جبینه معلو مېږی
مه گوره یې خط قلندره د یا ر مخ ته

سرو مال په دا عا شقان پلوری په کاغذ
یار له جدا ئی چه یار ژ غوری په کاغذ
نیم ملا قا ت و ینم ستا له لوری په کاغذ
کله کله یاد کړه خیل‌غمخوری په کاغذ
هرزمانی که ستر گې د چا اوری په کاغذ
څه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ
بی توروږ ندېږی چه‌څوك گوری په کاغذ
« قلند ر »

## ١٦ — ژړا

که گریوان می‌دسپوږمی‌دنمر‌مشرق‌شی
درحمان خندا په اجر دژړا ده

زه چه یار په ستر گو نه‌وینم تورتم وی
تازگی د گل په قدر دشبنم وی
« عبدالرحمان مهمند »

ناخبره یې له حاله شفق بولی

که دوینو په ژړلو کړم اسمان دوب
«عبدالرحمان‌مهمند»

بی دردان ئی‌لاس‌سرخی دشفق بولی

که په وینو کړم برجونه د آسمان دوب
« شمس الدین کاکړ »

زه دشمعې په خبر ژاړم تر صباحه

ته د صبح په شان خاندې له‌غروره
« شمس الدین کاکړ »

له ژړامی شوه تازه دزړه داغونه
خما دیار په‌زړه‌کښ جوروستم نشته

لکه تل چه شبنم اوری پر وښو
در وی ئی سپی رقیب را ته پرېښو
« شمس الدین کاکړ »

په سحر ژړا دېمنی نشا نه ده
که فریاد په زوره‌نکړم‌زړه‌می‌چوی

بلبلانو پر ي لوولی گواهی ده
که‌په زوره ناري کړ مه رسوانی ده
« مطیع الله پیر خیل »

هرسحر ستر گي د گل له اوښوډ کی

په دابا غ کښ ئی ژړلو خندانشته
« عبدالقادرختك »

روهي کلونه ( ٥٢٥ ) ب : سردار محمد ؛ م محمد علي خان ؛ ر عبدالغني ؛ ن رجب علي ؛ ه اجرائیه پښتوټولنه تاریخ ٧ - ١١ - ٣٢٥ ع

۱۷ ـ او ښکي :

څه اثر به زما او ښي پهتا کاندي

هومره او ښي مي بهېږي په رخسار
په ګرېوان مي تل داوښو باران وری

خدای پیدا کړم لکه اوښکې په ماتم کښ

یا کوم ستر ګی په اوښو دیار مخ ته

په ناولی مخ دیدن دښکلو نشی

له حسرته خپلو او ښکو برسر یودم

دا ورك زده غوادم پهاو ښويسي لځغلم

۱۸ ـ غم :

غم دي هسي غلبه شو په ما باندي
له ز ګېروی نهمي نور خلق پهعذاب شوه
زه دستا پهغم کښ شمعي غوندي ژادم
زدهمي ستا په اوری هسی او بزان دی
ماد ي ستا داند بڼو به غم کښ سوي
داد ستور دی چه لوی غم به سری ورشی
هرچه ما به نصیحت له تا جار باسی
سره لمبه ګوره چه څه کا به وچ د کی

هسي زه یمه دیار په غم تازه
ستر ګی وخورم که نې وچې کړم له نه ه .
زه به څه کړم دچا چاري بی دیاره
دیار نوی نوی غم زېږوی و صل
کهدي زده له غمه وچوی دلګیر مهشه
ښایسته یاران ګلونه دی رحمانه !

لا تازه شي او ر په او ښو د کباب
« عبدالر حمان مهمند »
چه غرقاب مي هم ګرېوان دی هم کنار
نه ور کېږی در جهان د زده غبار
« عبدا لر حمن مهمند
څکه برخه مي ژدا شوه له السته
« شمس الدین کاکړ »
ناروا دی په قران وهل خیچن لاس
« مطیع الله پیرخیل »
چه څوا وند نشی د اوښو په باران مخ
« پیر محمد کاکړ »
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله پوپلزی »
زخمی ښکار به بسل دوینو پیدا کیږی
« مرزا حنان »

چه مي ځای شی نه دننه نه د باندي
تل دوچو له کبله سوزی تاندي
ته زما به غم کښ صبح غرندي خاندي
لکه زلفي دي به مخ دی او بزا ندي
ددنیا اند بڼی واده لکه سپاندي
نور غمونه ئی همه شی تر پښولا ندي
بیا دي ستا به اوری دروی له ماوراندي
مخ دیار به ر حمان هسي چاري کاندي
« عبدالر حمان مهمند »
لکه وی هره ګیاه په نسیم تازه
که مي شی په دا ژړا صنم تازه
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
رڼوی سوی پر هر مر هم تازه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
بیلتا نه کړه اکثر مړا وی کم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

لکه غم د بختورو له خاطره

تل مطیع الله ځکه سرور په دود نغمې کا

غم دیار مې په خاطر کښې محکم بیا موند

جای نشین وغم ته تل په انتظار کښې

لاله افسوس کاد زړه له داغه
کفن ئې رنګین کړ دزړه په وینو

ګوتې چه پر نبض زماږدي ډېرې سوځي

۱۹ ـ رقیب :

سپې رقیب ئې کښېنولی دی په مخکښې

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
بې هنره سپی رقیب هلته څه غوښت

د رقیب وسرته وزی تېزی ناست یم

ماقبول د رقیب ناز کړ ستا دپاره

۲۰ ـ جفا :

ستا د عشق حرفو نه تورنه دی ګلګون دی
تش به نه شی هغه خم د عشق له میو
د دنیا چاری همه واړه فانی دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له ندی
در جهان دزړه خوناب مګر قبول شو

له خوبانو چه کوم د وفا طمعه

نن مې پیاله تورو سترګو سره جنګه دی
که پر هکړی سر په لاس ورله راشم

قسمت هسې لهښا دلیو کناره کړم
« عبدالقادر خټک »
دا مشهور متل دی فریاد غم پر ښا نوی
« مطیع الله پیر خیل »
په کعبه کښې مې صیاد د حرم بیا موند
« پیر محمد کاکړ »
رکالا یا نوی بندی یم د انګریز
« عبدالله پوپلزی »
پسر چمن نه دی خاطر فراغه
په ارمان ویست خزان له باغه
« شمس الدین کاکړ »
ځکه مې حیران شوو علاج و ته طبیت
« پیر محمد کاکړ »

هرڅوک زدی کوډی په مخکښې دباڼېز
« شمس الدین کاکړ »
ګڼه زه څوک اشنائی د زور ورڅوک
که ویارته رسیدای شوی په هنر څوک
« شمس الدین کاکړ »
پری برئې نږدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »
سوداو زیان په دا جهان کښې خوراو ورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

هم په داچه نوشته په جګر خون دی
چه ئې خاوری د فرهاد و د مجنون دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
چه په سره کفن له مځکې رابېرون دی
چه مخونه د دلبرو پرې ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »
کتوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »
پر لبانو ئې دزړه د وینو رنګه دی
لا په دائی باور نشی زړه ئې سنګه دی
« تیمور شاه ابدالی »

## ج : بديعي تشبيه گاني

خوله دې گل غنچه ده تور گيسو دې سنبل پاڼې
ښې ددې دزر کې سپينه غاړه دې دزاڼې

شونډې دې ژوندون ښې به ستر گو کړې خونه
ژ به دې شکرې ده د نښه په زړه پاڼې

هيڅ پرې نه پو هېږم دا دې زنه که منه ده
خال دې دې په رنه که دانه ده د مما نې

« خوشحال خټك »

کنه ولې د دوا ړو ستر گو ستا په طمعه
و هر لور ته مې نيولې کو ر يه کو ر دې

چه مې خيا ل د تر کوو ليد و يه زړه کښې
د وا ړه کسې مې و زړه و ته نسکور دې

« عبد الر حما ن مهمند »

مايه خوا ست وزارې خوله له يا ره غو ښته
د ه يه نا ز لکه غنچه سره و نغښته

شه خو حال ز ما تر غو ږه د يار ور و ړه
چه مد ام ککا پرتا خواب د ناز با لښته

محبو با پر پا انګ و ا و ښته يه خو ب کښې
که هو سئ ده د بهار پر گلو ر غښته

ثمر ه د بد فر ز ند ښکنځل د پلا ر دې
پيدا مشه نا خلف د چا له پښته

« شمس الدين کا کړ »

چه له خنگه د گلرخ مې اغيار کښېناست
په چشما نو کښې مې گل عوندې خار کښېناست

« پير محمد کا کړ »

آهو چشم پر سبز ه د چمن ر ا م شو
يا پر تخت د ز مرد شهر يار کښېناست

« پير محمد کا کړ »

که عشاق جنگ وجدل کاباندې څه شوه
پر گلز ار وې د بلبلو شر و شو ر

« پير محمد کا کړ »

کوم يه له دوه ؤښه دې سپين رخسار که چنبيل گل
کوم يوله دوه ؤښه دې تور گيسو که سنبل گل

« پير محمد کا کړ »

پر سينه د گلبد ن گر يوا ن پا ره شو
د غنچې له چا که ر نگ د گل ښکاره شو

« پير محمد کا کړ »

دا تو ر خط را غې پر مخ د گلعذ ار
که غالب شوه په کشمير پا ندې کفار

« شمس الدين کا کړ »

چه مې ستا د مينې د اغ په خا طر يوړ
ز ر غو نه به مې لا له شي له تر بته

« ميانعيم متى زى »

ميانعيم ناست دى ستا دغاړې البلونه شمارى
يکښې پراته دى هزاران زړونه پليلى صنم

« ميانعيم متى زى »

گو تې تو ر ې کړې په باى کړ ې دا پورې
زه حيران يم ستا د سپينو گو تو تور ته

« خوا جه محمد بنگښ »

زه درپسې درسته شپه پټ ژا ړم لکه شمع
ته صباخندان لکه گل واز گريوان دچاپې

« عليخان خټك »

یون ئې د تله رو ، در بده ئې دی د سرو    بېر کوی په بلهو کښې حمله ئې دسپاره ده
« علیخان خټك »

تما شا چه زه د خپل دا غو نو تـل کړم    هم گـلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

د گـلرخ په هوا در ستـه شپه ر فتـن کړم    دشبنم په څېر بښې یبلې سر سر تور تم
« شمس الدین کاکړ »

او ښې در ، ر نـگ گهر با ز ده لکه لعل    جنس مې دهر ولې رونق د بازار ته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیا ل ته مې خالی کړ د ز ده غو لی    مېلما نه لره تیا ر شی سرای د ستور دی
« مرزا حنان »

چه دي خیال په خا طر را شی مضطرب شم    لکه یېش چه د مفلس کره مهما ن شی
« مرزا حنان »

چـه تا و و یـنم تا ز ه غز ل ا نشا کړ م    یرې بلبلې فریاد کاندی چه گلعذاروی
« خو شحال خټك »

یـر خپـل ځای با نـدې ولاړ یـم لکه شمع    تـرغزل پـورې رفتـار کړم لکه شمع
« شمس الـدین کاکړ »

وخـت دی راغـی دفـدا کـه فدا کېـېزی    شـمعـه بلـه شوه تـازه پـتنـگـه خوځـه !
« جمعه بار کزی »

آفـریـن دې پـه ول ول تـوروسنبلـو    چـه ئې ځـای د پـا سـه ویښـو پـه گـلـو
« خوشحال خټك »

## قبیـح اوملیـح

کـه یو ځـلـه ئی پـه‌سرور باندې کښېني    رنـځ د هجـر بـه شـی د فـع دبیمار
پـه مـدار مدار بـه ئې کـازم‌چـه‌خوزنه‌شی    دبـانو پـه ستـې ستـاد یو نـدې خـار
« شمس الـدین کاکړ »

# دویم باب ــ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ١ ــ اخلاق

که د رنګ خوبي ئې ستایې بودیې نشته — په جهان کښ که باقي دي خو اخلاق دي
« خوشحال ختک »

په خو یونو کښ ډېر فرق دی — که سړی پر ي خبر دار شي
ځینې هسې خوی آغاز کا — چه خپل هم ځینې و بېزار شي
ځینې هسې خوی آغاز کا — چه پر دی ئې خد متګار شي
که څوک خپل خصلت ښه کا — تر سرو زرو به ړ و بېدار شي
« خوشحال ختک »

ثنا د ګل شي له ښکلیه بویه — صفت د مرد شي له نیکه خویه
اهل به نه کا ستا ینه هیچېري — د ګل له رنګه د مرد له رویه
« عبدالقادر ختک »

چه ګل همت ئې خوراک لباس وي — په تحقیق هغه ارذال الناس وي
شر ف په خوی دی په دیانت دی — که څوک شریف وي یا څوک کناس وي
« عبدالقادر ختک »

په ښه خوی د سړي قدر قیمت کېږي — بد خصلت سړی یا دیو دی یا پېری دی
چه ئې علم وهنر نه وي ځني تښته ! — بې هنر سړی که و ګوري لاشی دی
« خوشحال ختک »

په ښه خوی باندي پردی عالم خپلېږي — په بد خوی باندي خپل واړه شي سوا
« قلندر اپریدی »

که دي رنګ، بو، لطافت واړه دلحان کړل — نور د ګل په څېري پاس په دستار ګرځه
« فاضل »

دښه خوی ګټه ده ډېره — له ګڼلو ترانه تېره
هغه څوک چه اخلاقي وي — د هغه نوم به باقي وي
که دچا اخلاق ښه نه وي — د هغه به ژوند ښه نه وي
د اسلام دین دی راغلی — پېغمبر دی پا څېد لی
چه پوره کي ښه اخلاق — او پر ځای کي دا میثاق
په خویو انسان انسان دی — که نه وي خوتش حیوان دی
مکارم انسانیت دی — رذائل حیوانیت دی
« عبدالکریم کاکړ »

هر طرف پري سره ځمکه سره پنډه شي
په نسب که خان ، نواب قاضي قضات وی

.

لکه کښت لره باران اوباد په کار دی

۲ ـ په ځان باور « او » همت :

چه فلك سره سر باسی
کړه ئې ندی بی حکمته

په تېرو تورو ور درومی یکسر ننګان
د کنجکو قدر یو ، د در ویل د ی
ار تګـی د زړه دلیل د جنتی د ه
د باد شاه په سلطنت پوري خندا کا
نور ماهی ئې تار په تار درومی له مخې
دهاتی دپاسه سپور ورته پیکه وی

رب دي مکړه د اخلاقو پلـه سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزی پـه کنجلـه
« احمد ګل اسلمی »

د عالم تولی په خلق پـه احسان شی
« خوشحال ختك »

په همت کښي هغه ز ه یم
زه خوشحال دده په کړه یم
« خوشحال ختك »

پـه لـه بو باندې ځا ن ولی پتنګان !
ننګیا لو سره څه ژوی بی ننګان
د دو زخ دا ور لا یق د ی دلتنګـان
پـه سپـېر و ایـرو لړ اـی ملنګان !
ما تـو ی لـو اـي بـیـړ یء نـهنګان
چه د میو پیالي آخلـی سر هنګان

څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پرها ر ژ اـی پلنګا ن

« خوشحال ختك »

چه په غوښو ئې روز ګار هغه زمری یم
که عالم راته کل تا و کاغم مي نشته
پـه دانش پـه شعور نده پـه همت ده
هر پښتون چه د مغولو نو کری کا
چه منصب مي د مغل خوړ یو ملك وم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
نه مي کار په خاص وعام نه په دیوان دی
نه تصدیق شته نه یادداشت شته نه توجیه شته
هر ګیدی به چه له ما سر کوزی غوښته
پښتانه لره شړیء اندېر مي بس دی
آزادی ده په ساده سپینه جامه کښې
د وښو جونګړي هسي راته ښې شوي
که او ګره د بتو شته په شړو مبو سپینه
چه نیولی مي داهود دننګیء ونام دی
په بل غشی تویك هیڅ ویشتلی نه یم
چه شهپر مي بتی خیل وو کنډه کیرشول
د کریږ بنځـي مي توئې لکه باز کړي
تف پـه زیره د همه وا ډو بسار کو

نـه چه ولې ئې خوراك هغه مېږك یم
په رښتیا ویل د دېرو پو لیو لك یم
چه دا هسې سر ګردان لکه پتنګ یم
که د ی زر ، د هغو واډو بهترك یم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك یم
شکر داچه په خپل حکم په خپل وك یم
نه پـه درو لاړ د هر یـو ه مردك یم
نه پـه فکر د سند نه د دستك یم
د هغه د سر پـا تـوره پا کوتك یم
نه پـه فکر د مسندنه د تو شك یم
خلاص دغمه د زر بفت اود میلك یم
واړی ناست پـه مځلونو د آهك یم
د مغولو پولاو پانې دېر بري ډك یم
که له خپلو هوده وا وډم کنیزك یم
که ویشتلی یم خو بیا په خپل تویك یم
پر وا دار پـه لنډو پرونو دبارك یم
ګمان مه مکړه چه بی پرو ښا پیرك یم
لا زما پـه زیـره هم کـه زه بارك یم

که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی
نن خو قامرا سره ډېره جفا وکړه
که څه حق یا د نیکی یا دووروری شته
مهمندی زما د کلی لاس او پښې دی
ډېر چینی چه تراوش وکا دریاب شی
کر لانی څړ بنسی خو چه پښتانه دی
که مي عمر په شماره تر شپیته تېر دی
د افغان په ننګ مي وتړله توره

زه خو بیا د سبا کی انا خټک یم
کانده بیا د خدای وحکم و ته ځك یم
و بیا داش وته په طمع د هر یك یم
راضی من دافرید یو یه کو مك یم
چه ایده شم اوس خود ایم یو بولك یم
زه د ننګ په کار دواړو مشترك یم
لا په کار د سواری لکه از بك یم
ننګیالی دزمانې خوشحال خټك یم
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تیشه د فرهاد شه ده
تر هغه چه نا هوار لکه خا را یم

تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم
خو ش به طور دمك بې دست وپا یم
« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس وخاشاك په خپل گردن زده
حو صله دي په مثال د لوی دریا کړه
« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحر و بر
که څه سمه وی که فر

په همت به ئې تسخیر کړم
په شاها نه شا ن وفر
« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه
دون همت اندېښنه مه کړه بله بله
« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې دزمری په خوله کښې ور کا
خدای دې نه کا چه عارف پکښې غارت شی
« خوشحال خټك »

ځه هغه شهباز شه چه دې ځای په سردرو وی
نه لکه د کلی کارغه گرزه غم دنس کړه
« خوشحال خټك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله
که دچا به باغ کښې بوټی د کیمیا دی
« خوشحال خټك »

سردې درومی مال دې درومی پت دنه ځی
د سړ ی د چارې کل خو بی په پت ده
چه یې خدای ور کاو چاشکرد کاندې ندې
په جها ن کښې لو یه بخر ه د همت ده
« خو شحال خټك »

علم تا بیائی په یورته جهل تا بیائی په ښکته
یا عیسی اره وردرو مه یاقا رون ته ځان سپاره
د نباتو حلوامه خوره چه منت ورسره مل وی
خپل کشکاب د خپل محنت خوره په سر راوده پشتاره
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

هغه زیست چه د عز ت له مخه نه وی
چه یې کا به هغه زیست پورې هکه پکه یم
اوریې پوری په منصب په نو کری شه
چه تر فهم و تر نظر د مغل کک یم

به خپل نام وننګ چه را شم لیونی شم
خبر دار کله پهسود او زیان دلکه یم
چه به طمع د او د و ز غلی و شست ته !
ګمان مکړه چه هغه نا پوه سمک یم
تر قضا پور ی د هیڅا چا ر ه نشته !
او کنه‌تر زاړه ذئب لا زیرک یم
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی
نه‌چه ګرځی ګونګټ نیسی بادخو رکی یم

« خوشحال خټکی »

❀ ❀ ❀

که‌د جام لکه حباب وه نه نیو سیند ته
آفرین دي په همت شیدا خټکه

« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

به خو غره پهغره دباز غوندی پرواز کا
بیا به وا نی د خوشحال خټکی پرښته

« خوشحال خټکی »

ساقی جام دمیو مه بر بنز ده له لاسه
ځو دعقل څه زده وی لا به مست کښی
د بلند همت کښی پورته پورته درومی
شکسته‌شکسته ځی سری په پست همت کښی

« خوشحال خټکی »

چه همت د سړ ی ځو قدر ی هو مره
د تمیز په تله هر سړ ی تا له شی
د و لتمن سړ ی هغه بلـلی بو یه
چه‌له سینده نی جدا د چا واله شی

« خوشحال خټکی »

نو ره پښتو نخوا ه په ځا ی میشته د ه
خو یو زه‌دی زمانی په کښی منصور کړم
که‌یی درست دغو زور راته ښکاره کړه
نه‌به بیایه قوم کښی کښېنم نه‌به‌هور کړم
عجب مار می جا ر وتلی تر دوه پښو دی
مګر لوی یادو پیداشی چه‌یه دور کړم
مست ها تیان خونی زمری‌بهزنځیر کښېزی
بو یه دا چه ځان فلك وته تر بور کړم
به خپل ا ه مي باور شته اثر به و کا !
ر قیبا ن به او ر لړ و نی دتنور کړم
یودوه سری مارمی پروت پهدواړو پښو دی
به دیدن یی له نشا طه نه نفور کړم

« خوشحال خټکی »

کار به خپله تر دستی لکه حباب کړه
چه‌محتاج دخیاط نه شی پیرهن ته

« کاظم خان شیدا »

د باښی دباز نصیب شوی تازه غوښی
دوچ در بو بیخ نصیب شود سپیر کندی

« مطیع الله »

وزی تېزی پروت په خپل یوز کی ښه‌نی
نه‌په‌تخت دپاسه ناست دبل کره
دمنت پو لا و د ي ز هر شه که‌نی‌مومي
د محنت سو ی سکرك د ساګی سره

« عبد الحمید مهمند »

که‌د توان رسی به لوی‌دریاب کښی ګرزه
په بیله کښی د ي زوال ویـنم نهنګه
عاقبت به ککری ور با ند ی کښېنی دي
تر څراغ چه کېنی و ښی ګرځی پتنګه
هغه یار که په پا لنګ را سره نشته
داهم‌شکر چه‌نی‌بوی ځی له پا لنګه
دعمزي په تیغ نی‌خوږ ښه‌نی خوشحا له
مړ نی به روغ صورت نه‌ځی له جنګه

« خوشحال خټك »

که غوټې بسي وهي په لاس به در شي
که د جنګ په کار کښې وېر دې حکمتونه
څه عجب باد شاهي لکه خور شيد کړم
د منت دارو که مرم په کار مې نه دی

راشه ګوره نامردان بلا و هلي
د آسمان د پاسه ګنبت نندار وکا وه
مړ هغه چه هېڅ ئې نوم نه يې نښان شته
خوك په خپل همت کړل کا د اعزاز و
پسینه کړنه هو مړه فانیده نه کا
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی

بنسیا د د چارې په مصلحت دی
چه سره پوشي دا دولت و او که

مردان هغه دي چه همتنا کښتو ي
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض ګڼي

چه په خپل د خپلو وينو سر خرو ګرزم
چه په وازه خوله موندنه شي مه يې وينم

که د مځکې غوندې کوز په تواضع يم

چه همت دې د تېوس دی ځان باز مه کړه

هر سړی په موافق د خپل همت نظر اری نه

مردان هغه دي چه همتناك وي
چه غم پرې راشي پروا د غم نه کا

چه په شان د آفتاب ندی ګرم رو يه

چه همت مې نه کا وېر په هسکو او
سوال مې خوی له در افشانه ابر نه دی
د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته

چا وي دا چه په دریاب کښې ګوهر شته
خو صبا بېر نشي ز لمیه ظفر نشته
یکې تنها په جهان ګرز م لشکر نشته
که علاج لره مې راشي مسیحا هم
« خوشحال خټك »

د پرې میدان بېر پېژ دی او ي تېي زغلي
کوز د ځمکې د تلي په مېنځ کښې هلي
تل تر تله به ژوندون بیا ئې ښا غلي
چا په خپل همت ګدو نه دی کړ لي
چه په وخت کړ نه و کا بیر آ خلي
رنج و ګنج سره دا دواړه دي تړلي
« خوشحال خټك »

بیا د مړ د انو په شه همت دی
واړه دولت دی حرمت عزت دی
« خوشحال خټك »

د ننګیالي په کار کښې چست و چالاك وي
په زړه هم پاك وي په خوله هم پاكوي
« خوشحال خټك »

څه منت به دد و نا نو د دینار کړم
که صدف غوندې حاصل در شهوار کړم
« عبدالقادر »

په همت تر واړه پاس لکه آسمان يم
« عبدالقادر »

ځان په رسم د جانباز و جان باز مکړه
« عبدالقادر »

په ورد و چارو هیڅ کله کا ته نکا ندي لوی چاري
« عبدالقادر »

په هره چار کښې چست و چالاك وي
خوازه له هر چا په زیست وژواك وي
« خوشحال خټك »

ستا په سر کې په سایه دهما خوښ يم
« کاظم خان شیدا »

لکه موج نکړ مه بیم له پور ېو تلو
صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
په زړه دم بار لکه شبنم پر دوش د ګلو
« کاظم خان شیدا »

۳ ـ امید :

د شپې ځښتن دې سحر ته ګوري
هېڅوک دې طمع امید پرې نه کا

له مقصوده نا امید مشه پکلخته

دا دستور دی چه شپه و لوېږي په ځمکه

په ژوندون به لکه شمع دا سرد نه شم

هر ګره ګره کشا لري نېکبخته

٤ عزم او توکل :

د هوښیارو نادان هومره تفاوت دی
که په ما باندې څرخ خوري پروایې نکړم

نه رسي تر پاره هرچه ډېرې اندېښنې کا

هغه باغ چه تل ما واده د بلبلو
د زړه راز و چاته ووایم حیران یم
توکلت علی الله و ینا یو ده

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي

٥ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دې سستي وینم درویشه
نعمتونه رنګارنګ دي په هر لوری
څو طلب هومره موندل دي په دا دور
د عملو خوازه کله هغه مومي !

غشی چه ډېر ولې بهتېر انداز شي
کار د محنت دی د مشقت دی

هر مرغه چه د بل غوښې خوري مردار دی
د ذرې په خير دلمر په طالب ګرځه
کار په تش لستوني نشي بې دلاسه
چه تقوی د یانت نلري رحما نه

ګوندې پرې و خېژي د صبا ستوري
باران په تېز و کښېتو نو اوري
« خوشحال ختك »

خدای په ځمکه کامرغونه د هوا پېښ
« عبدالحمید مهمند »

په شتاب ور پسې صبحدم را ځي
« عبدالحمید مهمند »

چه تر مرګه پورې زما جانګزاري ده
« کاظم خان شیدا »

نا امید له خدایه غو ته چیرې مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

خو ځمکې د آسمان په مینځ کښې وت دی
د هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال ختك

نوري کیسې پرېږده د عشق په تو کل هسې
«خوشحال ختك»

اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر لوري چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال د زماني سره ساز نشته
«خوشحال ختك»

جمعیت مومي خاطر له توکله
«عبدالقادر ختك»

چه و نلي يې د دې خوني له ويشه
په غښتوني پا ندې نده جفا پېښه
بلکه لا تر طلب بخره مومي بېشه
چه حذر کا د مچې له بده نيشه
« خوشحال ختك »

چه مشق دخط کړي وخط ته ساز شي
ودو، ورو، په هر هنر ممتاز شي
«خوشحال ختك»

ځان حلال کړه لکه زانه شاهين مشه
لکه تېزه هسی پروت په زمين مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستين مشه
د دې هسې همنشينو نشين مشه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمری خپلی منگولی نه کا کېلی
هومره نه وی څرېې غوښې ورته لمې
مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا
چه قبول کاندی د بحر خولې چلی
عاشقان چه ترسر تېر شی هله ښکار کا
د دلبرو پستې خولې لکه ججلې
بازچه والوزی له جالې هله گوری
د کبکانو ښایسته ستر گې کجلې
چه داور بخری یاد سره رفیق شی
بیا ماله کا په ملکو نو لمبې بلې
چه سیلاب دغره دسره نه روان شی
بیا هاله بیاپی په مخ د بری خټلې
«خوشحال خټک»

* * *

په تحصیل پسې یې لکه کوښښ بویه
خپل هنر له لاسه مه پرېږده خوشحاله
«خوشحال خټک»

چه توده ترخه قبول لکه دریاب کا
هم هغه د قیمتی د ر و مهاب شه
چه لمبه یې دآتش کړه په ځان تېره
لهغه پسه د گلا بو گل گلاب شه
د کمال کسب پا یه دسعا دت ده
هغه ښه چه د کمال په اکتساب شه
ته هم زده مراد وغواړه له عمله
چه په علم یې عمل وکړ کامیاب شه
«خوشحال خټک»

ښادی غم غوندې آسانه موندنه شی
سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زر ندوهله څه حاصل کاندي چه گرزی
په زمان قراری مه کړه له طلبه
«عبدالقادر خټک»

له آزاره چا باز ار مو ند لی ندی
له انگاره چا گلزار موندلی ندی
تلوار مه کړه په خپل وار به برخه درشی
بې لهواره چا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شی پسی پاسه
له گفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطیع الله پیرخیل»

کار کوه کار په کار هم کار دی
تاوان په ځان باندې خالی گفتاردی
عقل څه بل دی خبری نور څه دی
گو تره گو یگه طوطا طرار دی
«عبدالقادر خټک»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندې
عمل هم ورك شو په مځکه باندې
او س په خبره پرول و پل دی
دا بیت بازی دی عالم یې کا ندی
«عبدالقادر خټک»

کله به لا دروهی لهمهاي دسحر خوبه
خوب بیغمه نه کا چه په مځکښ یې منزل دی
«عبدالقادر خټک»

چه منت په ځان قبول کا او راحت شی
چه عارف د مصیبت شی عافیت شی
«خوشحال خټک»

٦ ــ صبر او استقلال :

غشی چه ډېر ولی ښه تېر اندا ز شی
چه مشق د خط کړی و خط ته ساز شی
کار د محنت دی د مشقت دی
ورو ، ورو ، په هر هر هنر ممتا ز شی
« خوشحال خټک »

مړ تېي د هر چا نندي سره سمي
ته چه لافی د مردانو د میدان کړی
کا همه خلق یې سنز شه پخندانه

د مرد چه صبر چه استقلال نه دی
مرد دی یې هیڅ ده و زما په بوهه

اضطراب به دي خلاص نه کاله غذا

په تاسکه را شی نخاد نه لو یه
نه به یې دفع په صبرو کړی

صبرو نیسه په خکښ که مراد غواړی

ای حنانه صبر و کړه مراد به مومی

خلاص به نه شی سر کشان له گوشمالی

دا نا یی مه گڼه چه صبر نه لری
سړی د صبر په کار کښ و زمیه !

صبر نا کو سره جور فلك نه کا

ژوندی که گرځی خان یې ژړلی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومی

شورش مکړه د گردون له کشمکشه

**۷ــ هوخت اهمیت :**

دو باره دي را تله نشته په د نیا
هرهچار چه تروخت تېره شی عنقاشی
تر ورخ تېری او به بېرته نه جار وزی
تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی
هره نېه چه صحیح گڼه په زړه کښ
په عمل د نیکو بدو فهم و کړه

دخرد بار د فیل په شا باندي مثقال دی
په میدان دی کوم راوړی استقلال دی
بیچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال خټك »

چشم پری راشی پکښ خو شحال نه دی
که یې په جاه ودولت خوك سیال نه وی
« خوشحال خټك »

مستقل و ر ته په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر خټك »

تپښته تسلیم صبر ته بوه
نه په لبکر و په ز ر او ز و په
« خوشحالی خټك »

هیڅ کړی دغه کار په شتاب ندی
« عبدالرحمن مهمند »

د فلك ژر انده په وارده پس و پیش
« مرزا حنن »

چه فلك په جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شیدا »

چه صبر نه لری حکمت به څه لری
چه صبر ناك وی هر څه به ښه لری
« خوشحال خټك »

د فلك جور د چا چه سبکسار و
« خوشحال خټك »

تور زن د سر به وینو لړلی دی
ظفر له صبره سره تړلی دی
« خوشحال خټك »

اومه کلکه کا مرغی له اضطرابه
« اشرف خان هجری »

ن دي وار دی که دروغ کړی که رښتیا
عنقانه نېلی په دام کښ د هیڅا
نه جار وزی تېر ساعت به بېرته بیا
مړی چاری ژو ندی کړی به ژړا
په عمر و به ضعه نښه کړی خطا
چه به دا کښ دې بهو د دی که په دا
« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کا به وخت ورته موی

که د پېره سعیه کوښښ کړی څه شی
که هر څو مې په پېړی ملاج کا

آبشار ه ! ولې دا هسې ژاړې !
که تل فریاد کړې به کانې سروهې !

کړل دی ویل دی دواړه اوان لری
چه کار د تن ورځې پرېږدی صباته

۸ - زړه

شه سړی پردی په دلاسا په نیکی خپل کا

یو زړه د خوشحال ندی چه جهان پکښې ایده شی

دواړه ځکه نه لکه تن دی
زړه یې چون او بېچگو دی

خودې زړه خاندی خوله دې خندا کا
مدار دهرې چارې په زړه دی

د ناز ځکه او اطو ار مشکل دی
م مم یې نشته ګنډل یې هم لا

منبرو سوځه په اور کښې شراب وڅښه

که هزار ځله تقوی پرهېز ګاری کړی

قلب د دمومن ګوره ملقب په عرش الله دی

چه ذرې تو د نما څلو یې پروا وی

و ګوری واړه کاروانه خپل کا
خو کښې چه آرام ګټی د شکو نام ګټی

د هغه عالمو زړه پرې د و ښکو دی
« عبدالرحمان مهمند »
په وخت چه نه کړې بې وخته څه شی
په ژانګی چه کښېوزی پورې هاله شی
« عبد القادر خټک »
له چا فریاد کړې څوک بېسی غواړی
بیابه را نشی او به نچه لاړې
« عبدا لقادر خټك »
چه وخت یې تېر شی افسوس ار مان لری
هو ښیار به نه وی دا خوی نادان لری
« خوشحال خټك »

کومه شاغلنداده چه څوک بد کا زړه د یار خپل
« خوشحال خټك »
د هر چا زړه مرآت دی صفائی ورا ره بو یه
« خوشحال خټك »
ښکار د تن جو ړ وی زړه
څوك دا غمو شه ګڼی زړه
« خوشحال خټك »
چه زړه دي ژاړی ستر ګی ژړا کا
زړه دی مفتی دی هر ه فتوی کا
« خوشحال خټك »
په دا به پوه شی هر چه عاقل دی
که زخمی شو ی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »
در ته وا یم خود زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »
ښه دې نشته چه مدام دل آزاری کړی
« عبدالرحیم هوتك »
زار دازار جوړ چه د زړه په بازار پلوسی
« دالپوری حافظ »
تړو که زړه د سړی پوسی څه ښکار
« عبدالرحمن مهمند »
مردان هغه دی چه کار د بل کا
د خو زو زړو نو دارو به تل کا
« خوشحال خټك »

نه سره سم دی و اده مړ و نه ؛ | نه سره سم دی دهر چا زړو نه
زړه هم هغه گڼه چه اکه غرشی | که بیا ندی راشی هزار غمونه
«خوشحال ختک»

مرهم یه زړه‌زده پیه‌ړ هارونه | دا نیا به گل کړی نادان خارونه»
په هره سوړه لاسونه مه منه ؛ | یکښی به خوب کا خونی مارونه
« خوشحال ختک »

زړه دی دهر چا سره صفا وی | په‌چا گرم مه‌شه که‌دی رضا وی
که‌څو کی ناحقه اتا پرخاش کا | اند وه ئی مکړه ظفر به ستا وی
«خوشحال ختک»

### په بدن کښی دزړه اهمیت

زړه په مثل د پاچا دی | هر اندام د ده سپا دی
ټول د ده فرمان بردار دی | دی پادار دوی خدمتگار دی
کل اعضا یی مسخر دی | د ده حکم ته مضطر دی
په فرمان یی خوله ویل کړی | لاس نیول ، سترگی کتل کړی
په بدن کښی گوشت پاره ده | چه څکو چنو ئی یی چشمه ده
چه وی راست شی راست بدن شی | چه فاسد شی فاسد تن شی
پس چه شو صلاح فسا د: | تما می په زړه بنیاد
ته مدام اصلاح دزړه کړه | په هیڅ و خت غفلت مکړه
زړه په مثل گنجینه ده | د گوهر و خزینه ده
دیر پکښی دی جواهر | قیمتی نفیس نادر
اول عقل ښه گوهر دی | د جمله نعمتو سر دی
بل گوهر یی معرفت دی | زیات تر نورو په قیمت دی
نور علمو نه حکمتونه | واړه دی لوی نعمتونه
چه زړه هسی خزانه ده | د گوهر و گنجینه ده
پس لازم یی د ساتنه | له جمله وغلو رهزنه
چه دښمن یی تالا نه کا | جو اهر یی یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه‌غرقاب‌شی نورمژگان په‌نم‌دزړه | نورخراب شی خانمان په دزړه
عبث‌وای غم دزړه وبوالهوس ته | څه‌پوهیږی هلکان په غم دزړه
په بل مخ باندی سوا د یار له مخه | ما ترلی دی چشمان محکم دزړه
چه‌یی‌عرش او کرسی لاندی‌ترقدم‌دی | بالا تردی هسی شان قدم دزړه
دخلیل له کعبی ۱۰ کعبه ده اویه | که‌آباد کاڅوك ویران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه ز دی یه مځکه | مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامکان‌چه‌دآسمان مځکی‌ترمیان‌دی | یو خلوت دی دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چا غوادم بی‌یاره | چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتی همدان دېر دی په دنیا کښی | ولی نه مومی رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

همیشه په ځای د شکر شکایت کړي!
منکر پېژني په عطا د سبحان و الي!

در بېلي خدای دهري چه ري توان دی
په دېر توان کښې خپل ځان بولي نا توان ولي!

زړه د نفس په پیروی در څخه لاړو
د خبیث په لاس دي ور کړو قرآن ولي!

« رحمان »

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره!
خو یو مکړه آ زرده د مسلمان زړه

«عبدالقادر»

مرده دل دې له تقره زړه بیرون کا
یو ساعت په کور کښې نه پرېږدی څوك مړی

جمعیت چه لدنیا په نیا غوا ړی
هغه غړی په معنا د شګو پړی

«عبدالقادر»

هر څوك چه یو کار زړه خوله خپل دواړه
دو یم په نیت شی ثابت له واره

که کمی ورغی په دین د نیا کښې
تاوان یی واړه وزما په غاړه

«عبدالقادر»

هغه چه ستادی چه یی سائل نکړي
ویره مې کېږی چه یی د بل نکړي

که دادې خوی دی دادې خصلت دی
خپل به پردی کړي پردی به خپل نکړي

«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا به کېږی
به کړه د عا ګټه د عا قبلېږی

ازار د هیچا د ا خستو به دې
ښېری د خوږ و زړو نو لګېږی

« خوشحال ختك »

لتو مه ګنج دزړه په ویرانه کښې
پر و ا نلر م د شهر په عسس

«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښی یو وار بیا ولاړ نی
لکه چېر ته ابشکر دروی د سلطان دوست

« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بد خشان دی
بیا مشکل دی ر غول د شکسته ؤ

« خوا جه محمد بنګښې »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی
چه پراخ تر هر کشو ر دی هغه زړه دی

مکرم په مخلو قاتو کښې انسان دی
په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی

کم یی مه بو له بیحد ه مشرف دی
چه د خدای باندې نظر دی هغه زړه دی

دمکې حج خو موقوف په یوه وخت دی
چه مد ام حج اکبر دی هغه زړه دی

که هر څو یی صفت و کړم څه به و کړم
چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی

د زړه شان خو یو بیحد ه عالی شان دی
چه تر دېر خوږو خوږتر دی هغه زړه دی

سرچشمه د معرفت د لوی در یاب دی
چه محل د در ګو هر دی هغه زړه دی

څه سیالی به نیشکر ور سره کاندي
چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

دا د خولې په وېل حکم دقاضي دی
چه ظاهر وباطن دواړه يو رو ښان دی
هيڅ اشيا يې لـد فتره بېرو ن نـه دی
ژه نبی به يې نن کم هنر بيان کړم

چه مقبول دخدای په در دی هغه زړه دی
چـه د ا هـسي بلند لـمر دی هغه زړه دی
چه د درست جهـان دفتر دی هغه زړه دی
چه منبـع د هـر هـنـر دی هغه زړه دی
« عبدالنبی »

دلجوئـی به دي تمام وګړی و کړی

کـه ته هم د د لجو ئی په جستجو ی شـی
« قلندر »

داپند له مـانه په زړه کښې ياد کړه
زړو نه د هر چا په احسان ښاد کړه .

خو د ي لا س ر سـی مر و ت د اد کـړه
آز اد بنده کړ ه بنده آز ا د کـړه
« عبدالقادر خټك »

## ۹ ـ ژبه

قولا دی تو ره وی که لو يه تبه !
چـار يې بلا به د ر خخه وا و ړ ی

تر دا لا بنـه ده بد ګـو يه ژ به !
ژبه که بده کـړ ي د پند طا لبه !
« خوشحال خټك »

پهواك چه نه لري په کـام کښې ژبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی

که ګـنګـك شی ښه دی په لويه تبه
ايمـا ن لا هم ځی و ا وره طا لبه !
« خوشحال خټك »

خوږه مری ده کـه خو ږه ژ به !
هنر هم دادی کـه دا هـنر لـري

چه خولا يې خپل کـړی زما صاحبه
چـار به دي تل وی تر سيـا ل غالبه .
« خوشحال خټك »

که هر خو ښـر يې تـر صحبتو نه
لا به په ژ بـه ښـر فهم و کـړ ی

عـلـم اد ب لـر ي فصا حتـو نـه
د ژ بې د ښـر د ی قـبـا حتـو نـه
« خوشحال خټك »

ژبه عـا دت کـړه په ښه و يلـو
کـه يې عـادت کړي په بد ګـوئـی

چه دي عـا د ت شـی هغه تـر تلو
مخ به دي تور کـا تر ښر د و خپلو
« خوشحال خټك »

په مر هم د خوشامند سره روغ مشه

هغه زړه چه پکښې تيغ دژبان کښېنی
« پير محمد کاکړ »

په مجلس کښې دمهرويو ځکه ژاړی

شمعې هم ځکـا ره کو له بله ژ به
« عبدالله پوپلزی »

هر سړی چه شی ګويا لکه قلم

سر به يې شی له تن جـدا لـکه قلم
« عبدالله پوپلزی »

درست عالم به داخبره خبردار دی

چه بلبله خپلې ژ بې به قفس کړه
« خوشحال خټك »

سلامت کاروان به تېر کړی له رهزنه
که جرس رنګه نکړي په غوغا ژبه
« ملاجمعه »

که تازی ژبه هر ګوره ښه ده
چا یی پلو دجمال وانه خیست
فارسی هم ډېره په خوند خوږه ده
پښتو لاهسې بکره پرته ده
«خوشحال ختک»

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده
چه ښه مې لحیر کړ ښه یې خبرشوم
صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده
«خوشحال ختک»

جنګ دهاني او مزري آسان دی
چه خپله ژبه یی په خپل فرمان کړه
د خپلې ژبې آفت لا ګران دی
هم یې رستم ګڼه هم لا لقمان دی
«خوشحال ختک»

که څوک نیکان دی که څوک بدان دی
مه یی ستاینه کړه مه یی غندنه
په دا دنیا کښې چه په هر شان دی
ته به یې څه کړې چه دخپل ځان دی
« خوشحال ختک»

دهوښیارو ژبه پټه وی په زړه کښې
لېز اوډېر ویل به نکاندې بې ځایه
راز به نه وایی اشنا وناآشنا ته
هیڅ باطل ویل به نه وایی و چاته
«خوشحال ختک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو
دخوند مثال یې شکری وایم
خبري ښې دی ښه تر شکرو
قدري ډېر دی تر مرغلرو
« عبدالقادر »

لکه وړی له میدان ګوی داخه ژبه
نه یې شي وړای په تېره کړی شمشیر ګوره
« عبدالحمید مهمند »

که دین دنیا غواړی پرده پوشی کړه
که نه خاموش یې نه پرده پوش یې
فتنې له خولې پاڅی نو خاموشی کړه
بیخوده پر یوزه باده نوشی کړه
« خوشحال ختک»

سخی یې مه ګڼه چه نغن یې خوار نه وی
که دانشمند وی تفسیر په یاد لولی
پاتوری مه بوله چه پری پرهار نه وی
چه ډېر ویل کا دی به هوښیار نه وی
« خوشحال ختک»

ښې خبرې در ګوهر خاموشی مهر
دانا تل ځکه په خوله دغه خاتم ږدی
« عبدالقادر ختک »

د میرو میره دخانو خانه
دارنګ لویی به هاله روزی کړی
د جهانبانو جان او جهانه
که وې نیکښته او نیک زبانه
«عبدالقادر ختک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر اری — سیلاب تش لاس دی سیند امن پرلری
دسیلاب ګېډه د کانړو ډکه ده — بحر په ګېډه کښې قیمتي در لري

«عبدالقادر ختک»

له خامې جوش وخروش څېڅری له دېګه — دی له خپلې پخته‌ګۍ پختګان چپ
په ابو بهدي ډېوه شي دمراد بله — که صدف غوندې په صبر کړي دهان چپ
چه دانه په خاورو پټه شي خوشه شي — په ګو ګل دننه وساته ارمان چپ
دبلبلو ناري ښې نه دی پر ګلو — چه په سر ولمبو کښې سوځي پتنګان چپ
لکه کاه اوکهربا چه سره بولي — هسې پټه خوله بلل کاندي یاران چپ

«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کوه عبدالحمیده! — که یه ژبه اویزان شي لکه صبح

«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزماني کوه عظیمه! — مه له خولې نه څه وباسه مه څه وایه

«عبدالعظیم رانیزی»

صافدلان له ګفتګو په خفه کېږي — شي نفس دآئینې پرمخ غبار سخت

«مرزا حنان»

۱۰ اخلاص:

ګوره څه بلند مقام دی د اخلاص — چه جهان وا ډه غلام دی د اخلاص
که له ځمکې نه اسمان ته‌خاته ګران دی — د اسفر په یوه ګام دی د اخلاص
چه خبر کا مخلصان له علم غیبه — داهمه واړه الهام دی د اخلاص
در واج د رسم عمر مدام نه وی — لکه عمر چه مدام دی د اخلاص
بې اخلاصه حلاوت د اسلام نشته — که اسلام دی خو اسلام دی د اخلاص
څه عجب دی که مستان وی تري چاپېره — هر ساقي څخه چه جام دی د اخلاص
څه عجب دی که همای په دام ښېلي — هر صیاد څخه چه دام دی د اخلاص
درحمان کلام په داسبب شیرین دی — چه یې هر کلام کلام دی د اخلاص

« عبدالرحمان مهمند »

هرباغي بوزي بنده کاندي اخلاص — هر بې شرم شرمنده کاندي اخلاص
آب وتاب یې عالمګیر لکه افتاب شي — هر جبین چه تابنده کاندي اخلاص
هیڅ پروایې دحیوان په اوبو نه‌شي — هغه زړوی چه زنده کاندي اخلاص
هیڅ مقراض یې غوڅولی په خوله نه‌شي — هر پیوند چه پائنده کاندي اخلاص
هغه کار چه سحر کړ کاندي په سحر — تر هغه یې خوچنده کاندي اخلاص
سمدلاسه زوړ کافر دلو کالو — واسلام ته خواهنده کاندي اخلاص
دنفاق له اهله ځان ژغوره حمیده! — په لباس بدي ګنده کاندي اخلاص

« عبدالحمید مهمند »

هریاغی او هر سرشوخه هر بی شرمه
همه واړه شکسته کاندي اخلاص
پهنیکنوم پهعالمگیر لکهافتاب شی
هغه څوك چه همیشه کاندي اخلاص
دنفاق دشپې تیاره به رڼاورخ کا
چهسحرغوندي خندده کاندي اخلاص
کهبي پښولره راتقی ملامت یم
کهانسان لهدرنده کاندي اخلاص
« شمس‌الدین کاکړ »

## ۱۱ ــ راز ساتل :

چه بل خبر کړې د زړه . را یه
هوښیار په څه یې و ماته وایه !
هرچه هوښیار دی هنر یې دادی
خبره نه کا چاته بې ځایه
« خوشحال خټك »

دباد شاهانو به راز خبرمه شه
که یې خبرشې ځان ته غاورمه شه
رازیې دزړه په صندوق کښې وساته
په ښکا رول یې چاته لر برمه شه
« خوشحال خټك »

که چاته و کړې دزړه خبره
تا کبد یې وکړې چه وبې نغره
کهدي خپل ځوی وی گمان یرې مکړه
چه به یې نه کا چا ته ظاهره
« خوشحال خټك »

که پټځایه زر کې نه وښکې آواز
نه صبا د ځنې خبرو ، نه شهباز
سکه لیه دي خبرپهسې معلومېږی
چه خپل صوت دی هر سړی لره غماز
دمنصور وحال ته گوره حال ئې څهشو
خدای دې فاش دهیچا نه کاندې پټ راز
دربغه دربغه کهوروستی عقل دومی‌وای
دانجام خبرې نه شی په آغاز
چه منکر پرې اعتراض کولی نه ئی
دا دشعر دی رحمانه ! که اعجاز
«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مایوښتې دیار لـه حقیقته
څوك دیار خبرې کاندې واغیار ته
«عبدالرحمان مهمند»

خاص‌خلوت دښکلیو عام په‌وخت دخط شی
کم‌فوت سړی لهرچا سره راز کا
« عبدالحمید مهمند »

ځای په ځای به‌ستا دمال حساب کاوه شی
خپل اسباب د کاله مه‌ښیه مزدورته
«عبدالعظیم رانړیزی»

هوښیار به هر کله زمانه سازوی
په دانائی به یې د کار اغاز وی
نادان به هیڅېری په داخبر نه وی
پههرهر کاربه‌یې پټځایه راز وی
« خوشحال خټك »

زړه پټځایه مه را باسه و بازار ته
وایه نشی په کو څو دخلوت راز
«عبدالله یوسفزی»

منصوز راز ظاهراوه‌سوئی تهوخوت
د خلا خبرې کله په ملا شی ؟
« دالپوری حافظ »

۱۲- زر:

اوس په‌دا دور ماولیدل خوازه دی
زورو چار وو ته څه گوري دا گوره
څسکه‌څه‌چه د آسمان بنایست په‌زردی
شاهزاده بی زرو گوښی تنها گرځی
زور، قوت، حرمت هوري‌دروی چه‌زروی
هرمراد چه‌دسړی وی په دنیا کښی

په خالی کیسه به نرسی تر کامه

که‌هرڅومشکل کارونه درته‌پیښ‌شی
ماچه ولیده خوازه دی په نیا کښی

که‌پښوی په‌اوریخ کښی‌هم‌ترمیاشتی امر تیری کا

زردی‌چه ز برمه دننگ وشرم کا
دېر گران کارونه‌په زر آسان‌شی

زردي هرچاته اعجاز معلوم کا
وینځه میرمن کا خادم‌مخدوم کا

بادشاهان بنه‌دی په‌خوانو زر ښندی
زرسردا دواړه تو گو دېر گران دی

زربه بده ورځ په کار وی
دزر دار بلا په زرو
چه سپروی گذار په سپر شی

چاومانه نصیحت کړ چه زربه دی
چه‌په‌گور کښي خزانې لری دزرو
هرپادشاه چه خزانه ور څخه نه‌وی
هرسړی‌چه په‌نام لوی په‌دولت کم‌وی
په‌امثال یی دهغې مرغی مثال کړه
گوره مادهغه څر نگې ځواب ور کړ
ماوې مرد لره خونام بوی نادانه

تر پدر تر برا در تر پسر زر
چه صاحب دمسلمان کا کافر زر
ستوری زردی آفتاب زردی‌قمر زر
دهندو سره روان کا اننگر زر
دپادشاه په‌سر څوك کښیږدی افسرزر
دطلب په وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال ختك»

څه حاصل که بوعلی شی په قصو!
«خوشحال ختك»

فکرمکړه چه‌آسان به په زر نشی
خوسړی دې یی په مینه کا فرنشی
«خوشحال ختك»

همه‌عالم خبردی چه‌زر ښه‌دی له‌درمه
«خوشحال ختك»

صحبت د هرچا و بله گرم کا
زربه‌فولاد کښیږدی فولادهم‌نرم کا
«خوشحال ختك»

معدوم موجود کا موجود معدوم کا
زربه‌سندان کښیږدی سندان‌هم‌موم کا
«خوشحال ختك»

ځوانان‌پري ښه کا چه‌ورته‌سر ښندی
بوډوی و ښندی نه‌یی هربو ښندی
«خوشحال ختك»

هوښیار ځکه ساتی زر
د نادار بلا په سر
چه سپر نه وی لاس شی سپر
«خوشحال ختك»

تو اول به کا دزرو چه خبر دی
هغه کس که‌یك تنهادی زورور دی
عاقبت ورڅخه تار پتار لنډ کړدی
په‌معنا بدر نگه ښځه سپین خادردی
چه‌سینه یی کشاده تن یی لاغردی
پري‌په‌بوه‌شي هرسړی‌چه‌دا نشوردی
نه دزرو تولول چه بد هنر دی

که هندوخخه انبار انبار مهران وی
په مهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که په خره باندې دزروصندق بار کړی
خر به هیڅ پداښه نشی خر خوخردی
چه هنر یی دلویی وینویه لاس کښې
دهغه وجود پارس شو واړه زردی
«خوشحال ختک»

څکه نوم یی دزهب وربانډې کیښود
چه دباد غوندې هردم کا گذرزر
«عبدالقادر»

که زره سخی اری چه مال یی نه وی
په څان مې وليد څه حال یی نه وی
که باز داواړه هنر د ښکار لری
ښکار به په څه کوی چه بال یی نه وی
«خوشحال ختک»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه وینا کاندې چه یی وینه
دخاوند په لاس کښې زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی وینا یی اوری
ددرهم خاوندان تل وی په ویاړونه
که درهم یی ځنی ورك شو شی نتلی
پر نری یی وی په خړو پیژندونه
که بلوای سونی(۱)وبولی خلق وایی
داوینا ده رښتیاینه له رښتو نه
که بې وزلې ووایی ر ښتیا خبره
نور خووایی دخوسونی دی تېرونه
هو، درهم ښندی هرچاله لویه برخه
ددرهم دخاوند هرڅای پرتمونه
درهم ژبه ده که خوك ژبور کیږی
ده وسله که خوك به کاندې قتالونه
«ابو محمد هاشم ابن زیدالسروانی البستی المتوفی ۳۰۰ه»

چه نیستگاره شی که څوی داحمدشاه ئی
ترتازیات په دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

* * *

۱۳ ـ خپل قام :

هرسردارچه دخپل قوم دبدوخیال کا
آئینه دې دخپل ځان حال دجمال(۲) کا
پرې کوی ترخیلو پښو لاندې ښاخونه
چه بدی دخپل عزیز په زړه نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی
چه یی نفس دخپل بدوته لپوال کا
چه دبل و سرو مال وته هوس کا
ترهغه پخوا به ورك خپل سرومال کا
هم هغه به یکښې پر بولی دامثل دی؛
چه وبل وته کوهی کنی وبال کا
دهغو په خونه ییښ جنگ وقتال شی
چه هوس دچا دجنگ و دقتال کا
چه له خپلو لاس و پښو شی بیمجاله
له غلیم سره به جنگ به کوم مجال کا
په پردو مړانه نه کیږی بی خپلو
اه لحده دااواز جمال جلال (۲) کا
چه تر خپله حده پښه غزوی ورانډې
زمانه به یې جمال غوندې پایمال کا
پردی نجره هیچانده خپله کړی
بلکه خپله به پرې بایلی چه داخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

( ۱ ) لغات ؛ سونی : دروغ
(۲) جلال اوجمال ـ دوه نوموته اشارت دی . «خادم» .

۱٤ ـ وطن :

دوطن ونې چندن اګر دی
که سرای ونورو ته سنګېر دی

درزي‌لا ګزلری مقراض‌سوزن لری
کوچ‌یې اسان دی مشکل هیڅ ندی

هغه ورځ دهجرغم لره سرا شوم
ماهله ماتم دځان وکړ په ویښو
اوس‌په‌خه دوطن کانې‌بوټي ژاړم
بوناوکمې په‌دل لک‌راووړله کوره
په محنت‌می بورباض جوړ کړ په‌دهر
شین‌فلک په خندا سورشو له‌هوسه
بوپاڅو په د کن‌نشبه چه‌می‌دم کا

خاوري یې واړه مشک و عنبر دی
کاڼی‌یې مانه واړه سره زره دی
« خوشحال خټک »

بوجمدر ګوټی خو شحال خپرن لری
غم دیارا نو درد د وطن لری
« خو شحال خټک »

چه له یاره په ژړا ژړاجدا شوم
چه اتلك وته‌مي شاشو په ژړاشوم
درخصت سلام‌مي کړی‌تري جدا شوم
زاروچارمي دباغ ونه کړ خطا شوم
لامی ګل‌بوی کړی نه ځني سواشوم
چه‌هوړی جبل‌په مخزه ورته شاشوم
ګرفتار په کنج‌و کاو داژ دهاشوم
« اشرف خان هجری »

## د وطن په یاد

ستا دعشق له وېنودك شوځېګرونه
تاته را شه زړګی زمافارغ شی
که هرڅومی‌ددنیا ملکونه دېرشی
د ډیلي تخت هېرومه چه راياد کړم
در قیب‌دژوند متاع به تارپتار کړی
د«فرید»د«حمید»(۱) دور به‌یاراشی
که‌تمامه دنیایوخوا ته بل خوایې

خوار غریب او بېنوا وای
وا ته غواړ مه له هنده
خو ژوندی یمه تر مرګه
مېشته خوښ یم په وطن کښې
نه دي هند شی نه دي نوم شی
چېر هار کښې کلا شیخ وای

بی وطنه نهاپروت‌یم په‌غربت کښې
دهواداشنا په ستر ګو لیده نشی
قاصدان له روهه رانغله مدت شو

ستاپه‌لاره کښي بانلی ځلمی سرونه
بېي له تامي اندېښني دزړه مارونه
زماهېر نشی داستا ښکلی باغو نه
زه د خپلي ښتو نخوا دغرو سرو نه
چه په تورو پښتنا نه کا ګذارونه
چه‌زه وکاندم په هرلوری تاختو نه
زما خوښ‌دی ستاخالی تشد ګرونه
(احمد شاه بابا)

خوو طنه ! ستا په خوا وای
چه وطن بېر خه زما وای
هم هاغه آب و هوا وای
نه چه هند واړه زما وای
هما غه بېد بېد یا وای
رزق الله او مشغو لا وای
« خواجه رزق الله »

نن له ماسره همدم د صنم‌غم دی
که‌په‌خوب‌راته‌حاضرشی‌بس کرم‌دی
سلام بادرا رسوی منت‌یی تم دی
« اشرف خان هجری »

---

(۱) فرید : شېرشاه سوری · حمید : سلطان حمید لودین

پښتنی جونه دي زلفي بادته نیسی

خوبه فخر د کشمیر په دوشالو کړي

نسیمه ور شه د « سرای » سواد ته
سلام م و کړه په دواړه لاسه

که گذر به خیر ابادو کړي نسیمه !
په وار وار سلام زماورته عرضه کړه
ابا سیند وته ناره و کړه په زوره
گوندي وي چه بیا مي ستاسي جام روزي شي
چه سري اوبه دغره نشته په هند کښې
خدایه زړه مي په وصال دهغه خوښ کړي
همیشه به په هند نه او سی خوشحاله

نورجهان سقر شو بیا دي سرای دار القرار دی

دخوشحال دزړه خوښي نشي بی سرایه

دهواد یاران می هر زمان یادیږی

په په هند کښې چنبا گل دی
دسرای قدر نور چا نزده

درزی لا گزلری بیا ئی سوزن لری
کوچ یی آسان دی مشکل هیڅ ندی

چه شمال یی بوی راوړی په رنتمبور (۱) کښې
« اشرف خان هجری »
خوبه خیال کړي په اطلسو دفرنگ
« پیر محمد کاکړ »
له هغه په افضل آبا د ته
د رو د پوارو گل و شمشا د ته
« کاظم خان شیدا »
یادي گښت وشی د «سرای» دسیند په سیمه
ور سره زما د لوریه څو تسلیمه
و لنډی ته و ینا و وایه حلیمه !
په گنگا جمنا به نه وو له قدیمه
تري توبه که واړه ډك وی له نعیمه
داچه اوس ورځني لري دی دوه نیمه
عاقبت به عاصی ووزی له جحیمه
« خوشحال خټك »
کله به خوشحال دار القرار له وور دروی
« خوشحال خټك »
خپل وطن یی په هرچا باندي کشمیر کړ
« خوشحال خټك »
چه نی مخ په خوب کی ووینم ویاډم
«خوشحال خټك»
تر دا گل د وطن خار ښه
په خوشحال دی ترفر خار ښه
« خوشحال خټك »
یوجهدر گوتی خوشحال خبرن لری
غم دیارا نو درد دوطن لری
« خوشحال خټك »

## ۱۵ ــ مسلماني :

په دا دوه حرفه مسلماني ده
چه یی اوس به تولولو نه مرییږي

چه نه پسندي په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان
نیکانو سره زیست روز گار په مهر ومحبت کړه

په قوت به داسلام کړي

هرچه نه پسندي په ځان په چامه پسنده
همدا خپل دولت به و کایه تا شنده
« عبدالقادر خټك »
همداده که ته یی گوري په صحی مسلماني
بدانو سره زیست روز گار هم بویه لساني
«خوشحال خټك»
د کفار اینکر غارت
« دولت لواني »

---

( ۱ ) رنتمبور دیو ځای نوم دی چه شاعر هلته بندی و « خادم »

دمسلم نښانه داده که یې و ینسي

پـه مسلمو کښې خـاصـه مسلم هغـه دی

## ۱٦ ـ آزادی :

وهرچاوته چه و گورم فریـاد کـا!
په جهان به هیڅوك نه وی چه آزادوی
عقل وهوښ یې وړی وته پیدا کړ

چه سړي شړومې یې چښم په وخت داوړی

دحاتم دسخاوت خبري مـه کـړه

که یې ته په منت مومې وایې مخلـه

دمغل منصب مې پر ښودهسي خوښ یم
دانا دره عقیده لـکـه زمـا ده !
دمغل وته به هسې کـار ښکـاره کړم
آزادی تر باد شاهی لاتیري کـا

چه نوکری کـا څوك ډیر گـنده کـا
تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته

طمع پلاده اصیل بنده کـا !
ماډیر لیدلی دی چه طمع نـه لـری

لکه ونه مستقیم په خپل مـکـان یم

که دعقل څه اثر لري و سـر تـه
په نظر دهغو خاوره سره زر کېږی
بی منته جام دزهرو خـکـلی ښه دی
دیوسف له حاله زده که دغه پسه
دی فلـك وچاته هیڅ بخښلی نه دی
که له خدایه دوي خلقووته مخ شی
همیشه به در په در گرزی ر تلی
ددي سست بدن منت په رحمان باندي

چـه اول په شریعت دې استوار شی
« مرزا خـان انصاری »
چـه یې وشـلاوه زنـار ددی د نیـا
« عبدالرحمـان مهمند »

یوزه نه یم د جهان دی سینې خوږې
څنې عشق اندوه بنده کړه څنې لوږې
داچیچل دادل دپرانـگ دی یادیږي
«خوشحال خټـك »
بادشاهی داورنـگ زیب زماه غړ که
« خوشحا ل خټـك »
لا به دا کښې هم د طمع نیـا نه ده
« خوشحال خټـك »
که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیاوی
« خوشحال خټـك »
لکه خلاص داو یه بنده بند یوان شی
لا عجب که بل پیدا هسې افغان شی
چه راضی را څني روح دفریدخان شی
چه بل د حکم لاندی شی زندان شی
« خوشحال خټـك »
سړی ازاد وی خپل ځان بنده کـا
چه څوك په کور کښې خپله دنده کـا
« خوشحال خټـك »
ښه ښه سړی وی دائی گنده کـا
په بادشاهانو یوري خنده کـا
«خوشحال خټك»
که خزان را باندې را شی که بهار
«رحمان بابا »
لاس په سرمشه دهر گـیدی ودرتـه
هرچه نه لری نظر و سیم و زرتـه
نه هغه چه منت بارشی و کو ثرتـه
وایـه حـال د ز مـانې وبـرا درتـه
چه یې نه دی را پیرودی څنی پرتـه
له فردوسه به دي مخ شی و سـقرتـه
داستو گـنې ځای به بیانه مومې چرتـه
چه له خپله دره تلی نه شی بل درتـه
«عبدالرحمن مهمند»

زندګی که څوک یو هېږی حضور ده دی — آینده و رفته کله دچا یاد وی
« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښی کړم داحق سری دمدحې — نه مې زړه مومی اندوه دده له ذمه
دزلفېنو و تور حلقو دې عذار و ښم — که نسرین دې دی په زلفو کښې صنمه
« عبدالقادر »

چه مې شا کړه وښا دهوو ته ښاد شوم — چه د زړه مرادمې پر بهبود په مراد شوم
اوس څه غم نکړم له غمه بې غم ګرزم — راضي من چه دازل دویش په داد شوم
چه مې طمع ددنیا ور څخې نرې کړه — هغه کس که کیکاؤس زه کیقباد شوم
خان بازبه ولی کاروند دیز بد کا — له ښخانو څکه زه بې اعتقاد شوم
خدای مې بیا په کښې بندی مکړه تر مرګه — احتیاج عظیم زندان وه تری آزاد شوم
هم بې خان له غمه خلاص کړهم نیکنام شو — دپرمین په وروستنی ضرب دفرهاد شوم
بادې بوی عبدالقا دره سحر راوړ — شګفته لکه غنچه په دغه باد شوم
« عبدالقادر خټک »

چه خوښ له ګمه دلګیر له خاره دی — عشق له دو سینه بې اعتباره دی
نه شکایت کړم لچا ، نه شکر — دردمې له یاره درمان له یاره دی
« عبدالقادر خټک »

له بیخودنده آزا دی شوسه دسر وي — دګنې پخپر پخو بنده بندی بیا
« عبدالحمید مهمند »

وزی تنزی پروت بخېل پوز کی ښه نې . — نه په تخت د پاسه ناست دبل کره
دمنت پولاو دې زهر شه ! کې مومی : — دمحنت سوی مکړک له سا کټ سره
« عبدالحمید مهمند »

تخت وتاج ته په سر ګوز د همت نه کا — چه په داد ددهر یوه آزاده مرد وی
« اشرف خان هجری »

دافقیر دولت په مرګه هسې هوس کا — لکه ستړی مسافر وخپل وطن ته
زینهار حلت په هسې ساعت ور کړه — چه دنیا وریانې نه وی وکفن ته
« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره اپری — لاس له کار وباره وباسه که کار کړې
« عبدالرحمان مهمند »

هرګدای چه آزا دهوی تری قربان شه — باد شاهان دشام دروم که دختن وی
ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی — چه مشغول دخپل وجود په شکستن وی
« عبدالقادر خټک »

۱۷ _ انسانیت :

یوې اصل سره دوه او یا مذ هبه — خدایه څه بنی آدم فریق فرینشتو
« خوشحال خټک »

خلق نادیده دي په خبر و پسې تللي
جار ترعار فانو چه په حال دي پوهېدلي
دوه او یا مذهبه یکښې هومره قیل وقال
واړه سر هوا په خیل مطلب پسې دي تللي
د پیر دي کتابونه مشتمل په د پیرش حرفونه
کل واړه که ګوري له الفه دي تړولي
سل بېبې سل سیبه چه بې مارت په یوه ځای کړي
سل به بدل نه شي سره یو دي مالیدلي
واړه نور شمر دي هم دننه هم د بانډې
هر چېرته دانور دي په هر ښهر په هر کلي
زه خوشحال ختک یم د رندانو په مذهب کښې
نور ویل مي نزده مختصر مې دي ویلي
« خوشحال ختک »

ب : بابېزه خویونه

١ ـ بدعادات :

عادت لا ړ شي عادت له سري نه
خدای دي نه کاندي په بدو چار عادت خوك
« عبدالرحمان مهمند »

همېشه وي نرم چوب غذا د کرم
شیدا مشه مرد خالی له سیاسته
« کاظم خان شیدا »

ستر ګی به سوزي دخس له نامردانو
که همه لنګه ایري آتش نسب وي
« کاظم خان شیدا »

٢ ـ بی پته خویونه :

یو چه د پیر خوری سوګندو نه
بل چه د پیر کاندي پور و نو
آشنائی ور سره کم پره
دا بې پته دي خو یو نه
« خوشحال ختک »

٣ ـ کوزتیا :

تر هر څه بدد کجئي خطر دی !
کجی به نه کا چه دانشور دی
الف چه سم شی کجی یې نشته
ځکه تر نورو حروفو بر دی
« عبدالقادر ختک »

٤ ـ بدنیتي :

چه د پل په نامرادی کښې مراد غواړي
دا سبب ګڼه د خپلې نامرادی
« عبدالحمید مهمند »

٥ ـ بدګوئي :

چواړی د حلال خور په نامه بولي
له نو خلقو بد ګوئي نده ممکنه
ته چه بد له خلقو وائی زه و پرېږم
چېری خپله بدی نکړي معینه
له هغو نه به رومبی ستا عیب خرګند شي
چه هر چا و ته دي کړېده خنده
« عبدالرحمان مهمند »

مه پر چا غیبت تهمت وایه مه نپله
مه د بد نامه په هیڅ بنی آدم زده
« دولت لواني »

٦ ـ بېکاري :

د جمله بلاؤ سرتن اساني ده　　لټ غوبي شي خرڅاوه په قصابانو
فراغت د بېغمي په ملت کښ شته　　ښه امید د بېغمي کړي طالبانو !
« عبدالحمید مهمند »

٧ ـ ډېر احتیاط :

کل وسواس له احتیاطه پیدا کېږي　　زه له ډېري هوښیاري نه لېوني شوم
« عبدالرحمان مهمند »

٨ ـ تذبذب :

کمال د کفر تر ناقص دین ښه دی　　یا درست گمان ښه دی یا درست یقین ښه دی
چه کله د اشي کله هغه شي　　دا نا ته کله مذبذبین ښه دی
« خوشحال خټک »

٩ ـ شخصیات :

د زړه غلا په زړه کښ غم ده　　لا په تېره د سردار
هر سردار چه په زړه غل شي　　ځان رسوا کا خلق خوار
« خوشحال خټک »

١٠ ـ ظلم :

باز چه وېنې د ځیگر خوري مرگ یې زړوي　　له دي وېنو ځان ساته زما ځیگره !
که تر خه دی هم شراب د قهر نغره　　ظلم وجور په چا مکړه ځیگر وره
« عبدالقادر خټک »

چه بیهوشي د ډېره گیره پسې نړېږي　　ډېر په ظلم کښ څوک مه کوه گېر گوره
ماشي مر کاندي هاتي چه سره تول شي　　په یوه وجود کې مه گېره ډېر گوره
لږي لږي او په تولې شي ملکوران کا　　په لښکر جبر چېري نه شي دلېر گوره
« عبدالحمید مهمند »

باز کرگس شاهین جوړه تري په هوا شول　　چه ثابت د عندلیب شو په گلعذار حق
بلبلان طوطیان د فکر په قال ځانگي　　خدای کړ پوره ا دي باغه د مالدار حق
« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دي نکړا چاته وازی د آزار خولی　　دغه خولی ده په آزار کښ د ښامار خولي
په گر کښ بخته برج هسي میدان کړي　　یا تو بو بدی خولی دی یا دو یار خولي
د یوې خولې له آراره وو پېر پېښږه　　که یې مې دي دعا کا نه دي هزار خولي
چه پسرې راشي د مظلوم د آه سېلي　　کاله خاورو ایرو د کړي د مدار خولي
چه قوصر د آه سر دور باندي لگي　　ور به نشي د هغه چا د ېر هار خولي
چه اثر د مسیحا لري یو دم کښ　　خوږ وي دي هغه خلق په گفتار خولي
ورځ به شي د غم شپه په هغه خلقو　　چه پیاب بی بد دعا که هر سحار خولي
« عبدالحمید مهمند »

چه داغی یی سپین بشر په اور د ظلم
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی
چه نهال د ظلم کېنږدی څښی لاړ شی
آزادی که دي پکار ده شمس الدینه !

هسی خوښ د ظالمی په کار ولاړ دی

ر سېد لی تر مطلبه به خود نه یی

۱۱ قهر :
ما نی مه کوه حنا نه صبر بو یه

همېشه غو ته جبین یی ډ ك له کینه

د جهان کینې غصې واړه تر شا کا
دا پیدا چه خو د بینی ور څخه نشته
په کینه په حسد هېڅ د چا و نشی

۱۲ ـ تعجیل :
دانا وران کارونه جوړ په دانائی کا

په هنر هنر خبري کړه دلبره

۱۳ ـ حرص :
په غم د نورو و غم ته ساز مه شي
سړ ی په طمعه د بل بنده شی

۱٤ ـ کبر غرور :
دغه زور په چلوي تر کو مه پوري
تا چه تېز تېزه سمند د خو د را یی

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی
سېره ! هیڅ په تېتو و نو لو یی مکړه

په لاس مه شه باز پرور د ظا لما نو
هم آ ز ا ر دی پیغمبر د ظا لما نو
تریخ تر زهرو شی ثمر د ظا لما و
له مجلسه کړ ه حذر د ظا لما نو
« شمس الدین کاکړ »
نه به وا یی مر گ یی نشته تل به ژوی
« خوشحال ختك »
چه خوړی د د مظلومو د سر وینی
« عبدالله یوبلزی »

جوړ کارونه خشموران کاندي تلوارهم
« مرزا حنان »
له خپلواو و کورو کلی مرور یی !
« ملا جمعه »
که سړی پهوخت دقهر مر گ تر زړه کا
د جهان ننداري څکه دوه اېمه کا
هر سړی چه حسد کاندی ځان او به کا
« خوشحال ختك »

په تعجیل سره نادان کاندي‌هم کار کج
« عبدالقادر ختك »
تېزی مه کوه په هیڅ کار کښې د سره
« عبدالله یوبزی »

سیك و عالم نه په خپل آو از مه شي
د عا به دا کرم اخته په آز مه شي
« خوشحال ختك »

چه پوازي دي په ځان تمام جهان خوړ
ما دا ستا دېر پواته هله ارمان خوړ
« عبدالحمید مهمند »
په پلیتو اوبو نه کېږی او د س
ستا به همدغه قامت کاندي روزگار کج
« عبدالقادر ختك »

۱۵ ـ بېوفائي :

چه یې نه وینې وفا په رنګ وبوی کښې

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه

که یې اوی دزړه په وینو لکه ګل کړي

۱٦ ـ طمع :

څوك چه طمع له چا کا په حقیقت کښې

نه دی نفس لره جلب د ورکو لو
نور قیدونه و اړه سهل دي حمیده !

له هغو ترخه ویل شي د حق پاتې

سړی توب به دي سپېتوب کاندي دا طمع
هسې چاري به حرص در پاندي و کا

کهدي زړه وی چه پهای شي طمعه پرېږده !

که یاس له حقه تحقیق حرام دی
اصیل بنده کا خلاص شوی بند کا

شرموی هر یو سړی د دنیا طمع
همت ناك سړي که خوار وی دولتمن دی
د هغه د شرم بوزه په مخ نه وی
لکه څوك لوبی په خیله حیا کا ندي
لکه یو سپی چه هیچرې ختی ال هغې
د هغو د عزت پښه د ه بنو نږد اسې
ثل دخواست لاس به یې نیولی دی کو څه کښې
د حاتم د سخا وت خبري مه مه کړه

۱۷ ـ ریا :

در پا عمل مې طوق شو را تر غاړه

زر که څکه مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مهمند »
تو به و کازه له پلیه د بېوفا
« مرزا خان »
هم هغه به په زړه در کاندي شنه تا نده
« عبدالقادر ختك »

که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
« خوشحال ختك »
امو خته در پاندي غل او کا سېر مشه
خو به غاړه دي د طمع زنځیر مشه
« عبدالحمید مهمند »
چه په خوله کاندي خوږه حلوا د طمع
« عبدالحمید مهمند »
عزت و سا ته په صبر که د انا یې
چه په هیڅ شوي نه وی پنا به وا یې
« عبدالحمید مهمند »
څو دي طمعه چاته شته توا نګر نه یې
« عبدالقادر ختك »
یاس له مخلوقه د حق انعام دی
طمعه له خلقو د دام دی
« عبدالقادر ختك »
د سپی توب نامه حاصل کا په دا طمع
خاشکی ګوره نه کوی له دریا طمع
چه کوی د نس د پاره له چا طمع
هسې ما و ته ښکار پېږی دا ستا طمع
هسې ده د یو له پل نا صلا طمع
چه به دا زبیره له چا کا ندي بیا طمع
محمدی چه څوك کا پل ته پیدا طمع
لا پیدا کښې هم د طمعی نشا نی ده
« خوشحال ختك »

لکه څیور شي په ځیګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

۱۸ — بدي :

چه په بډو په رشوت کاندي حکمونه — تور مخونه به دوزخ ته قاضیان د رومی
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا — شرمنده به د دوزخ په زندان د رومی

« مطیع الله پیرخیل »

## ج: نصایح

دا همه له نا پوهی پیدا کیږی
پیر ځو ، شیه سلوك ، نمانځنه ، اوبل عدل
کبر جن حریص بی زده چه دروغ وایی
که وعده یی قیامت وی د غو شتني
که طالع یی ددولت په شربت ډك کا

چه دخلقو نیکخواهی اری په زده کښي
که یی غوږ د دانشمند په صیحت وی
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشی
د مردانو په معراج به ور تلی نشی
مختورن د دوادو کونو ندی څه دی
نیکبختان به اندیښنه کا ندی د نیکو
په هغه هنر کښي تینګیږ او سه خوشحا له

په دوستانو تلطف کړه خو په تاشی
د نماځه تر قضا ګر انه دا قضا ده
نورانی کا هغه ځای چه سره کښیني
چه په تشه تواضع کښي ګټه کیږی
که حاتم غواندي درم کړي د مهرانو
خو بدانو سره بدشی هوهره ښه دي
که دي سرځی که دي مال ځی که دي نورڅه
په ظاهر باطن کفران دنعمت مکړه
که راحت غوادي په ځان محنت قبول کړه
که دارو په خواست موندل شی مه یی آخله
که آسمان دي‌دزمری په خوله کښي ور کا
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښي

خپل استاد و ماته ووي خو پندونه
وي چه هره بدی کړه هغه بد مکړه
که دي زده وی چه بدنه موي له چا نه

خر خشي دعوي نا ساري شر و شور
که‌دي دا خویو نه شته څه‌غواړي نور
د یاری لایق نه دی دا خلور
ده‌وښیار سړی‌به‌نه وی په کار پور
یا آخر شی د کم عقل جام نسکور

«خوشحال خټك»

مبارك شه بادشاهی اری په‌زده کښي
څه عجبه آګاهی اری په زده کښي
هر سړی چه تباهی اری‌په زده کښي
که دسعی کوتاهی اری‌په زده کښي
چه هر چا سره سپاهی‌اری‌په زده کښي
ګمرا هان‌به ګمراهی‌اری په‌زده کښي
هر هنر چه سپاهی اری په زده کښي

«خوشحال خټك»

د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
چه قضا شی د خلور و مصلحت
دیرینه خلور هو ښیار په مشورت
هو مره سود نشته دډك طباخ دست
دیوي دمړی په چا مه زده منت
ولي عفوه کرم ډیر اری لذت
استو ار اوسه په کار د رفاقت
هوا خواه اوسه دخپل ولی نعمت
بی محنته هیڅوك نه مومی را حت
که دمر ګیږ و ته نژدي کاندي زحمت
دزمری په خوله کښي مه برېنږده هډ
چه یادېږی د سړی د خوی خصلت

«خوشحال خټك»

هر یو پسندی مرغلري دی لا لونه !
چه دلاسه دي آزار شی دچا زړونه
اول ته پرهېز ده د بدو خصلتو نه

دشهوت په لغوته مه ځه شهوت اور دی
ته کینه ، رخه ، حسد له هیچا مه کړه
د هر چا سره دښو سلوك بایده دی
ددنیا په مال دنیکو نوم حاصل کړه
د هرچا سره نری ملایمت کړه !
خپل پردی ته دخپل راز خبره مه کړه
خوشخوئی هر گوره ښه ده نه دا هو مره
هغه کار چه په ارمی تر سره کیږی !
و هغو وته چه قهر کړي روا دی !
دهغو په مرگ ثواب گڼلی بو یه
که دښمن دي ډیر زبون ته څنې دار کړه
ددښمن په تملق غلطی مه کړه
عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پریکا
چه دي لاس په دښمن برشی پري یی منزده
په خپلوانو باندي هومره خشم مه کړه!
دپاد شاه په مهر مینه غلط مه شه !
پاد شاهان چه په چا مخ کا نبدیء
په هغې معشوقی څه باور د کړو دی
د پیلیز پانهي خوره نه هغه پاستی
دبد خویه سره هیڅ بندی نه مه کړه !
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه !
په هر کار کښي چه در پیښ شی بیړه مکړه
په رښتیا که په دروغوی سوگند مه خوره
د حرص ستر گي مړي په قناعت کړه
که هرڅو دي علم ډیر چه عمل نه کړي
دښه دین دپاره علم ، دانش ښه دي
په جهان کښي که مردان دی هم هغه دی
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملگیری در ځنې بریکا
کهدي وروروی کهدي ځوی‌وی‌چه‌بد کار شو
چه بد فعل ، او بد غرض په کوم ځای ناستوی
چه په کالو وی مشران نه یی حرمت کړه
په‌هغه کور کښي چه ښځه چرگه بانگ کړی
هرچه شرع فرمائی په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دي زړه له وینو ډك شی و دښمن ته

پدا اور د ډیرو سوی دی گورونه •
دازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښي څه فایده د کوم سودونه
تل جهان و چاته نه پاینږدی مالونه
گڼدي وی چه پداخیل کړي دچاژډونه
دبخچی دننه ښه دی خپل ور ختونه
چه پهباغ کښي دي خربزی وهی‌خرونه
څه حاجت چه رسواوه شی تر جنگونه
چه اری دبدو فعل بد خو یو نه !
چه پی سوځی له شامته غاډي‌غرونه
په یوه شجري و سوځی ښا رونه
درستم غوندي هم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ور مونه
دما رانو په غارمه منډه لاسونه
چه پردی ورځنی تښتی په مکونه !
زورور په لږ گناه و هی سرونه!
و سپیندو وته ترل نهشی بند ونه !
چه‌په هر لوری یاران لری زرگونه
چه‌بی خوري دنو کړی‌په خوشرطونه
غلیمان ور لره بس دی خپل خو یونه
د گډ پر ؛ ونه خوازه لری گلونه
په تلوار ، سره ورانیږی‌جوړ کارونه
منافق‌وی چه‌ډیر ډیرخوری سوگندونه
چه په کور کښي دي انبارشی نعمتونه
ته حمار یې په تا ابلی کتابونه
نه پدا چه‌پری لوڅي پردی کورونه
چه و سختی و ته و نیسی لاسونه
دبدانو خو هم نور ښه وی مخونه
چه په لاري ترنا تیر دروهی ستاملونه
په خپیړوی کاږه کړه ور مخو نه
دهغو د ناستی تښته په گرو هونه !
بیا هغه چه دي په ځای وی لکه ترونه
دهغو خونو نه ځی بر کتونه
مه عمل کوه په رښتیا دو دونه
هرزه کار په‌عمارت کاندي خر خونه!
لږو ډیر په زبان مه راوړه غمونه

په هر کار بهتر لاس بروي په ځوانی کښې
په ځوانۍ کښې چه د کار نلاسه ووزي
همیشه او سه خو له پښه لکه ناوي
سر هغه په دنیا معقول په جهان څوک وي
که خبره کښه خدا کړي چکې چکې !
که دي زړه وی چه بې عیب دې ښکاره نه شي
که له تانه په قوت دمتو زیات وي
چه تواښېږي دهغې خبري لاف کړه
چه دښمنو کښی دجنګو خرخشې وی
که دی واور پدل چه بیا وبیله روغ شول
چه دښځونه بتر دی هغه څوک دی !
خدای هغه په دوازه کونه دی نما ځلی
چه دزړه په تامین دهغو نازونه
داصیل ښیوه خپل اصل نه ابناس دی

په پیری کښی چه هوس دی دناب کړي
داسته ګناه کوي توبه و کاږي
علم و کړي بیاعمل وربانديي نه کړي
په شپه پروت بی دمغان په میخانه کښی
له خالقه دي نه شرم نه حجاب وي

کړ د ګلو کړه چه سینه د ګلزار شی
نه چه بل په غشو ولي هسي بوه شه
کوهی مه کنه دبل سري په لار کښی
نه چه هر چاته بخوارو ستر ګو ګوري
آدم زاد په معنی وانده پوصورت دی
که نه نه کوی نظر دچاوعیب نه
دمتان کړیه لوده مخکه باندی مه کا
دمات لوښی او از کله ثابت خپژی
واذا حکمتم بین الناس راشه واوره
مدا ماچه لکه باز غوښې دقام خوری
جوړ وی نوی قصر ونه خبر نه ئي
فکر و کړه وخت کو ناه دی وږ لو ېږي

که طاعت که عبادت که نور کارونه
په پیرۍ به دي ونه رسی لا سونه
چه ضرور شی هاله و کړه دوه حرفونه
چه همیش په خنداسپین اری غاښونه
هره چار تر حساب مه کوه بیرونه
چاته مه شماره دخلقو پټ عیبونه
له هغه سره حجت مه کړه بحثونه
او که نه په دروغمه وهه لافونه
تهبي غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
نور په خپله وسله ووهه لاسونه
چه د ښځو سره کا مصلحتونه !
چه په ورځ کاعدل وداد په شپه نمځونه
تل نیاز منو سره وي دی نیاز ونه
په زربافو کښی یادم وی پامري ونه
« خوشحال ختك »

بیهوده ګمان په صبح د مهتاب کړي
لکه بت هسي په غټو سترګو خواب کړي
لکه طفل هسي لوبي په کتاب کړي
او د ورځي مخ په لوری دمحراب کړي
له رحمان ګوښه ونیسي حجاب کړي
عبدالرحمان مهمند »
اغزی مه کره په پښو کښی به دی، لاړ شی
چه هم داغشی به ستاپه لور ګذارشی
چېري ستا به د کوهی په غاړه لار شی
لاړ وبه به ستاصورت ترخاور وخوار شی
هر چه بل آزار وی هغه آزار شی
هر سړی به ستاد عیبو پرده دار شی
سر کوزی کوه چه پښ دي مرغزار شی
د هر چاعمل خر ګند پخپل ګفتارشی
حق باطل سره جدا کړه معني نغاره
عاقبت به شي بندی په پښو په غاړه
نن صبا دی ابا دی و پنم ویجاړه
د د نیا پر لانده بانړ باندي ولاړه !
« مرزا حنان »

تن چه صبح دی رو شانه لار صحیح کا
تا گهیا نه به دا صبح شب تا ر شی
لبزه ئي مه گڼه هر څو که گناه لبزوی
چه لبز لبز و سره جمع کړی بسیا ر شی
که بل بد کا نه دی ته به ورسره و کړه
هر یو نخل چه میوه لری سنګسا ر شی
تل و ښو و ته آ زا ر د بدو ر سی
هر چنجی و نرم چوب و ته دو ښا ر شی
هغه زده به له طوفانه به اما ن شی
چه کشتی غوند ی د خلقو بار بردا ر شی
خدای دي بدله لاسه نه کا او که وی هم
در حمان دي له کل بد و استغفا ر شی
« عبدا لرحمن مهمند »

اي مدا م د بل په کمه روا دا ره
نیکی نه کوی بدی لره تیا ر ه
قدم مږد ه پر عا جز میږ ی په ظلم
نه چه دغه پشه دی و مبتلی له ما ر ه
هر چه‌وړی صباح بي راوړی لبز که ډېر وی
دا چه نن یی بستم ا خلی له خو ا ر ه
کبر مه کوه چه کبر پر خدا ی ښائی
چه رانده په دا شیطا ن شو له در بـا ر ه
تکیه مه کوه پر مال فرز ندبی بسخته!
که دي مال که‌دی فرزند دی نا یکا ر ه
دا جل صیا د طلب د استاد روح کا
ته طلب د مال اسبا ب کړی نا قرا ر ه
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښ
دی بهتر له هغه گنجه بي شما ر ه
« مر ز ا حنان »

ډېر به ستا په سبب خواب دراحت وکا
که دمهد په‌شان ورك دځان ارا م کړ ی
« شیدا »

پند دی سو دمن واو ره تور زنه
ا سپا نه نده د سر بنند نه
مصلحت مه پر پږ ده د خپله لا سه
هم به خپل راز لری د ز ړ ه د ننه
« خو شحال ختك »

همیشه‌وائي چه خدای مي‌پیښ ندلی په‌یکی‌دی
که دی خدای‌وی پیښ‌ندلی‌مینه مکړه‌په باطله
په‌خپل‌حسن غره‌مه‌شه که‌په‌حسن لکه گل شی
زمانه به‌دی خپره په‌یوځو ورځي کا زائله
« خو شحال ختك »

د چا وخوا ن ته خا لی کتل مکړه
که تل دی خوان خو ر ی منت په بل مکړه
چه پری باور نحی هسی و یل مکړ ه
چه ما ل د بل شی هسی بیا تل مکړه
( خوشحال ختك )

منجم که در ته نحسه ا دینه کا
یا طبیب و تا ته بد ي کا شکر ي
په جمعه به و نمانځه و ته و نوزي
له شکرو به هم گرزي اري لري
په قران کښي چه شراب‌دی‌منع‌شوی
ته یی واي لکه پی د مور نغري !
« خوشحال ختك »

عاقبت به‌یی زده ترلاسه کړي حنانه!
لکه زلفي دنگار تواضع خوی کړه
« مرزا حنان »

لکه ځان ژغوری بربنده تېرو تورو     هسې ځېل سر له بېېرو دسحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوړوی په باطن سپوروی     په ژبه خوږوی په زړه کښې شوروی
ور سره مه کښېنه تا به تباه کا     سپین زر که سپین وی اثر یې توروی

« عبدالقادر خټک »

له همه واړه عالمه صلح کل شه     وښوېږدو خوشبویی ور ځکوه ګل شه
تعلق په تېرېږد و نی هوس مه کړه     په بهار کښې په زارو لکه بلبل شه

« عبدالقادر خټک »

څوك چه نرم ویل کا عمل یې کوره     تېګان هم په خوله ویل کا نرم نرم

« خوشحال خټک »

ښتن مومل دی     اوس مویر غل دی     هواد د بل دی
غازیانو ګوری     ښتن مومل دی
توري تېري کړی     د ښن مو پرېکړی     منګلي سري کړی
خله به تښتو     ښتن مومل دی
که تپنګه کړو زړونه     بر بری یو نه     چه زمری یو نه
اسلام راخځه دی     ښتن مومل دی
غازیانو راشی     تول شاؤ خوا شی     دشهاب په ملا شی
دښن موغوځ کی     ښتن مومل دی

« شیخ ملکیار غرشین ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب‌الدین غوری سره ؤ ، د غازیانو د تودولو دپاره درجزیه رقم ویلی دی . »

-------

# دریم باب: پښتو او پښتنوالي

## ۱- مېړانه او توره:

مرد به نه شي په گفتار
خو پیدا نه کړي کردار

چه دې و ښکنځې مرد نه یې
که له تا نه وي په دار

چه څه دي خو انتقام دی
د مردانو کار و بار

عفوه هور ته ځای لرینه
چه نه عیب وي نه یې عار

چه عزت و رخته نه وي
هغه مرد نه وي په کار

هم مهره لري هم زهر
ښه مردان دي لکه مار

چه هم تندر هم باران وي
تر هغو ځوانانو جار

مرد به غم د خپل ننګ کا
نه د زر نه د دینار

مرد به غم کا د خپل شرم
د عزت د اعتبار

نا مرد فخر په نسبت کا
مرد نه مور لري نه پلار

د خوشحال خبرې گوره
لعل و در پېیي په تار

« خوشحال ختک »

یا د سپېنې توري مرد شه یا عاشق شه
چه یا د ښېږي په بدلو په سندرو

د خوشحال ختک خوښي په هغه وخت وي
چه بر ښښا د سپېنو تورو شي د زغرو

«خوشحال ختک»

د نامرد، د مرد به دا تفاوت وشو
په نامرد، شرم آسان دی په مرد گران دی

مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي
که د سروېره دی نه شي کار آسان دی

کاشکي ته به دا دنیا همېشه پا یې
به احتیاط احتیاط کښې د ېر خلق طوفان دی

که د ځان که د ایمان بدخوامي د ېر دي
ما به خدای پانډي سپارلی ځان ایمان دی

ننګیالي چه د اخلاص توره په لاس کا
د ېر لښکري د همت بوري کاروان دی

په ښادي سره شریک دي اولسونه
غم یوازي د خوشحال ختک په ځان دی

«خوشحال ختک»

مرد دی نه شي پاتنده پوره
چه مېړه و نه د کارزار دی

خوك چه شته تر شرفه غر به
د تورزنو خند مسخار دی

«خوشحال ختک»

د رست پښتون تر قندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ و آشکار

په داسي وخت، چه وخت د نام و ننګ دی
دا بې ننګه پښتانه کا څه رفتار

پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دي
بې د توري خلاصي نشته په بل کار

تر مغلو پښتانه په توره ښه دي
که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار!

«خوشحال ختک»

میړنو له تښتې شرم دی یو نسه !

څه سړی څه یې تدبیر !
که جهان شي تیره توره
بې تقدیره به و نه مری
بې اجله مړ ګې نشته
لکه کار د مړنی دی
د غازیانو شهیدانو
کل ګټنه ده د توری
مړنی دی چه یا د ښځی
چه په دروغ د توری لاف کا
توره نجره د خوشحال ده
تر اوو پښتو پوری
دا د ځان ستاینه نه ده

چه په توره یې ځواب ورکړی مردیده

چه مین په وسله نه وی
لاس دی سره کا ستر کې توری

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای
مجلس د خاصو کتاب په مینځکښ

د زنانو په حساب دی مردان مشه
شړی ور پښتون به سل په ډکه یوسی

د بلا نه د اختیار توره به لاس کښې
تند رهم زمانه ذاته نه پیدا دی

چه جنګیالی وی دولت هغه مومی
دا دواړه توکسی سره تړلی دی

چه ځان غواص کا ګوهر هغه مومی
دا کا رمي خوځله به ځان را غلی

د نصیب له پښتې ماړوه جلب
« یونس »

هم هغه شی چه تقدیر
ستا به مرګ شی خلق خیر
نه په توره نه په تیر
تیغ و هنه مکره تقصیر
هسی کار نه دی د پیر
پیر و انشته د سعیر
که کابل دی که کشمیر
په سندر و هم په ویر
د هغو نه یم د لکیر
کال به کال خلق خبیر
وا ده مړه به تیغ و تیر
حقیقت وایم په ځیر
« خوشحال ختك »

که وجوددی خوك آزار کاندی به چوب
« خوشحال ختك »

مرد دی نه وائی خیل ځان ته
ځان دی و جوړ وی ځوان ته
« خوشحال ختك »

ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای
نقل د تورو و خت د شباب وای
« خوشحال ختك »

چه له زیبه له زینته هم آغوش وی
کشمیری چه بغرګ شالونه یې په دوش وی
« خوشحال ختك »

وقضا و ته تسلیم په شان دمړه یم
په سپین زړه که د یاران سپینې اوبه یم
« خوشحال ختك »

چه ننګیالی وی عزت هغه مومی
خوك چه محنت کا راحت هغه مومی
« خوشحال ختك »

چه بې ننګی واخلی دلبر هغه مومی
له سر چه تیر شی ظفر هغه مومی
« خوشحال ختك »

ستار قیب کله زما په مخ را تلای شی    دمړو و جنګ ته نه د رومی عو رتې
« مرزا حنان »

چه‌زری شی میاشت آخره شپه را خیبژی    پټوه ځان له عالمه په افلا س کښې
شپې ورښمني جامی خوی دار تینو دی    دمېره مړانه نه ځی‌په کرباس کښې
له یارانو اخلاص تلسلی دی حنا نه !    گذران د زمانی شو په لباس کښې
«میرزا حنان»

د میدان په ورځ چه تښته کاله جنګه    یا تې هیڅ نشی باقی له نام و ننګه
له میدا نه تښته کاردی د زنانو    مر د به نه تښتی له غشی له تـفنګه
چه د تورو په بر ښنا یی وار خطا شی    مور یی مه وای په هغه غولا تی انګه
د ضرور په ورځ به تښته له گید ړ کا    چه همېش کاندی خوښی له نای وچنګه
د عزت صدقه سر د سر د نیا ده .    مړ نی به شرم سرور کا بید رنګه
«یونس»

## ملی وحدت

ژو له یو دی که غلجی که ابدالی دی    ښه هغه چه یی ښیښه د زړه صفا ده
چه عمل یې د نیکی وی مېړه هغه    که اغوستې یی گډ له د خامتا ده
«احمد شاه بابا»

۲ ــ ننګ اوناموس :

چه ننګ کاننګیالی دی‌ورته‌ابښي دی‌دوه کاره    یا کام‌دننګ حاصل کا یاددوی‌مینه سپېرېږی
«خوشحال خټك»

چه د ننګ به چارو نر ندی خوشحا له !    که یی نر وینی په ستر گو هم ماده دی
«خوشحال خټك»

کاشکې ځوان دپښتانه به ننګ کښ مړوی    نه چه گور لره روان شوم له تلتکه
چه دقام به ننګ کښ ومړ هغه ځو یه    په عالم کښې دخیل پلار غاړه کا لکه
«خوشحال خټك»

څه یو ازې ننګ به مارا غلی نه دی    پښتانه د پر دی په غرو نه به سمو نه
چه ښور وا خوری دمغلو واړه سپی دی    د سگانو به خو له څه اخلم نو مو نه
گور به هم به ژړا سر کړم که یی ور وړم    زه خو شحال د زړه دا هو مره املو نه
« خوشحال خټك »

چه د بل ننګ و ناموس سا تلی نشی    و به نه ساتی خوك خپل ننګ و ناموس
« عبدالحمید مهمند »

دخپل رنځ د درد علاج را څخه نه شی    په حکمت که ارسطو و افلاطون یم
د گلزار خو په هوس شپې ر نړو مه    امو خـته لکه شبنم په دا شبخون یم
تلخ ویل پر رقیب څو کوې ومـا ته    آخر زه شمس‌الدین ننګی ارم پښتون یم
«شمس الدین کاکړ»

خو وا نخلي له غلیمه انتقام
مرد نه خوب کا نه خواړه کانه آرام
چه د ننگ او د ناموس اندوه یې نشته
د هغه سړی به نه وی احترام
« خوشحال ختټک »

نام وننگ افغانی مې ولاړ بر هم شو
انصاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله یوپلزی »

واړه ننګي د پښتانه دی گدا نه ځی
حال یې ورځ په ورځ زبون دی ستا په غم کښې
«خوند گدا »

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره
یا به و خوری ککری یا به کامران شی
« خوشحال ختټک »

ننګیالی د ننګه د یاره
په هر څه لګوی اور
سر به باد د سړی پر هوزه
چه یې نه وی ژو ندون نور
چه په نام و ننګ اړ نه وی
که تل ژوی مخ ئې تور
د جهان بلا دې کل وی
خو دې نه وی ویی (۱) سپور
« خوشحال ختټک »

سر په دار لاړ شوی ښه دی
نه لاړ شوی په پیغور

---

۳ – ټینګښتیا

قول و بول په ژوندون نشی بد لولی
ځکه ځان په جهل و ژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

ځان به مړ د عشق په جهل کړم ناصحه!
وا به نوړم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

ددنیا ناوې به بیا به نکاح نکړم
که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانړیزی»

زما څه بې اعتقاد ه عقیده ده
چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ »

د مرد چه نه وی وینا محکمه
په ده به نه شی در غلمه سمه
چه یوی ژبه وی یو ه خبره
خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال ختټک »

٤ – ښه ځوانی :

جار شم قربان شم دپلار له پنده
را ته یې ووې زما فرزنده !
لذت دور کړې تر ساتل ډېر دی
خوی خیر ندی ممسك له خوند ه
« عبدالقادر ختټک »

دلو یې په مقام به ها له کښېنې
که د ور کړې دمرانې په وزرځې
«عبدالقادر ختټک »

---

(۱) ویی : لفظ ، کلمه .

د خپل ځان دیاره‌ئیم درم اسراف دی
چه په بل خونه ښندي بی اسرافی ده
« عبدالقادر خټك »

تواول کېښول دزرو ښځې کا ندي
ور کول بازل یی خوی خصلت د نرو
« عبدالقادر خټك »

چه شجاعت کا دنیا په کف لری
نوم به د نیکو په هر طرف لری
هر چه حاصل کا دا د واړه خویه
هغه میراث دشاه نجف لری
« عبدالقادر خټك »

که ځوا نمردی بل آزار مه کړه په گلو
ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف
« عبدالقادر خټك »

چه گټل خورول بخښل کا ځوان هغه
چه‌تو ره لری د توري خان هغه
کان د لعل ودریا فوت و گوهر څه دی
چه احسان تري پیدا کیږي کان هغه
چه ئی ته په گېره وخوري حیطه شی
د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه
که‌دمال دی که دملك دی که‌د لیچو
چه ئي توان دچا یکار شی توان هغه
په‌تما مه‌شپه په ورځی میاشتی کال کښې
چه‌د خدای په یادو در ومی آن هغه
چه‌دخوك دوړاندی روستوځی داخه شی
په تنها وجود چه شان شی شان هغه
و نور چاوته وران مه‌وایه خو شحاله !
چه قول عهد وران شو وران هغه
« خوشحال خان خټك »

که پښتو ن شی گدا گر د کل جها ن
غگ ئي تلملی دد ودی دی تریونان
هسی شه مهما ن نوا زه خلك نشته
لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغان
که‌بهردر ته‌مرزی شی خویه کور کښې
له ادبه ځان میر ئی کړی تابه خا ن
ده‌رچاځای له‌چه‌ور شي‌بي تکلیفه
کټ‌یو زی در ته تیار وی آش و نان
« میر احمد شاه رضو انی »

**٥ ـ د پښتو نولی غرور :**

زه له ځایه د ماغی په جهان را علم
ماد هسي د ماغ سر ندی را وړی
له اصلی فو لا ده هله تیغ ر غیبز ی
په‌وار وارچه ځني لاړ شی و سنیخړی
« خوشحال خټك »

که‌زه گوری‌درد آشامو سره شماریم
خوار هغه چه ئي له‌ما سره آهنگ دی
هر ملخی دسر بازی هنر څه زده
چه په دا هنر کښی سر ښندی پتنگ‌دی
لا تر او سه ئی ماغزه په قرار ندی
چا چه ما سره و هلی سر به سنگ دی
د گیندیو په ځیگر کښې ئي گولی‌دی
که لیدلی چا دما د ښکار تفنگ دی
لا په خوب کښې به لرزه پر یوزی‌له کټه
چه دچا ترغوږ زما د توری شرنگ دی
که په‌دا د رومی گو رې هغه زه یم
چه مي داغ په‌خاطر ایښی داورنگ دی
در ست جهان می ومغل و ته خپر کړ
ځای په ځای ئي پښتانه وته قلنگ دی
ځنی څه لویه دعوی لرم په زړه کښې
ولي څه کړم‌چه پښتون واړه بي ننگ‌دی

خو طالع را سره هسي مدد نه کا
دخو شحال دزړه دحال ننداره وکړه

چه زما د در وېزي په کچکول نحير شي

هسي ر نګه له دي ځا له تنها خوښ یم
تر هغه چه خشک طینت د صحرا و یم
چه شاړه بی له اقمي و زی مګس شي
چه په شان د آفتاب نده ګرم رو یه
چه په قید بی د قفس کړم لکه زرکه
که پیدا ر لکه تصویر له خوا به نه شو

جهان شرم نام و ننګ دی
چه وفا و رخه نشته
چه یی عشق تر سره کړی
په ښا غلیو جهان ارت دی
چه خو شحال با ندي نا ستی کا

اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه سره زر وو
اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه زمری وو

د حاتم غوند ي مي خیل و حشم نشته
سخاوت مي په تقلید په رسم ندی
په وګړ ی مي خبر ي د مر دی شته

هر چه کاندی نوکری د باد شاها نو

مطیع الله له موره پلا ره هم سوال مکړه

در و بزه له در و بزه ګرو نا کسی ده
چه رښتیني سیده صاف نه وی حمیده !

هسی فخر شمس الدین کاندی به عشق کښي

دروغ ویل هغه کاچه یی وېره وی یا طمع

ګڼه تېر تر فر یدونه مي فرهنګ دی
که په تخت دیاڅه کښېني هم ملنګ دی
« خوشحال ختک »

دحاتم په زړه به سهم د سوال پرېووت
« عبد الحمید مهمند »

چه مد ام لکه وحشي په صحرا خو ښ یم
لکه موج او اره په دریا خو ښ یم
کله زه د هغه خو ان په صلا خو ښ یم
ستا په سر که په سا یه د هما خو ښ یم
تر دا هسي خند ا ز ه په ژړا خوښ یم
په دا حال له خپله بخته شیدا ! خو ښ یم
« شیدا ختک »

که دا نه وی جهان رنګ دی
ګل به څه کړي چه خوشر ننګ دی
نور څوك نشته خو پتنګ دی
په غو و لیو با ندی تنګ دی
دا بو زی ندی اورنګ دی
« خو شحال ختک »

په خپل دور وا ړ و ښه تېر کړ خپل وار
زه هم نه یم د ګیدړو په قطار
« خوشحال ختک »

په عطا کښي له حاتمه برابر یم
زه له ځا یه د سخي پلا ر پسر یم
په همت کښي په هر لوری نا مور یم
« خو شحال ختک »

خا مخا به د در با نو منت بار وړی
« عبد الرحمان مهمند »

سل بلا شر مندګی د ی په سوال کښي
« مطیع الله پیر خیل »

د فلك کچکول ته مه ګوره کچکول
بو لی بو لی عاقلان دا هسي بو ل
« عبدالحمید مهمند »

لکه فخر کړی پښتو ن په خپل نسب
« شمس الدین کاکړ »

خوشحال په دالږ نه دی حق به وایی خو یی سرشته
« خوشحال ختک »